د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د کډوالو او راستنېدونکو د چارو وزارت

# د داخلي بېځايه شويو ملي پالیسي



د لیندۍ ځلورمه-۱۳۹۲

**د سر خبرې ، د ډاکتر چلوکا بیانی د داخلي بېځایه شویو د بشري حقونو د ملګرو ملتونو د ځانګړی راپورټر لخوا**

زه د داخلي بېځایه شویو دژوند د هغو خرابو شرایطو شاهد یم چې په افغانستان کې ورسره مخ دي. د افغانستان په ډیرو ولایتونو او ښاری سیمو کې بېځایه کېدنه یو واقعیت دی. نارینه ، ښځینه ، کوچنیان ، د ډیر عمر لرونکي ، معلولین او داسې نور وګړي اړ کړای شوي چې له خپلو میشت ځایونو څخه لرې ژوند وکړي. حال دا چې یوه برخه د دوي له لسیزو را په دې خوا په بېځایه کیدنه کې ژوند کوي. په افغانستان کې وسله والی نښتې ، شخړو ، نا امنیو ، وچکالی او داسې نورې بدبختی همداراز ویستنه د داخلي بېځایه کیدنې پراخ لاملونه دي. ډیری بېځایه شوي څو وارې بېځایه شوي دي او په پراخه کچه اغیزمن شوي. پایښت لرونکې حل لارې د بېځایه کیدنې د پای ته رسیدنې لپاره ښایي د بېځایه شویو په آند نا شونې وي خو دا باید زمونږ لپاره په لومړی هدف کې ځای ولري.

زه د افغانستان له اسلامي جمهوری دولت ، مدني ټولنو ، نړیوالې ټولنې څخه چې په افغانستان کې دي مننه کوم ، چې د دغې ملي پالېسي په جوړولو کې چې د بېځایه شویو لپاره د یوې ښې هیلې راوړونکې ده ، برخه اخیستې. مونږ له ټولو کسانو څخه چې په کابل او ولایتونو کې د پراخو مشورو مشری لره ، چې د دی ډاډ راکړی چې دغه پالیسي د داخلي بېځایه شویو واقیعتونه له کومو سره چې هغوي مخ دي بیان او انعکاس کړي ، ترڅو د دوي د ژوند د ښه کیدو یوه استراتیژیکه وسیله وي ، مننه کوو.

زه هیله لرم چې دغه پالېسي به د ژمنتوب او همکاري په هماغه روحیه چې جوړه شوې ، پلې هم شي. یوازنۍ لار چې مونږ ورته د رسېدو هیله لرو او کولای شي د داخلي بېځایه شویو په ژوند کې بدلون رامنځ ته کړي ، هغه د دغې پالېسي پلي کول دي.



داکتر چلوکا بیانی

**د مطالبو فهرست**

**۱. سریزه**

۱,۱شالید اوپروسه

۱. ۲ د اصطلاحاتو تعریف

۱. ۳ په افغانستان کې د اخلی بېځایه کیدنې شرایط او ځانګړتیاوې

**۲. موخه ، د پالېسي چوکاټ او اصول**

۲. ۱ موخه

۲. ۲ د پالېسي چوکاټ او اصول

**۳. داخلي بېځایه شوی**

۳. ۱تعریف

۳. ۲ د داخلي بېځایه شویو ځانګړې زیانمنتوبونه

۳. ۳ د داخلي بېځایه شویو پیژندنه او ثبتونه

۳. ۴ بې ځایه کېدنه کله پای مومي

**۴. د تولنو وندی او مسوولیتونه**

۴. ۱ د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي مسوولیتونه

۴. ۲ د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو وزارت

۴. ۳ همغږه کوونکی نهادونه

۴. ۳. ۱ د کډوالو ، بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لپاره د همغږی او بین الوزارتي کمیټه(ICCM)

۴. ۳. ۲ د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره (ANDMA)

۴. ۳. ۳ د پېښو پر وړاندې د مبارزې کمیسیون (NCDM)

۴,۴ پلی کوونکی دولتي ادارې

۴. ۴. ۱ د داخلي بېځایه شویو په وړاندې د اړونده وزارتونو او دنورو حکومتي ادارو سکتوري مسوولیتونه

۴. ۴. ۲ ولایتي او نور سیمه ییز چارواکي

۴. ۴. ۳ د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ( AIHRC )

**۴. ۵ د نړیوالې تولنې ونډه**

۴. ۶ د افغانستان مدنی ټولنه

۴. ۷ داخلي بېځايه شويو او د دوی ښځه نورو اغېزمنې شوی ټولنې

۴. ۸ د پالېسي ښځه ملاتړ

**۵ . د غیرقانوني بې ځایه کیدنې د مخنیوي لپاره اړین گامونه**

۵. ۱ شخړې ، نظامي عملیات ، عمومي تاوتریخوالي او له بشري حقونو ښځه سرغړونې

۵. ۱. ۱ جرمي کړنې او له بشر حقونو ښځه سر غړونې

۵. ۱. ۲ د قوانینو بیا کتنه

۵. ۱. ۳ قومي او قبیلوي شخړې

۵. ۱. ۴ چاودیدونکي توکي او د جګړې پاتې شوني

۵. ۲ طبیعي پیښې

۵. ۳ پرمختیایي پروژې

۵. ۴ دجبري اخراجونې /ویستلو مخنیوی

**۶ ، په بیړني پړاو کې بې ځایه کېدنه-مرسته او لاس رسی**

۶. ۱ بیړنۍ مرستې او ملاتړ

۶. ۱. ۱ اصول

۶. ۱. ۲ بیړنی غبرګون

۶. ۲ بشر دوستانه مرستو ته په لاس رسي کې ستونزې

۶. ۳ اسناد او مدارک

۶. ۳. ۱ عمومي معلومات

۶. ۳. ۲ د پیژندپاڼی په اړه

۶. ۳. ۳ د نورو لادرکه شویو اسنادو په اړه

**۷. بېځایه شویو ته د مرستې برابرول او ساتنه**

۷. ۱ د بېځایه شویو بشري حقونه او امتیازات

۷. ۱. ۱ د ژوند ، وقار ، ازادي او امنیت ساتنه

۷. ۱. ۲ د میشت کیدلو حق ، دځای دبدلون او د ناپیلی سفر حق

۷. ۱. ۳ د مناسبې سر پناه حق او ځمکې ته لاس رسی

۷. ۱. ۴ د معیشت/ژوندانه حق

۷. ۱. ۵ خوړو او کاليو ته د لاس رسي حق

۷. ۱. ۶ روغتيايي خدماتو ته د لاس رسي حق

۷. ۱. ۷ د کورنۍ ملاتړ

۷. ۱. ۸ د ښوونې او روزنې حق

۷. ۱. ۹ له ملکيت څخه ملاتړ ، او د اوښتي زيان دجبران حق

۷. ۱. ۱۰ د بيان آزادي او اطلاعاتو ته د لاس رسي حق

۷. ۱. ۱۱ د برخې اخيستنې حقونه ، د رايې اچونې د حق په ګډون

۷. ۲ اوږد مهالې بې ځايه کېدنه

**۸. پايښت لرونکې حل لارې**

۸. ۱ عمومي اصول

۸. ۲ ستراتيژي او کاري پلانونه

۸. ۲. ۱ ولايتي کاري پلانونه

۸. ۲. ۲ د پلې کيدنې (تطبيقی) ملي پلان

**۸,۳. راستنيدنه**

۸. ۳. ۱ د راستنېدنې شرايط

۸. ۳. ۲ د راستنېدنې لپاره د شرايطو برابرول

۸. ۴ نورې پايښت لرونکې حل لارې: سيمه ييزه يو ځای کېدنه او د هيواد په بله برخه کې مېشتېدنه

**۹. تمويل**

**۱۰. څارنه او را پور ورکونه**

**ضميمې**

لومړۍ ضميمه: د داخلي بېځايه کيدو په اړه د ملګرو ملتونو لارښوونکي اصول

دويمه ضميمه: د اړوندو وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو مسووليتونه

دريمه ضميمه: د پايښت لرونکو حل لارو لپاره د داخلي بېځايه کيدنې د ولايتي عمل پلانونو د جوړولو په اړه والیانو ته لارښوونې

څلورمه ضميمه: د اجباري اخراجونې په حالت کې د ضرر او زيان د کمولو لارښوونې- دافغانستان حمايتي ګروپ

## ۱. سریزه

### ۱.۱ شالید او پروسه

ښاغلی حامد کرزی د افغانستان اسلامي دولت جمهور رییس ، او د افغانستان کابینې ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت ته لارښوونه وکړه ، چې د داخلي بېځايه شويو لپاره يوه ملي پالېسي چمتو کړي.

پالېسي د پراخو سلا مشورو د يوې پروسې له لارې چمتو شوه ، چې د افغانستان د کډوالو د بېرته راستنېدونکو چارو وزارت په مشري تیاره شوه. د بین الوزارتي د همغږۍ کمیټې د کډوالو ، بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزير ډاکټر جماهير انوري په مشري ، د داخلي بېځايه شويو د پالېسي د کاري ډلې مشر داکتر عبدالصمد حامی ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو د وزارت مرستيال او ښاغلی مهر خدا صبار د بيړنيو مرستو د رياست رييس له دې پروسې څخه ملاتړ وکړ.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري UNHCR ، د ملګروملتونو دبشر پالنی مرستندويه اداري (UN-OCHA) ، د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) ، د ناروې د کډوالو شورا (NRC) او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون (AIHRC) استازو په منظمه توګه په پروسه کې ګډون وکړ. او همدارنګه د افغانانو لپاره د مرستو د همغږی اداري (ACBAR)، د افغانی سرې مياشتې ټولنې (ARCS)، د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداري (ANDMA) ، د روغتيايي چارو د ارتقا او مديريت اداري (OHPM) په نامنظمه توګه په دغې پروسې کې ګډون کاوه .

د ۲۰۱۲ په جولای کې یوه ملي مشورتي غونډه ترسره شوه ، چې په ترڅ کې يې دغه پروسه پیل شوه.د افغانستان اسلامي جمهوری دولت په رسمي غوښتنه ښاغلی چالوکا بيانی د ملګرو ملتونو د داخلي بېځايه شويو د بشري حقونو ځانګړی راپورتر ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت په هلو ځلو د داخلي بېځايه شويو ګډوالو لپاره يوه ملي پالېسي د ټولو اړوندو مراجعو په پراخ ګډون سره ملاتړ او په دې پروسه کې ګډون وکړ. د مشورتي غونډې د ګډونوالو د وړانديز پر اساس چې د ولايتي ادارو نظرونو ته په کې ډېر پام واړول شي د ۲۰۱۲ په سپتمبر کې ولايتي مشورتي غونډې په کابل ، بلخ ، فارياب ، کندهار ، هرات ، پکتيا او ننګرهار کې ترسره شوې . د ۲۰۱۲ په اکتوبر کې ډاکټر لاری وایز برګ ، د داخلي بېځايه کيدنې یوه مشاوره چې د ProCap (د د ملګروملتونو يو بين السازمانی پروګرام) چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري د دفتر او د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د چارو په وزارت کې ګمارل شوې وه ، د پاليسي په طرح کولو جدي کار پيل کړ ، چې د داخلي بېځايه کيدنې د پاليسې د کاري ډلې له خوا يې ملاتړ کيده. په کابل کې د اړونده وزارتونو ، افغان مدني ټولنې او نادولتي موسسو ، د بشرپالنې او پرمختيايی نړيوالو سازمانونو او ډونرانو او نفوذ لرونکو انفرادي وګړو ، د پارلمان د غړو او علمي شصخيتونو په ګډون له عمده شريکبانو سره ناستو او سلا مشورو دوام وکړ.

همدارنګه په ملي او ولايتي کچو د همغږۍ له يو شمير ميکانيزمونو سره مشورې ترسره شوې ، د داخلي بېځايه کيدنې کاري ځواک (IDP Task Force) او د ملاتړو کاري ډلو په ګډون په ملي او ولايتي کچه او د ACBAR موسسی (د افغانستان دغير دولتي ټولنو شبکه) سره هم سلا مشورې وشوې. په مارچ او اپريل کې د پالېسي طرح په دري او انګليسي ژبو په پراخه کچه د نظريو د تر لاسه کولو په موخه وويشل شوه. په ورته وخت کې په کابل ، لوګر ، هرات ، بلخ ، کندهار او ننګرهار کې د دويمې دورې ولايتي مشورتي غونډې ترسره شوې. طرح د دغو مباحثو او نورو تر لاسه شويو نظريو پر بنسټ تعديل شوه. د ۲۰۱۳ کال د مئ په ۲۲ دويمه ملي مشورتي غونډه تنظيم شوه ، په کومه کې چې طرح تصديق او د تصويب لپاره يې کابينې ته د سپارلو وړانديز وشو.

د داخلي بېځايه شويو لپاره د ملي پالېسي مسوده چې د ښاغلو وزيرانو د شورا لخوا د ۱۳۹۱/۹/۴ نيټې په غونډه کې مطرح او د دې شورا د (۳۲) مصوبی په ۵ فقره کې د /۱۳۹۱/۹ نيټې په غونډه کې داسې پريکړه ليک صادر شو ، چې

د داخلي بېځايه شويو ملي پالېسي طرحه په اصولو کې تأييد او د منلو وړ ده. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د چارو وزارت ، د چارو اداري لوی رياست او د وزيرانو شورا دار الآنشأ او نورو اړوندو اداري او وزارتونه د دغی پالېسي د تطبيق په تړاو موظف ګڼل کيږي.

**۲,۱د اصطلاحاتو تعریف**

**پاتې چاودیدونکي توکي**- هغه چاودیدونکي توکي چې د وسله والې جګړې په لړ کې ور څخه ګټه نه وي اخیستل شوې او دجنګیالو لخوا په ځای پاتې شوي وي او همدارنګه نوموړی ځای د بل لوری تر کنترول لاندې نه وي.

**د حکومت ضد عناصر**- هغه مخالفې ، وسله والې ډلې ، چې د حکومت مشروعیت زیاتره د تاوتریخوالي د وسیلو له لارې ننګوي.

**له پرسونل ضد ماینونو څخه د نه ګټې اخېستنې تړون** (APMBT)-د نه ګټې اخېستنې تړون زیرمه ، تولید او انتقال د پرسونل ضد ماینونو او د هغوي د منځه وړل ، چې د ماین د نه ګټې اخېستنې د تړون په نامه یادیږی ، چې ۱۹۹۷ کال د دسپټمبر په ۱۸ نیټه تصویب او ۱۹۹۹ د مارچ له لومړۍ نیټې څخه پلی شو. دغه تړون د ۲۰۰۳ کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان لخوا تصویب شو.

**خپل سره بې ځایه کېدنه**- د مثال په ډول هغه بې ځایه کېدنه ده چې یا خو د کورنی یا له نړیوال قانون او معیارونو سره په ټکر کې وي ، د جبري ویستلو په ګډون.

**د ساحې په اساس غبرګون یا پروګرام**- غبرګون یا پروګرام چې په یوې ځانګړې ساحه کې د وګړو اړتیاوو ته رسیدنه کوي (لکه یوه غیر رسمي میشت ځای ، منطقه ، کلی) پرته له دې چې هلته د اوسیدونکو د مختلفو ډلو ترمنځ توپیر وکړي ، ور څخه ګټه پورته کړي لکه د داخلي بېځایه شویو کسانو ، راستنېدونکو کډوالو یا ښاري بې وزله وګړی .

**وسله وال ځواکونه**- افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF)

**وسله واله ډله**- مخالف وسله وال ځواکونه یا نورې سازمان شوی وسله والې ډلې دي ، چې د دولتي وسله والو ځواکونو سره توپیر لري.

**پناه غوښتونکی**- هغه وګړی دی چې په رسمیت پیژندل شوې له نړیوالې پولې څخه تیر شوی وي او د خپل حق په کارونې سره له شکنجې څخه پناه غواړي.

**ماشوم**- هر هغه وګړی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي ، خو که د افغانستان تر قانون لاندې ، چې پر ماشومانو د تطبیق وړ دی بلوغ ته له دغه عمر څخه مخکې ورسیږي ، لکه څرنګه چې د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون له خوا معرفي شوی.

**مزمنه ناروغي**- د بشري روغتیایي حالت یا ناروغي ده ، چې د اوږدې مودې لپاره دوام کوي ، معمولا هغه مهال د تطبیق وړ ده کله چې د ناروغۍ موده له دریو میاشتو څخه زیات دوام وکړي. په مزمنو عادي ناروغیو کې د بندونو درد ، سابندي ، سرطان ، **Alzeimer's** د زړه او ګوردو ناروغي ، د شکرې او ایچ آی وي/ایدز شاملې دي.

ملکي وګړي- هغه وګړي دي چې د نظامي یا د کومې وسله والې ډلې برخه نه وي.

**د زیان جبران**- . د زیان جبران چه د اقتصادی ارزونې وړ وی .

**احتیاطی پلانونه**- د تیاریو نیول دي ، چې په بیړنیو حالاتو کې چمتو و اوسي ، مخکې له مخکې د خوراکي او غیر خوراکي توکو ځاي پر ځای کولو او د دې ډاډ تر لاسه کولو په ګډون چې کارکوونکي روزل شوي او معیاري عملیاتي طرز العملونه غوره شوې دي ؛ د تر ټولو احتمالي او بدو حالاتو تشخیص کول ، د پایلو او پلان جوړولو د انګیرنو په ګډون ؛ او بیا د دې معلومول چې ببرته په ځواب کې به څوک کوم کار ترسره کوي.

**د خوشه یې و سلو اړوند تړون**- دغه تړون د خوشه یې وسلو استفاده ، تولید ، انتقال ، او زیرمه منع کوي. دغه تړون د ۲۰۰۸ کال د مۍ د میاشتې په ۳۰ نیټه په دوبلین کې تصویب شو او ۲۰۰۸ د ډسمبر په ۳ د افغان حکومت لخوا لاسلیک او په د ۲۰۱۱ د جون په ۶ نیټه تصویب شو.

**محرومین-** هغه وګړي دي چې ځانګړې اړتیاوې او/یا زیانمنتوبونه لري لکه ښځې ، ماشومان ، د زیات عمر وګړي ، معیوبین ، د مزمنو یا جدي ناروغیو لرونکي یا روغتیایي پاملرنې ته اړ وګړي ، د لږه کیو ډلو غړي ، اصلي اوسیدونکي یا بل هر وګړی چې ورته اړتیاوې او/یا زیانمنتوبونه ولري په کېږون. دغه اصطلاح د "د ځانګړو اړتیاوو درلودونکو وګړو" او "په ځانګړي ډول زیانمنیدونکی وګړی" له اصطلاحګانو سره مساوي ده.

**ناورین-** یوه داسې پیښه چې په پراخه کچه د وراني او مصیبت لامل ګرځي ، په عام ډول له وژنو ، د ملکیت او زیربناوو او بنسټیزو خدمتونو د له منځه تلو سره مل وي ، په داسې ډول چې اړونده ټولنه نه شي کولای له هغې پرته پرمخ لاړه شي. "طبیعي پېښې" د یوې پیښې یا د طبیعت د قهر په پایله کې رامنځ ته کیږي ، لکه سیلابونه ، زلزلې ، د واورو ښویېدنه ، طوفانونه او د ځنګلونو اور لګېدنه . د "بشر په لاس جوړې شوي پیښې" د هغو پیښو یا شخړو پایله ده ، چې د جنګ ، ګرد غبار ، چاودونو ، له خطرناکو توکو سره د مخکیدو یا د ترافیکی پیښو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

**د پېښې د ګواښ کمول-** هغه فعالیتونه او امکانات دي چې په ټولنه کې د پیښې ګواښونه او زیانمنتوبونه کموي ، چې د پایښت لرونکې پرمختیا په پراخ ډګر کې د ننه د خطرونو مختلفې اغیزې راکمې یا محدودې کړي.

**بې ځایه شوي کسان-** " داخلي بېځایه شوي " ته مراجعه وکړئ.

**بې ځایه کېدنه-** "داخلي بېځایه کېدنه" ته مراجعه وکړئ.

**له بې ځایه کیدنې څخه اغیزمنې شوې ټولنې-** هغه ټولنې دي چې د بې ځایه شویو کسانو له شتون څخه اغیزمنې شوي ، لکه کوربه ټولنې یا د بېرته راستنېدنې په ساحو یا نورو ساحو کې چیرې چې بې ځایه شوي کسان د خپلې بې ځایه کیدنې لپاره پایښت لرونکې حل لارې لټوي.

**پایښت لرونکې حل لارې-** پایښت لرونکې حل لار (راستنېدنه ، سیمه ییزه یو ځای کېدنه یا مېشتېدنه په بل ځای کې) هغه ده د کومې په پایله کې ، چې پخوانۍ کورنۍ بې ځایه شوي نور د هغوي د بې ځایه کیدنې اړوند ځانګړې اړتیاوې ونه لري او د نورو افغانانو په څېر د ورته حقونو څخه برخمن وي.

**خبرداری-** د ټاکل شویو ادارو له لارې په وخت او موثرو معلوماتو برابرول دي ، چې له خطر سره د مخ وګړو سره مرسته کوي ، څو په وخت اقدام ترسره او د ګواښ مخنیوی یا یې کم او یا یې په وړاندې د مناسب غبرګون لپاره چمتو و اوسي.

**بیړني حالت-** داسې یو حالت دی ، چې د ناڅاپي بحرانونو یا د ژوند د ګواښونکي حالت په پایله کې رامنځ ته کیږي او کنترول یې د وګړو له ظرفیت څخه بهر وي ، لکه د جګړو تاوتریخوالی ، زلزلې ، سیلابونه ، د ځمکې ښوییدنې ، د واورو ښوییدنه ، اورونه ، طوفانونه ، زیاته تودوخه ، ساري ناروغۍ ، د ژو ناروغۍ یا د حشراتو طوفاني یرغل او طاعون.

**بیړنۍ مرستې-** د ژوند د ساتلو مرسته ده ، چې بیړني حالت ته په ځواب کې برابریږي.

**بیړنی حالت-** داسې یو حالت دی په کوم کې چې د اغیزمن شویو وګړو ژوند ، روغتیا یا امنیت ته جدي ګواښ موجود وي.

**اخراجونه / ویستنه** *-" جبري ویستنه " او "قانوني ویستنه" ته دې مراجعه وشي*

**له جنګونو څخه پاتې چاودیدونکي توکي-** ناچود توکي او پاتې چاودېدونکي توکي

**جبري اخراجونه / ویستینه** - لکه څرنګه چې د دې پالیسې په ۵٫۴ برخه کې تعریف شوې.

**لیدنه او کتنه** (Go and see visit)– هغه کتنې دي په کومو کې چې داخلي بې ځایه شویو کسانو سره مرسته کیږي ، څو خپلو اصلي ځایونو ته یوړل شي او وګوري چې ایا شرایط د هغوي د بېرته راستنېدنې لپاره برابر دي که نه (د مثال په ډول ، ایا بسیا امنیت ، سرپناه ، خدمتونه او داسې نور موجود دي ، څو وکولای شي بېرته خوندي او په درناوي سره راستانه شي).

**حکومت**- د افغانستان د اسلامي جمهوري حکومت

**لارښود اصول**- د داخلي بېځایه کیدنې په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۸ کال لارښود اصول.

**کوربه ټولنې**- هغه ټولنې دي چې داخلي بېځایه شویو کسانو ته پناه ځای او اجازه ورکړې وي چې د هغوي په ساحه کې مېشت او په خپلو کورونو او محوطو کې یې د اوسیدو لپاره پناه ځای ورکړې وي.

**د غیر رسمي مېشتېدنې سیمې**- هغه ساحې دي چیرې چې د میشتندنې یونټونه په داسې ځمکو جوړ شوي وي چې لاندې کوونکې یې قانوني اسناد نه لري ، یا په داسې غیر قانوني ډول لاندې شوې وي ، چې مېشتېدنه د پلان او جوړونې له اصولو سره سمون نه کوي.

**داخلي بېځایه ځایه کېدنه**- د یوه هیواد په نړیواله کچه د پیژندل شویو پولو په د ننه کې د خلکو یا د خلکو د ډلو جبري خوځښت ، ویستنه یا بل موقعیت ته لیږدونه ده.

**داخلي بېځایه شوی** - هغه څوک چې ددې پالېسي په ۳,۱برخه کې تعریف شوي.

**د بشري حقونو نړیواله لایحه**- په دې کې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه ، د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال تړون ، د اقتصادي او ټولنېزو حقونو په اړه نړیوال تړون او د هغوي اختیاري پروتوکولونه شامل دي.

**د بشري حقونو نړیوال قانون**- د بشري حقونو په اړه زیاتره نړیوال تړونونه دي ، چې د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته تصویب شوي ، لکه د بشري حقونو نړیواله لایحه (پورتنې برخې ته دې مراجعه وشي) ، د نسل وژنې ، شکنجې ، توکمیز تبعیض ، د ماشومانو د حقونو ، د ښځو د حقونو ، د کډوالو او د هغوي د کورنیو د حقونو ، او د معیوبو وګړو د حقونو په اړه تړونونه.

**د بشرپالنې نړیوال قانون**- د وسله والې شخړې د ادارې لپاره د قواعدو یوه ټولګه ده ، چې په دې کې د جګړې په وسایلو او کړنلارو باندې بندیز او د هغو وګړو ساتنه شامل دي ، څوک چې د شخړې په ښکیلو خواوو یا په هغوي پورې نور تړاو نه لري. د بشرپالنې په نړیوال قانون کې د ژنیو څلور تړونونه او په دغو تړونونو پورې اړوند درې پروتوکولونه شامل دي.

**کوچی**- په افغانستان کې هغه ډله کډوال وګړي دي ، چې پر شپنیز ژوندانه/عاید متکي دي ، د هغو په ګډون څوک چې په بشپړ یا نیمه ډول میشت شوي ، خو د کوچي په څېر معرفي یا خپل ځان معرفي کوي.

**قانوني ویستنه**- له هغو کورنو او/یا ځمکې څخه د وګړو ، کورنیو او/یا ټولنو دایمي یا مؤقتي ایستل دي ، چې د قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون له قواعدو سره سم ترسره شي.

**سیمه ییزه یو ځای کېدنه**- د محلي اوسیدونکو سره په یوه سیمه کې مساوي د مېشتېدنې حق تر لاسه کول دي.

**د ځمکې د وېش ساحې**- هغه ساحې دي چې په نمرو تقسیم شوی ، ترڅو په اړو وګړو وویشل او یا و پلورل شي (په ځانګړې توګه په بېرته راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو باندې) لکه څرنګه چې د ولسمشر په ۱۰۴ فرمان کې تصریح شوې.

**د ځمکې غصبول**- د ناقانونه وسیلو له لارې او/یا د بازار له ورځني نرخ څخه په کم قیمت د ځمکې تر لاسه کول دي.

د بشر په لاس جوړ شوي پیښې-*"پېښې" ته مراجعه وکړئ*

***ماینونه***- هغه چاودیدونکي توکي دي چې د ځمکې لاندې ځای پر ځای کیږي او کولای شی د وګړو د نړدې کیدو او یا د نقلیه واسطې په نږدې کیدو سره وچوي.

**د ماينونو پر ضد فعاليتونه**- هغه فعاليتونه دي چې د ټولنېزو ، اقتصادي ، چاپيريال د ماينونو او له جنګ څخه د پاتې چاودېدونکو توکو پاتې شوني د اغېزو د کمېدو په موخه سر ته رسول کېږي.

**د ملي ټولنې مسوول کس**-د افغانستان د اسلامي جمهوريت رسمي برخه ده ، چې د کورني بې ځایه کیدنې د اړوندو چارو د همغږۍ مسوول دی .

**طبيعي پيښې**-*" پيښې ته مراجعه وکړئ*

**غير دولتي فعالين**- هغه شخصي سکتور ، چې د دولتي ادارو رسمي برخه نه وي ، لکه د وسله والو ډلو فعاليتونه چې په دولت پورې اړه نه لري.

**په ځانګړي ډول زيانمنيدونکي کسان**-*" محرومينو ته مراجعه وکړئ.*

**د ځانګړو اړتياوو درلودونکي کسان**-*" محرومينو" ته مراجعه وکړئ.*

**د داخلي بېځايه شويو د وضيعت ارزونه**- د داخلي بېځايه شويو کسانو د نفوس په اړه د عمومي معلوماتو د راټولولو فعاليت دی ، چې د جنسيت ، عمر او موقعيت په لحاظ ويشل کيږي او د امکان په صورت کې د هغوي د بې ځايه کيدنې د لاملونو ، بڼو ، د ساتنې انديښنې د بشري اړتياوو او بالقوه حل لارو په اړه اضافي معلومات تر لاسه کيږي.

**اوږد مهاله بې ځايه کېدنه** -هغه بې ځايه کېدنه ده ، چې ځينې وختونه څو لسيزې دوام مومي.

**ارجاعي لارې**- د خدمت برابرونکو مفصله تشريح ده (هم د ټولنې او هم د حکومت په کچو) د اړيکو د ټينګولو په ګډون ، او همدارنګه کټ مټ د هغو خدمتونو تشريح ده کوم چې هغوي وړاندې کوي ، کله او تر کومو شرايطو لاندې ؛ دغه لارې زياتره د يوه ډايګرام په څېر انځوريږي او دا څرګندوي چې لومړی له چا سره او د څه لپاره اړيکه ونيول شي ، او بيا وروسته له چا سره ، او داسې نور.

**پناه غوښتونکی**-د کډوال د وضعيت اړوند د ژنيو تر ۱۹۵۱ کنوانسيون او ۱۹۶۷ پروتوکول لاندې هر هغه وګړی کډوال ګڼل کيږي ، څوک چې د بل ملک د يرغل دلاسه يا د هغه د اصلي هيواد يوه برخه يا ټول هيواد د پيښو له امله په جدي ډول نا ارامه وي او اړ وي چې خپل اصلي ميشت ځای پريږدي او له هيواد څخه بهر او يا د هيواد دننه په بل ځای کې د مېشتېدنې په لټه کې شي.

**د زيان جبران** -د بشري حقونو له نړيوال قانون څخه د پراخو او د بشرپالنې له نړيوال قانون څخه د جدي سرغړونو لپاره د قربانيانو د اصلاح او جبران د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د بنسټيزو اصولو او لارښوونو سره سم ، د ګالل شوي زيان جبران دی ، چې کيدای شي راستنېدنه ، جبران ، بيا رغونه ، رضايت او د نه جبران وړ توکو تضمين په کې شامل وي.

**مېشتېدنه** -د بې ځايه شويو يا بېرته راستنېدونکو کډوالو د موقتي يا دايمي مېشتېدنې پروسه ده.

**استرداد**-له بې ځايه کيدنې څخه مخکيني حالت ته بېرته ور کرځولو ته ويل کيږي.

**راستنيدونکی**- هر هغه شخص دی چې افغانستان ته وروسته له هغې بېرته راستنيږي ، چې د ځورونې يا د عمومي تاوتريخوالي له امله د هيواد پريښودو ته اړ شوې و ، د بيرته راستنېدونکو پناه غوښتنکو او کډوالو په ګډون.

**د حقونو پر بنسټ تګلار** (Rights-based approach)- د بشري پرمختيا لپاره هغه فکري کاري چوکاټ دی ، کوم چې په معياري ډول د بشري حقونو په نړيوالو معيارونو ولاړ او د بشري حقونو د ترويج او ملاتړ لپاره وی.

**د اجارې خوندیتوب (Security of tenure)**- له غیر قانوني یا جبري ویستنې او ځورونې څخه د خوندیتوب قانوني حق دی ، چې په مساوي ډول د ملکیت په خاوندانو ، اجاره دارنو اوغیر قانوني اوسیدونکو پورې اړه لري.

**جلا شوي او بې سرپرسته کو چنیان** - هغه کوچنیان دي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي او له مور وپلار ،پالونکي او یا د بل هغه وګړي څخه جلا شوي وي چې په عرفي یا قانوني ډول یې د پالنې مسوول وي.

**د ګڼو غریبانو استوګنځای**- د غیر رسمي مېشتېدنې سیمې دي ، چې زیاتره د ښار په ماستر پلان کې نه وي شاملې او د لاندې ځانګړتیاوو لرونکې وي: پاکو اوبو ، روغتیا پالنې او نورو بنسټیزو خدمتوتونو ته ناکافي لاس رسي ، د کورونو کمزوري جوړښتیز کیفیت ، ګڼه ګوڼه او د استوګنې نا امنه وضعیت.

**دوره یې معیارونه**- د ژوند د خوندي کولو په څلورو لومړنیو ساحو کې د مرستې د برابرولو حد اقل معیارونه دي: (۱) د اوبو برابرول ، او د حفظ الصحی بسیج کول ، (۲) د خوراکي توکو خوندیتوب او تغذیه ، (۳) سرپناه ، مېشتېدنه او غیر خوراکي توکي ، او (۴) روغتیا ، او همدارنګه د بشرپالنې د مرستې د مؤثریت او اغیزو د څارنې او ارزونې معیارونه. د *چاپیریال لاسي کتاب: د بشرپالنې منشور او په بشري غبرګون کې حد اقل معیارونه* ، ۲۰۱۱ چاپ.

**تذکره**- په افغانستان کې ملي پېژند پاڼه.

**"موقته مېشتېدنه"**- کله چې په پنډغالو او د ترانزیت په مرکزونو کې د بشرپالنې ، ټولنېز-اقتصادي او امنیتي شرایط د منلو وړ نه وي بل ځای ته د بې ځایه شویو کسانو د انتقالولو یوه پروسه ده ، په دې شرط چې په مساعدو شرایطو کې خپلو اصلي سیمو ته د بې ځایه شویو کسانو د خپلې خوښې ستنیدنې یا له خپلو اصلي سیمو پرته په نورو سیمو کې د دایمي مېشتېدنې له حقونوڅخه بې برخې نه شي.

**بې سر پرسته کوچنی** - هغه کوچنیان دي چې عمر یې له ۱۸ کلنې څخه کم وي او له خپلو کورنیو څخه جلا شوي وی او په بشپړه توګه یوازې وي.

**نا چاودلی توکي**- هغه توکي دي چې د ډزو ، انداختونو او یا ګزار شوی وی خو د نه فعالیت او یا د ناسم هدف له کبله نه وي چاودیدیلي.

**دنورو وګړو له ملکیت څخه د ګټې اخیستنې حق** – له ګټو څخه د برخمن کیدو حق دی چې د بل چا یا له عامه ملکیت څخه تر لاسه کیږي.

**زیانمنتوب**- یوه اصطلاح ده چې په مختلفو ډولونو په خلکو ، ټولنو ، د ژوندانه په وسایلو ، د خوړو په برابرولو ، د ټولنې په شتمنیو یا مالکیت باندې د تطبیق وړ ده. کله چې دغه اصطلاح په خلکو یا ټولنو تطبیق کیږي ، مانا یې دا ده چې خلک او ټولنې له ستر ګواښ سره مخ او ځانګړې اړتیاوې لري او په محرومیت کې واقع دي. دغه اصطلاح همدارنګه په عامه مانا هم کارول شوې او هغه عوامل بیانوي ، چې د ټولنې یا انفرادي وګړو هغه وړتیا اغیزمنه کوي چې د طبیعي او ناوړو پیښو په وړاندې غبرګون وښایي. زیانمنتوب د بیړنیو پیښو اغیزې نورې هم زیاتوي او د یوه اغیزناک غبرګون مخنیوی کوي.

### ۳,۱ په افغانستان کې د داخلي بېځايه کېدنې شرايط او ځانګړتياوې

افغانستان په ملي او سيمه ييزو کچو له ۱۹۷۸ کال راهيسې له پرلپسې جګړو سره مخ دی. سربېره پردې ، سخت جغرافيايي موقعيت اواقليمي شرايطو هيواد د وچکالۍ ، زلزلو ، سيلابونو او د واورې ښوييدو په لور متمايل کړی. د دغو ننګونو زياتيدونکې اغيزه پر افغان وګړو باندې شديده او ګواښونکې وه.

د بې ځايه کيدنې ډول ډول پېښې موجودې دي ، په تېره بيا د وسله والې شخړې ، عمومي تاوتريخوالي او له بشري حقونو څخه د جدي سرغړونو ، طبيعي پېښو ،[1] پرمختيايي پروژو ،[2] او د بشر په لاس جوړو شويو پېښو.[3]

دا تل اسانه نه ده څو په ښکاره ډول هغه فکتورونه معلوم شي ، کوم چې د وګړو يا ډلو د تيښتې سبب کيږي ، لکه څرنګه چې په افغانستان کې د بې ځايه کيدنې لاملونه زياتره ګڼ شمير او څو اړخيز دي. د روانو شخړو ، له بشري حقونو څخه د سرغړونو اغيزه کيدای شي له طبيعي پېښې سره زياته شي ، په ورته وخت کې د اړينو خدمتونو نشتون کيدای شي د دې لامل شي چې وګړي و نه شي کولای د دې پېښو په وړاندې مقاومت پيدا کړي او خپلې کورنۍ په خپلو ميشت ځايونو کې ځای پر ځای کړي. که په يوه کلي کې د خړوبولو سيستم د بمباري په پايله کې تخريب شي او هغه سيمه له وچکالي سره مخ وي ، کورنۍ نه شي کولای خپلې ځمکې خړوبې کړي. په دې ډول دواړه جګړه او طبيعي پېښې وګړي دې ته اړباسي چې خپل کلي پريږدي. که چيرې له يوه طبيعي پېښې څخه وروسته په موثر ډول حالات تعقيب نه شي يعنې لومړنۍ پروژې تطبيق نه شي خلک نه شي کولای د اوسيدنې خپلو پخوانيو ځايونو ته را وګرځي ، چې په دې ډول بې ځايه کيږي. دغه ډول يو حالت په يوازينې ډول "طبيعي" پېښو ته نه منسوبيږي. جبري بې ځايه کيدنې هم د بې ځايه کيدنې د وخت ، اندازې او واټن په پام کې نيولو سره په زياته کچه بدليږي. په ځينو پېښو کې ، چيرې چې نظامي ښکيلتياوې رامنځ ته شوې وي ، بې ځايه کېدنه کيدای شي د لنډ مهال لپاره هغو نږدې موقعيتونو ته ترسره شي چې د هغوی له اصلي ميشت ځای څخه ډير لرې نه وي ؛ وګړي له جګړې څخه تښتي او بيا زياتره څو اونۍ يا مياشتې وروسته بېرته خپلو کورونو ته راستنيږي. له دې سره سره ، کله چې شخړه سختيږي د جګړه مارو ډلو دريځ هم غښتلی کيږي ، بې ځايه کېدنه کيدای شي په زياتيدونکې ډول اوږده شي. له جګړې څخه پاتې شوي چاوديدونکي توکي ، ځمکني ماينونه/ناچاود توکي او د جګړې پر مهال د فصلونو ، کرنيزو ساحو ، کورونو او ملکيتونو ويجاړتيا هم د بې ځايه شويو کسانو خپلو اصلي ميشت ځايونو ته د بېرته راستنېدنې په وړتيا نيغ په نيغه اغيزه کوي ، څو خپل عادي ژوند بيا پيل کړي.

اضافي فکتورونه کيدای شي د دويمې يا دريمې درجې بې ځايه کيدنې پايله وي: د مثال په ډول ، د هغو سيمو د امنيتي حالت خرابيدل چيرې چې داخلي بېځايه شوي وګړي تښتيدلي ، د ځمکې پر سر شخړې ، موسمي شديد توپيرونه ، د بنسټيزو خدمتونو او آسانتياوو کموالی يا نشتوالی او د ژوندانه د فرصتونو له منځه تلل. په داسې حالاتو کې ، ولايتي مرکزونه په ځانګړې ډول ستر ښاري مرکزونه ، چيرې چې امنيت ښه وي ، د روغتيا او ښوونې په څېر خدمتونو ته لاس رسی بهتر وي ، همدارنګه د ژوندانه بالقوه فرصتونه موجود وي ، کولای شي له کليوالو نا ارامو سيمو څخه خلک راجذب کړي.

په افغانستان کې يو شمير خلک شته چې د اوږدو مودو[4] لپاره بې ځايه دي او له هغو امکاناتو او خدمتونو څخه محروم دي کوم چې ميشتو ټولنو ته برابر شوي. د مختلفو لاملونو له کبله هغوي نه شي کولای په ټولنېز او اقتصادي ډول له هغو ټولنو سره يو ځای شي چيرې چې دوي پناه ځای نيولی. په لاملونو کې کيدای شي دا حقيقت موجود وي ، چې هغوي د هغې ځمکې چې پرې اوسيږي مالکان نه دي ، يا د هغو وګړو ترمنځ چې دوي ته يې پناه ځای ورکړی د دوي سره قومي يا قبيليوي تو پير لري او د پرديو په څېر پيژندل کيږي ، او يا ځکه چې سيمه ييز چارواکو د هغوي لپاره "موقت امن ځای" برابر کړي نه دايمي ميشت ځای. نو په پايله کې ، هغوي د بې ځايه شويو کسانو په څېر د نا خواب شويو ځانګړو اړتياوو سره خپل ژوند ته ادامه ورکوي. د اندېښنو د پيچلتيا بله ځانګه هغه سند نه لرونکي افغان کډوال دي چې په دې وروستيو لسيزو کې له ايران او پاکستان څخه په خپله خوښه يا په جبري ډول افغانستان ته راستانه شوي. د دغو راستيندونکو زيات شمير د نا امنۍ ، د خدمتونو يا د ژوندانه د امکاناتو د نشتون له امله په

[1] دواړه پيښنونه هم ناڅاپي پيښيدونکي لکه سيلابونه ، د ځمکې خويدنې ، طوفانونه يا زلزلې او څوکه رامنځ ته کيدونکي لکه وچکالي چه دهغې له کبله کرهنيزې ځمکې دشتو بدليږي.

[2] د مثال په ډول ، دا چې يو بند جوړ کړي ، ځمکې استملاک يا تر سيلابونو لاندې کيږي او وګړي په بل ځای کې ميشتيدنې ته اړ باسل کيږي.

[3] د مثال په ډول ، چيرې چې کيدای شي فزيکي چاپيريال په زهرجنو موادو يا له جګړې څخه د پاتې شونو توکو ملوث شي.

[4] زياتره "اوږدمهاله ...." ته راجع کيږي.

دې نه دي توانيدلي چې خپلو اصلي ميشت ځايونو ته ستانه شي. دوي د جګړې يا پېښو په پايله کې د داخلي بېځايه شويو کسانو سره په ډېرو ورته شرايطو کې له دويمې درجې بې ځايه کيدنې سره مخ دي.

د جبري بې ځايه کيدنې په دغو ټولو مختلفو پيښو کې دوه معيارونه عمومي دي: (الف) د بېځايه شويو خوځيدنه د هغو له اصلي ميشت ځايونو څخه جبري ده ، او د فشار عنصر يا د امکاناتو نشتون په کې شامل دي ، او (ب) بې ځايه شوي کس د هيواد پولو په د ننه کې پاتې وي.

په افغانستان کې د بې ځايه کيدنې کچه ،[5] او د دې حقيقت په پام کې نيولو سره چې هيواد لا اوس هم د اوږدې جګړې له ګواښ سره مخ دی ، د داسې يوه حالت د رامنځ ته کيدو لامل شوي په کوم کې چې په زرګونو وګړي چې له نيمې څخه زيات يې ماشومان او تنکي ځوانان دي تر بيړنيو شرايطو لاندې ژوند کوي ، چيرې چې بنسټيزې اړتياوې نه دي پوره شوي ، لکه روغتيا ، خواړه ، تغذيه او ساتنه. دغه حقيقت چې حالات کيدای شي د څوکه يا چټک پيل لکه د طبيعي پېښې په بيا پيښندو سره لا پسې خراب شي ، د بشرپالنې د ملي او نړيوالو فعالينو په ملاتړ په ټولو کچو کې د حکومت د يوه متحد ځواب اړتيا په ډاګه کوي.

**٢. موخه ، د پالېسي چوکاټ او اصول**

**١,٢ موخه**

د دغې پاليسې موخه د يوه هر اړخيز ، اغيزمن او رېښتيني چوکاټ جوړول دي کوم چې

الف. په افغانستان کې د داخلي بېځايه کيدنې د اوسنيو او راتلونکو شرايطو ته د رسيدګې لپاره لاربښونه .

ب. د دې ډاډ تر لاسه کوي ، چې د داخلي بېځايه کيدنې تګلارې د هغې پر بنسټ ولاړې دي او د داخلي بېځايه شويو کسانو د حقونو درناوی ، ساتنه او ترسره کونه د يوې پروسې له لارې کوي ، د پايښت لرونکو حل لارو د لټون د مودې په ګډون ، لکه څرنګه چې د افغانستان د اساسي قانون ، اړونده د بشري حقونو نړيوال قانون ، د بشرپالنې د نړيوال قانون او د داخلي بېځايه کيدنې په اړه د ملګرو ملتونو د لاربښودو اصولو له خوا برابر شوي.

ج. د دواړو هم د داخلي بېځايه شويو کسانو او هم له بې ځايه کيدنې څخه د اغيزمنو شويو ټولنو بيړنيو اړتياوو او انديښنو ته رسيدګي کوي ، د هغو ټولنو په ګډون چې د داخلي بېځايه شويو کسانو کوربه دي.

د. د داخلي بېځايه شوو داوړد مهاله اړتياوو ته رسيدنه ،اقتصادی او معيشتی برخوکی همدارنګه د بشرپالنې د مرستو را جلبول تر يوی پايښت لرونکې حل لارې پورې.

هـ. نوې بې ځايه کېدنه تشخيص او هڅې غښتلې کوي چې د هغې مخنيوی يا کمه او تنظيم کړي ، د پيښې د ګواښ د کمولو لپاره د بيړني پلان جوړونې او له مخکې څخه د خبرداری ورکولو په ګډون ، څو د سيلابونو ، ځمکې ښويندنو په څېر د طبيعي پېښو اغيزې کمې کړي ، د کومو په پايله کې چې وګړي خپل کورونه او د ژوندانه فرصتونه له لاسه ورکوي.

و. د نظامي عملياتو په اړه له مخکې څخه د اخطار ورکولو په څېر د تدابيرو د کارونې له لارې ، کوم چې کيدای شي د ملکي وګړو ژوند او د ملکيانو ملکيت اغيزمن کړي ، نوې بې ځايه کېدنه تشخيص او هڅې غښتلې کوي چې د هغې مخنيوی يا کمه او تنظيم کړي ؛

ز. د داخلي بېځايه شويو کسانو لپاره د پايښت لرونکو حل لارو د تشخيص او تطبيق له لارې ، بې ځايه کېدنه پای ته رسوي

---

[5] د ٢٠١٢ کال تر ډيسمبر مياشتې پورې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنيري د شخړې په پايله کې نږدې نيم ميليون بې ځايه وګړي ثبت کړي. (د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري د افغانستان د بې ځايه کيدنې په اړه مياشتني معلومات ، ډسمبر ٢٠١٢). که چيرې هغه وګړی چې د طبيعي پيښی او پرمختيايي پروژو په پايله بې ځايه شوي ، اضافه کړو ، د ٢٠١٣ کال تر نيمه يي پورې به د بې ځايه شويو کسانو شمير ١,٣ يا ١,٥ ته لوړ شي.

ح.	په افغانستان کې د داخلي بېځایه کیدنې په اړه د وړاندوینې وړ ، سیستماتیکې ، منسجمې او اصولي تګلاې د خوندي کولو لپاره د مختلفو وزارتونو ، ادارو ، د بشرپالنې د فعالینو او نورو شریکبانو لپاره نقشونه او مسوولیتونه تنظیموي ؛ او

ط.	په ملي ، ولایتي او سیمه ییزو کچو د عمل د پلانونو لپاره د عمومي او منسجم بنسټ او نورو داسې تدابیرو رامنځ ته کول ، کوم چې د دغې پالېسي په تطبیق کې مرسته کوي.

**۲. ۲ د پالېسي چوکاټ او اصول**

دغه پالېسي:

الف.	په افغانستان کې د داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د بیړنیو مرستو ، اوږد مهاله ملاتړ او اغیزمنې ساتنې د برابرولو لپاره د حکومت لومړنی مسوولیت دی ، د هغې د لامل او د دې په پام کې نیولو پرته ، چې آیا داخلي بېځایه شوي کسان په میشت ځایونو کې او که له کوربه کورنیو سره اوسیږي ، په کلیوالي او که په ښاري میشت ځایونو کې دي ، په خپلو اصلي ولایتونو کې دي یا د هیواد په بله کومه برخه کې.

ب.	له بې ځایه کیدنې څخه د خپلو اتباعو د ساتنې او مخنوي لپاره د حکومت ژمنتوب تاییدوي ، چې احتیاطي پلانونه جوړ او له مخکې څخه د خبرداري ورکولو میکانیزمونه ځای پر ځای کړي څو د بې ځایه کیدنې د لاملونو مخنیوي یا د هغې اغیزې راکمې کړي او د بې ځایه کیدنې لپاره د داسې مناسبو حل لارو په لټه کې شي ، چې پایښت لرونکې وي.

ج.	د داخلي بېځایه شویو کسانو د مرستې د غوښتنې او ساتنې او د هغوي د بې ځایه کیدنې لپاره د پایښت لرونکې حل لارې په پیدا کولو کې د ملاتړ د تر لاسه کولو حق تصدیق کوي. د داخلي بېځایه شویو کسانو مشخصې اړتیاوې او زیانمنتوبونه او د هغوي مشخص حقونه باید د هغوي د فعالیتونو په مرکز کې واقع وي چې تر دغې پالېسي لاندې د دولت یا بل کوم فعال له خوا تطبیق کیږي.

د.	د دغې پالېسي د تطبیق او د تطبیق د څارنې فعالین معرفي کوي.

هـ .	د داخلي بېځایه شویو کسانو ساتنې او د هغوي اړتیاوو ته په ځواب ورکولو کې د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو د وزارت د مخکښ رول او د دغه وزارت د بشري منابعو د ظرفیت او معلوماتي سیستم د پراختیا ،د مالي سرچینو د زیاتوالي په ګډون څو وکولای شي په اغیزمن ډول خپل ماموریت ترسره کړي ، د نوموړي وزارت د غښتلي کولو اهمیت تاییدوي.

و.	د کورونو او معیشتونو له لاسه ورکولو ، له کورنیو څخه د جدایي یا د ټولنېزو او دودیزو شبکو له لاسه ورکولو او د شخصي اسنادو د ورکیدو په ګډون ، د داخلي بېځایه شویو کسانو ځانګړي زیانمنتوبونه چې د بې ځایه کیدنې له امله رامنځ ته شوي ، تصدیق کوي او د بې ځایه شویو کسانو تر منځ د ډیرو محرومو هغو ځانګړو اړتیاوو ته رسیدنه کوي. په دې کې د ماشومانو ، تنکیو ځوانانو ، د زیات عمر درلودونکو وګړو ، کونډو ، امیند وارو ښځو ، معیوبینو یا د مزمنو ناروغیو درلودونکو وګړو د بیړنۍ ساتنې اړتیاوې او د داخلي بېځایه شویو د ډلې ترمنځ د جنسیت په اساس د ساتنې د مختلفو اړتیاوو په مناسب ډول په پام کې نیول شامل دي.

ز.	دا تایید وي ، چې په بې ځایه کېدنه کې ښځې د کونډو او پیغلوټو په ګډون ، په ذهني ټکان سربیره په زیاته کچه له فزیکي او جنسي تاوتریخوالي ، او همدارنګه له بې وزلي ، په مکرر ډول مهمو روغتیایي یا رواني- ټولنېزو خدمتونو یا د قانون د انفاذ او حقوقي جبران ته د لاس رسي له نشتوالي سره مخ دي ، او د دغو اندیښنو ته د مناسبو ستراتیژیګانو او پروګرامونو له لارې ځواب ویلو ته ژمنه ده.

ح.	د ټولو فعالینو لپاره چې په افغانستان کې له داخلي بېځایه شویو سره په مرسته او د هغوي په ساتنه کې ښکیل دي ، یو عمومي اساس وړاندې کوي ، داسې رسمي غبرګونونه او د همغږي میکانیزمونه رامنځ ته کوي ، چې په ملي او ولایتي کچو د چارواکو او د بشرپالنې او پرمختیایي اړوندو او نورو هغو فعالینو ترمنځ نقشونه او مسوولیتونه منعکس کوي ، څوک چې د

بې ځایه کیدنې د حالاتو د مخنیوي یا هغوي ته د ځواب ویلو او همدارنګه د داخلي بېځایه شویو لپاره د پایښت لرونکو حل لارو د پیدا کولو په چارو کې ښکیل دي.

ط. د بې ځایه کیدنې په اړه د حقونو پر بنسټ ولاړه تګلاره (rights- based approach )تصویبوي ، کومه چې د داخلي بېځایه کیدنې په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۸ کال لاربښود اصول منعکس او له هغوي سره په سمون کې دي (لومړی ضمیمه وګورئ). دا د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې د افغان حکومت ژمنې او په افغانستان کې د داخلي بېځایه شویو حقونه لکه څرنګه چې د اساسي قانون ، اړونده داخلي قانون او پورته یادو شوو نړیوالو حقوقي چوکاټونو له خوا ورکړل شوي ، تاییدوي.

ی. د داخلي بېځایه شویو د حقونو د ساتنې او په افغانستان کې د هغوي د حقونو په اړه د عامه پوهاوي د زیاتیدنې د مرستې پر اړتیا ټینګار کوي. په دې کې بشري وقار ، د نه تبعیض اصولو ، برابري او د قانون مساوي ساتنې ته د درناوي د اهمیت په ډاګه کول شامل دي.

ک. دا تصدیق کوي ، چې د بشري مرستې برابرول یوه بې طرفه کړنه ده.

ل. په افغانستان کې د افغان حکومت ، نړیوالو ځواکونو ، افغان ملي پولیسو او اردو ، د حکومت ضد عناصرو او د وسله والو ډلو په ګډون ، پر ټولو فعالینو غږ کوي ، چې له داسې کړنو ډډه وکړي کومې چې د بې ځایه کیدنې لامل کیږي.

م. د اغیزمنو شویو ټولنو او هغو وګړو ترمنځ چې هغوي ته مرستې رسوي د حساب ورکونې او شفافیت د یقیني کولو اړتیا تاییدوي.

ن. له بې ځایه کیدنې څخه له نورو اغیزمنو شویو ټولنو ، کورنیو ، په ځانګړي ډول له هغو سره چې داخلي بېځایه شوي کسانو ته یې ځای ورکړي ، د مرستې کولو اهمیت تصدیق کوي.

س. د معلوماتو د راټولولو د یوه اغیزناک سیستم اړتیا تاییده وي ، د معلوماتو د یوه داسې سیستم په ګډون چې د وګړو خوځښت (له یو ځای څخه بل ځای ته کډه کول ) په ګوته کوی ، لکه څرنګه چې د اړینو مرستو د موثرې برابرونې لپاره کره او هر اړخیز معلومات خورا ارزښت لري.

ع. د پریکړو نیولو په پروسو کې د داخلي بېځایه شویو او له بې ځایه کیدنې څخه د اغیزمنو شویو ټولنو په ټولو هغو موضوعګانو کې چې هغوي اغیزمن کوي د شاملولو پر اهمیت او په ټولو پروګرامونو کې پر سیمه ییز ظرفیت جوړونې زور اچوي.

ف. تاییدوي ، چې د داخلي بېځایه شویو لپاره پایښت لرونکي حل لارې باید د افغانستان په ملي پرمختیایي هدفونو ، لومړیتوبونو ، ستراتیژیکانو او پالیسي ګانو کې ځای شي.

ص. د نړیوالو معیارونو سره سم د افغانستان د حقوقي ، پالیسي او رسمي جوړښتونو د جوړولو او برابرولو اړتیا ، چې حکومت وکړای شي د داخلي بېځایه شویو په اړه خپل مسوولیتونه پر غاړه واخلي ؛ او د عدلیې وزارت لپاره دا اړتیا تصدیق کوي ، څو د تعدیل وړ قوانین معلوم او د نوي قانون جوړونې ساحې معرفي کړي.

ق. دا اړتیا تاییدوی ، څو یقیني کړي چې د داخلي بې ځایه شویو لپاره داسې مناسب حقوقي چوکاټ برابر شي ، کوم چې د هغوي لپاره مناسبه ساتنه ، بیړنۍ مرسته او همدارنګه پایښت لرونکې حل لارې تضمینوي.

ر. تصدیق کوي ، چې د داخلي بېځایه کیدنې دغه پالیسي او اړوند قانوني اسناد به د افغان ملي قانون بشپړونکې برخه وګرځي.

### ۳. داخلي بېځایه شوي

**۳,۱ تعریف** د دغې پالېسي له مخې ، د داخلي بېځایه شوي تعریف په دې ډول دی:

*"... هغه وګړي یا د وګړو ډلې دي ، څوک چې د اصلي میشت ځایونو پرېښودلو ته په زور یا جبري ډول اړ کړای شوي او د هېواد په نړیواله کچه له منل شویو پولو څخه نه وي تیر شوي ، په ځانګړي ډول د وسله والو شخړو ، د عام تاوتریخوالي ، د بشري حقونو یا طبیعي پېښې له کبله یا د بشر په لاس جوړ شوي پېښو د سرغړونو د اغیزو مخنیوي په موخه."* [6]

دغه تعریف نورې ډلې هم رانغاړي:

الف. راستنیدونکی- پناه غوښتونکي راستنیدونکي او کډوال چې افغانستان ته را استول شوي دی) چې د وسله والې شخړې په پایله کې د رامنځ ته شوې نا امنی ، عام تاوتریخوالي یا له بشري حقونو څخه د سرغړونو ، ځمکنیو ماینونو یا د هغوي په ځمکو کې د جنګ پاتې شونو چاودیدونکو توکو ، د ځمکې پر سر شخړو یا قبیلوي کشالو له امله نه شي کولای په خپلو اصلي کورونو او/یا په اصلي ځایونو کې میشت شي.

ب. هغه وګړی یا د وګړو ډلې چې د پرمختیایي پروژې د تطبیق په پایله کې بې ځایه شوي او د کور او/یا ځمکې بدیل یا مناسب جبران یې نه وي تر لاسه کړي ، څو په پایښت لرونکي ډول خپل ژوند پر مخ یوسي.

#### ۳,۲ د داخلي بېځایه شویو ځانګړې زیانمنتوبونه

دغه پالېسي دا تصدیق کوي ، چې داخلي بېځایه کېدنه زیانمنتوبونه او ځانګړې اړتیاوې زیاتوي. په دې کې د داسې یوې وړتیا اړتیا شامل ده ، چې وتوانیږي د خطر ساحه پرېږدي او یوې خوندي سیمې ته ورسیږي ، موقتي پناه ځای او بنسټیزو خدمتونو ته لاس رسی او عاید پیدا کړي ، د بې ځایه کیدنې په اساس له رامنځ ته شوي تبعیض څخه خوندي وي او د بې ځایه کیدنې د پای ته رسولو لپاره پایښت لرونکي حل لارې پیدا کړي.

پالېسي دا تاییدوي ، چې زیات شمیر داخلي بېځایه شوي کسان په ټولنېز محرومیت کې واقع دی او نه شي کولای چې خپل د خوړو ، اوبو ، روغتیا پالنې ، کور ، روغتیایي پاملرنې یا ښوونې بنسټیزه اړتیاوې پوره کړي. زیات شمیر نور یې له ملکیت او د ټولنې له ځمکو او کروندو څخه محروم شوي او نه شي کولای چې د ځان لپاره د عایداتو منابع ایجاد کړي. ځینې یې له ټولنېز محرومیت څخه رنځ وړي او د خوندیتوب هغه شبکې یې له لاسه ورکړي کومې چې په رسمي ډول د هغوي د ټولنې له خوا برابرې شوې وې. داخلي بېځایه شوي کسان کیدای شي د خپلو شخصي اسنادو د ورکیدو له امله هم له ستونزو سره مخ شي. په غیر رسمي میشت ځایونو کې ، چیرې چې زیات شمیر بې ځایه شوي وګړي ژوند کوي ، زیاتره کلتور او عنعنې ښځې په کورونو پورې منحصرې ساتي ، د هغوي خوځښت محدودوي او دا د هغوي لپاره ستونزمنوي ، چې په مناسب ډول د خپلو ماشومانو غذایي ، روغتیایي ، ښوونیزو او ټولنېزو اړتیاوو ته پاملرنه وکړي.

پالېسي دا په ډاګه کوی چې زیاتره د داخلي بېځایه شویو کسانو ترمنځ ۶۰ سلنه ماشومان او تنکي ځوانان دي. په داسې حال کې چې لویان د جبري بې ځایه کیدنې تر شرایطو لاندې له زیاتیدونکو ګواښونو او سختیو سره مخ دي ، ماشومان او تنکي ځوانان په لا زیاته کچه له ګواښونو سره مخ کیږي کله چې دوي خپلو اصلي ټولنو څخه بې ځایه شي. په بې ځایه کېدنه کې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د ساتنې په مسائلو کې له ښوونځې څخه وتل ، د نورمال ټولنېزې پرمختیا نشتون ، د کورنۍ او ټولنې د مرستندویه جوړښتونو کموالی یا نشتون ، د جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی ، د ماشومانو ضررناک کارونه ، مخکې له وخت څخه په جبر ودونه او د وسله والو ځواکونو یا ډلو له خوا له استخدام په ګډون زیانمنونکي ټولنېزې کړنې شاملې دي. معیوب ماشومان د تر ټولو محرومو په ډله کې راځي. د ماشومانو ، تنکو ځوانانو او ښځو لپاره دغه مختلف زیاتیدونکي ګواښونه د دې اړتیا رامنځ ته کوي ، چې هغو وګړو ته پاملرنه وشي ، څوک چې د جبري بې ځایه کیدنې تر شرایطو لاند ې ژوند کوي ، لکه څرنګه چې هغوي د بیړنۍ ساتنې اړتیاوې لري.

---

[6] دغه تعریف "د داخلي بېځایه کیدنې په اړه د ملګرو ملتونو په لارښودو اصولو" کې وړاندې شوی.

نور هغه وګړی چې د عام او کورني تاوتریخوالي له کبله په ځانګړي ډول زیانمنیدونکي دي عبارت دی د ښځو (د کورنیو مشرې ، امیندواره میندې ، ماشوم لرونکې میندې او معیوبې ښځې) د زیات عمر درلودونکي ، د مزمنو ناروغیو درلودونکی او معلولین. همدارنګه د تبعیض له کواښ سره مخ هغه وګړی دي ، څوک چې د کوربه وګړو په پرتله له مختلف قوم یا مذهب سره تړاو لري ، یا د کمزوري ټولنیز ،اقتصادي وضعیت درلودونکي وي.

پالېسي دا تصدیق کوي ، چې د دغه ډول داخلي بېځایه شویو کسانو د حقونو د ساتنې او د هغوي د اړتیاوو د معلومولو لپاره باید ځانګړي ګامونه پورته کړای شي ، څو دا یقیني کړي چې له دوي سره د هغوي د بې ځایه کیدنې له امله تبعیض نه کیږي او د قانون مساوي ملاتړ لري.

### ۳. ۳ د داخلي بېځايه شويو پېژندنه او ثبتونه

دغه پالېسي:

الف. داخلي بې ځايه شويو ته کوم ځانګړي حقوقي موقف نه ورکوي ، بلکې د هغو وګړو اوسنی حالت تشریح کوي ، چې د بې ځايه کيدنې له امله ځانګړي زيانمنتوبونه او اړتياوې لري.

ب. د داخلي بېځايه شويو لپاره عمومي ثبتونه نه برابروي.

ج. دا تصديق کوي ، چې داخلي بې ځايه شوي کس کيدای شي د اړتيا پر مهال د ځانګړو موخو لپاره تشخيص او ثبت شي. په ځانګړي ډول ، انفرادي پيژندنه او ثبتونه:

۱. د بشري مرستو د ويش ، ميشت ځايونو ته د لاس رسي ، د ځمکو د ويش ، د رايه ورکوونکو په حيث ثبتونه ، دزيان جبران برابرول يا پلان شوي راستنېدنه يا د بيا ځای پر ځای کولو د عملياتو په څېر د هدفي منځګړيتوبونو لپاره مناسب ده ؛

۲. داخلي بېځايه کيدنې ته د ساحې په اساس (په تيره بيا په ښاري سيمو کې) د غبرګونونو په پيښو کې ، چې د داخلي بېځايه شويو کسان څرګندې پيژندنې ته اړتيا نشته ، د نوم ثبت ضرور نه ده ؛ په داسې شرايطو کې د پلان د دغه ډول غبرګونونو د تطبيق کولو په موخه عمومي ارزونه (general profiling) کافي ده.

د. دا تاييدوي ، چې د داخلي بېځايه شويو پيژندنه او تصديق په ولايتونو کې د کډوالو او بېرته راستيدونکوچارو د وزارت د رياستونو له لارې د نوموړي وزارت مسووليت دی ، خو کيدای شي چې د کډوالو له وزارت سره په دغه چاره کې د بشرپالنې د ټولنې له خوا ، په ځانګړي ډول د داخلي بېځايه شويو د ولايتي کاري ځواکونو ګروپ يا د نورو همغږي کوونکو ميکانيزمونو له خوا چې کيدای شي رامنځ ته شي ، مرسته وشي.

هـ. همدرانګه تصديق کوي ، کوم وګړي چې د دې پالېسي په ۳,۱ برخه کې د داخلي بېځايه شويو په څېر معرفي شوي ، بايد داخلي بېځايه شوي کسان وګڼل شي ، پرته له دې چې په پام کې ونيول شي ، چې ايا هغوي د بې ځايه کيدنې په ټاکل شويو سيمو کې يا په ښاري سيمو کې د نا بې ځايه شويو سره يو ځای ژوند کوي ، يا دا چې په عين ولايت کې بې ځايه شوي او که کوم بل ولايت ته لاړ دي او پرته له دې چې د هغوي د بې ځايه کيدنې لامل ، موده ، اصليت او ټبر په پام کې ونيول شي.

و. دا تاييدوي ، په دې موخه څو معلومه شي چې د داخلي بېځايه شوي په څېر څوک د دې وړ دی او څوک نه دی چې له ګټو څخه برخمن شي ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو له وزارت ، د ملي کاري ځواک ګروپ ، واليانو ، ولسوالانو ، ولايتي شوراګانن ، او يا ښاروالانو سره په مشوره معيار وټاکي لکه څرنګه چې په پنځمه ضميمه کې د "ګټه اخيستونکو د غوره کولو" په برخه کې په ګوته شوی.

### ۴,۳ بې ځایه کېدنه کله پای مومي

داخلي بېځایه کېدنه له یو شمیر ځانګړو ګواښونو او زیانمنتوبونو سره د مخ کیدو په مانا ده. بې ځایه کېدنه هغه مهال پای ته رسیږي کله چې د داخلي بېځایه شویو لپاره پایښت لرونکي حل لارې پیدا شوې وي ، چې له هغه وروسته نور دوی په بې ځایه کیدنې پورې اړونده ځانګړې اړتیاوې و نه لري او د نورو افغانانو په څېر له ورته حقونو څخه برخمن وی. په ځانګړې ډول د داخلي بېځایه شویو وضعیت هغه مهال پاې ته رسیږي ، کله چې:

الف. هغوي پخوانیو میشت ځایونو ته په خپلې خوښې او خوندي ستانه شي ، په داسې یوه ځای کې ژوند وکړي چې خپلې ځمکې ته د لاس رسي کومه اندیښنه و نه لري او د نورو هغو وګړو په څېر چې نه وي بې ځایه شوي ، بنسټیزو خدمتونو او د ژوندانه امکاناتو ته برابر لاس رسی ولري ؛ یا

ب. داخلي بېځایه شوي کسان په خپله خوښه دا پریکړه کړې وي چې د هیواد په بله کومه برخه کې د تل لپاره میشت شي او د دغه کار په ترسره کولو وتوانیږي ، په داسې یوه ځای کې ژوند وکړي چې خپلې ځمکې ته دلاس رسي کومه اندېښنه و نه لري او د نورو هغو وګړو په څېر چې نه وي بې ځایه شوي ، بنسټیزو خدمتونو او د ژوندانه امکاناتو ته برابر لاس رسي ولري.

### ۴. د ټولنو ونډې او مسوولیتونه

### ۴,۱ د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي مسوولیتونه

افغان حکومت په ملي ، ولایتي او ښاروالي کچو کې د ټولو داخلي بېځایه شویو او له بې ځایه کیدنې څخه د اغیزمنو شویو ټولنو د ساتنې او مرستې کولو لومړني او اساسي مسوولیت لري. داخلي بېځایه شویو ته دغه ساتنه او مرسته باید په هر بیړني حالت کې د ژوند ساتلو له ستراتیژیکانو سره د بشرپالنې ، د هغوي د بې ځایه کیدنې پرمهال د دې یقیني کولو له لارې چې د بې ځایه شویو ټولو حقونو ته درناوي شوي او د هغوي بنسټیزه اړتیاوې پوره شوي او د پایښت لرونکو حل لارو د لټون له لارې د بې ځایه کیدنې د پای ته رسولو په اساس ترسره شي.

دا د افغانستان داسلامي جمهوریت مسولیت دی څو ډاډ تر لاسه کړي چې داخلي بېځایه شوی په ټولو پرمختیایي ملي پلانونه او په ځانګړي ډول د لومړیتوبونو په ملي پلان کې شامل دي.

### ۴,۲ د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو وزارت

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو وزارت د داخلي بېځایه کیدنې ستونزې ته د رسیدګي اړونده رهبري کوونکی حکومتي وزارت دی:

**د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت لاندې دندې لري**

الف. په ملي کچه د داخلي بېځایه کیدنې په اړه د ټولو اړونده موضوعګانو لپاره د سکتوري اصلي اداړې او وروستنۍ مرجع په څېر دنده ترسره کوي.

ب. د پالېسي لپاره د یوه ملي تطبیقي پلان جوړول.

ج. له نورو وزارتونو ، د پیښو پر وړاندې د مبارزې له ملي اداړې ، د ولایتي او ښاروالي له چارواکو ، داخلي بېځایه شویو او ځپل شویو ټولنو ، مدني ټولنې ، ملګرو ملتونو ، نورو نړیوالو سازمانونو او مرستندویه ټولنې سره د دغې پالېسي پلي کول همغږي کوي. نو په دې موخه ، دغه وزارت:

۱ . د کډوالو ، بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو په اړه د بین الوزارتي د همغږۍ د کمیټې مشري کوي ، څو دا یقیني کړي چې په ملي ، ولایتي او ښاروالي کچه د بې ځایه کیدنې په اړه ځانګړې اړتیاوې د اړونده وزارتونو په سکتوري قوانینو ، پالېسي ګانو ، پلانونو او پروګرامونو کې شاملې دي.

۲. د داخلي بېځايه کېدنې د ملي کاري ځواک چې د نړيوالې ټولنې ، مدني ټولنې او د افغانستان دبشري حقونو د خپلواک کميسيون له غړو څخه جوړ شوی ، مشري کوي.

۳ . د بهرنۍ ټولنې په اړوندو د همغږۍ په ليدونو کتونو کې ، د بشري کواردينايټور نړيوالې ټولنې په غوښتنه ، د ټولنېزې ساتنې/ملاتړ په اړه په بين الوزارتي کميټې کې کېدون کوي.

۴ . د ملګرو ملتونو د بشرپالنې د کواردنيټور د مشورو په اساس د نړيوالې ټولنې د همغږۍ په نورو اړوندو غونډو کې ګډون کوي.

۵ . په ولايتي کچه د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو د رياستونو له لارې د سيمه ييزو چارواکو لپاره لارښوونې او سلا مشورې برابروي.

د. د معلوماتو د راټولولو د اوسني ظرفيت پر بنسټ د معلوماتو د تنظيم يو متحد سيستم رامنځ ته کوي ، څو د بې ځايه کېدنې د وضعيت په اړه د معلوماتو راټول ، همغږۍ ، پلان او د بيړني حالت له پيل څخه د هغوي د پايښت لرونکو حل لارو تر لاسه کولو پورې د بې ځايه شويو خوځښت معلوم کړي ، او له نورو فعالينو سره د معلوماتو جريان يقيني کوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري(UNHCR) ، د کډوالو د نړيوال سازمان(IOM) او د نورو فعالينو په همکارۍ.

هـ . د دغې پالېسي له ۸،۲ برخې سره سم د داخلي بېځايه کېدنې د پايښت لرونکو حل لارو په اړه د ولايتي عمل پلانونو د جوړولو ملاتړ او همغږي کول.

و. د بيړنيو مرستو (د مثال په ډول ، د دې يقيني کول ، چې بې ځايه شوي وګړي خوړو ، اوبو ، پناه ځای ، روغتيايي پاملرنې ، ساتنې او نورو بنسټيزو اړتياوو ته لاس رسي لري) د برابرولو په ګډون د ملاتړ اړوند فعاليتونو او پروګرامونو پلان ، تنظيم او همغږي کول.

ز. د دې يقيني کول ، چې د ساتنې/ملاتړ اړوند په ټولو فعاليتونو او مرستندويه پروګرامونو کې هم د پلان کولو او هم د تطبيق په پړاونو کې د ښځو په ګډون له اغيزمن شويو وګړو سره ريښتيني سلا مشورې ترسره شوې.

ح. د پالېسي او قانون جوړونې د تشو پېژندل او د دې ډاډمن کول چې د موضوع ټولې پيچلتياوې په بشپړ ډول پېژندلې او منعکسې شوي ، او هغه ستونزې چې د دې پالېسي له امکاناتو څخه بهر دي په مناسب ډول په ډاګه شوي.

ط. له نړيوالې ټولنې سره همغږي کول ، څو دا يقيني کړي چې داخلي بېځايه کېدنه په مناسب ډول د هغوي په پلانونو ، پروګرامونو او پروژو کې په ډاګه شوې ، او

ی. د دغې پالېسي له ۹ برخې سره سم ، د سرچينو بسيج کول.

افغان حکومت ، نړيواله ټولنه او نور شريکباني په دغې پالېسي کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د وزارت د غښتلي کولو اړتيا تصديق کوي ، څو مخکښه رول ولوبوي ، په ځانګړي ډول د نومووړي وزارت د بشري منابعو د ظرفيت ، د معلوماتي سيستم د تنظيم او همدارنګه د مالي سرچينو د زياتولو اړتيا.

### ۳،۴ همغږي کوونکي نهادونه

#### ۴،۳،۱ د کډوالو ، بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو لپاره د همغږۍ او بين الوزارتي کميټه (ICCM)

د کډوالو ، بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو په اړه د بين الوزارتي کميټې په مسووليتونو کې لاندني مسوليتونه شامل دي:

الف. د بې ځایه کیدنې د عواملو او د بېرته راستنېدنې یا ځایی کیدنې د خنډونو په ګډون ، د داخلي بېځایه کیدنې د وضعیت په اړه د یوه عمومي تفاهم یقیني کول ؛

ب. د داخلي بېځایه شویو د دغې پالېسي د پرمختګ او تطبیق په اړه د سلا مشورو برابرول ؛

ج. د حکومتي ارګانونو ترمنځ د داخلي بېځایه شویو لپاره د هغوي د مسوولیت د ساحې اړوند رسمي نقشونو او مسوولیتونو د څرګند وېش یقیني کول ؛ او

د. د داخلي بېځایه کیدنې د پالېسي د تطبیق لپاره د بودجوي امکاناتو د برابرونې سپارښتنه.

### ۴,۳,۲ دپیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره (ANDMA)

دپیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره هغه مخکښه غوره شوې اداره ده ، چې د هغو وګړو لنډ مهالو بیړنیو اړتیاوو ته چټکه رسیدګي کوي څوک چې د طبیعي پېښو څخه اغیزمن او بې ځایه شوي.

الف. دغه اداره د طبیعي پېښو په حالاتو کې بیړنی غبرګون او له پېښې وروسته رغنیزې هڅې همغږې کوي. د نوموړې ادارې مسوولیتونه " دپیښو پر وړاندې د مبارزې له ملي ادارې سره د غبرګون د تنظیم او چمتوالي په قانون" کې تنظیم شوي او لاندني ټکي په کې شامل دي.

۱. په بیړني حالت کې د پېښې د کچې معلومول ، د بیړنیو عملیاتو د مرکز مشري او فعال کول ، د چټکې ارزونې /ګړندي غبرګون د ټیم بسیج کول ؛

۲. له پېښې څخه وروسته د بیا رغونې په پړاو کې د پېښې د پای ته رسیدو اعلانول او له پېښې څخه وروسته د رغینزو چارو مشري کول ؛

۳. د طبیعي پېښو د مخنیوي او کمونې اړوند د بیړنیو پلانونو جوړول او د مخکې نه د خبرداري ورکولو د معلوماتو خپرول.

ب . دپیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره همدارنګه په هیواد کې د ماین پاکې د ریاست له لارې د ماین پاکولو مسووله ده. دغه ریاست د افغانستان د ماین پاکې د همغږی د مرکز په ګډون ، په افغانستان کې د ماین پاکې ټولې چارې همغږې کوي.

ج . د بې ځایه کیدنې په اړه ټول روان فعالیتونه او پروګرامونه ، دپیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره په ملي کچه خپل کار د کډوالو او بېرته راستنېدونکو له وزارت او په ولایتي کچه د نوموړي وزارت له ریاستونو او همدارنګه نورو اړونده فعالینو سره همغږي کوي.

### ۴,۳,۳ د پېښو پر وړاندې دمبارزې عالي دولتي کمیسیون (NCDM)

دپیښو پر وړاندې د مبارزې عالي دولتي کمیسیون د زیانمنتوب د کمونې او بیړنیو حالاتو ته د ځواب ویلو له لارې د پېښو د ګواښ د کمولو په لور د ملي پالېسي د سوق کولو اصلي ارګان دی. دپیښو پر وړاندې د مبارزې عالي دولتي کمیسیون مشري د ولسمشر دوهم مرستیال له خوا او د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره یې په ملي کچه د سکرتیت او اصلي اجرایي ارګان په حیث کار ترسره کوي. دپیښو پر وړاندې د مبارزې عالي دولتي کمیسیون له ۲۰ څخه د زیاتو کلیدي وزارتونو او نورو کلیدي ادارو سکټورونه غړیتوب لري ، چې د پېښو د دسمون په برخه کې مهم نقش لوبوي.

الف . دپیښو کمونی د ادارې د قانون سره سم ، د پېښې د تنظیم موخې له خطرونو څخه د بالقوه زیانونو کمول (مخنیوی کول که شوني وي)، د اړتیا پر مهال له قربانیانو سره د ګړندیو او مناسبو مرستو یقیني کول ، او د چټکې پایښت لرونکې رغونې تر لاسه کول د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي ادارې موخې جوړوي.

ب . د دغې پالیسي پر بنسټ ، دپېښو پر وړاندې د مبارزې عالی دولتي کمیسیون مسوولیتونه د راتلونکو فعالیتونو د ترسره کولو له لارې د بې ځایه کېدنې مخنیوی او د پېښو د اغېزو راکمول دي:

۱. د پېښې د مخنیوي په موخه د ستراتیژیکو ګامونو تشخیص او تنظیمول ؛

۲. د چمتوالي د ملي تمویل شویو پلانونو ، غبرګونونو او د بیا رغونې د پلانونو تصویبول ؛

۳. د ملي بیړني حالت همغږي ؛

۴ د ملي او احتیاطي پالیسي جوړونه ؛

۵. د پېښې د مرستې په موخه د ترسره شویو مالي منابعو تنظیمول ؛ او

۶. د سترو بیړنیو حالاتو پر مهال د نړیوالې مرستې بسیج کول.

### ۴,۴ پلي کوونکې دولتي ادارې

**۴,۴,۱** د داخلي بېځایه شویو په وړاندې د اړونده وزارتونو او دنورو حکومتي ادارو په ګډون سکتوري مسوولیتونه

دغه پالیسي د داخلي بېځایه شویو په وړاندې د سکتوري مسوولیتونو درلودونکو اړونده وزارتونو او نورو حکومتي ارګانونو نقشونه تاییدوي ، په ځانګړي ډول د عامې روغتیا ، د پوهنې ، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ، د کرنې ، اوبو لګونې او مالدارۍ ، د ښاري پرمختیا د چارو ، د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو ، د ښځو د چارو ، د عدلیې ، د دفاع ، د مالیې ، د اقتصاد او د حج او مذهبي چارو د وزارتونو او د سیمه ییزې حکومتدارۍ د خپلواک ریاست په ګډون.

د داخلي بېځایه شویو کسانو اړوند له دغو وزارتونو/ارګانونو څخه هر یو به خپل مسوولیتونه د هغو لومړیتوبونو او ستراتیژیګانو سره په همغږۍ کې ترسره کوي ، کوم چې د کډوالو او بېرته راستېندونکو چارو د وزارت او د همغږۍ د بین الوازرتي کمیټې له خوا جوړ شوي وي. په ځانګړي ډول دغه وزارتونه به د کډوالو او بېرته راستنېدونکو له وزارت سره په همغږۍ کې ، راتلونکې چارې پرمخ وړي:

الف. خپل سکتوري قوانین او پالیسي ګانې بیا ګوري ، څو دا یقیني کړي چې هغه داخلي بېځایه شوي کسان او له بې ځایه کیدنې څخه اغیزمنې شوې ټولنې ، د هغوي ځانګړې اړتیاوې او زیانمنتوبونه رانغاړي او هغه له حالاتو او شرایطو سره سم برابروي ؛

ب . خپلې پلان او پروګرام جوړونې تر سکتوري قوانینو او پالیسي ګانو لاندې بیا ګوري ، څو دا یقیني کړي چې داخلي بېځایه شوي کسان له بې ځایه کیدنې څخه اغیزمنې شوې ټولنې د دغه ډول پروګرامونو ګټو ته له نا بې ځایه شویو افغانانو سره د برابرۍ پر بنسټ لاس رسي لري ؛

ج . د دغې پالیسي او ولایتي عمل پلانونو سره سم د هغوي په سکتوري پلانونو ، پروګرامونو او پروژو کې د داخلي بېځایه شویو کسان او له بې ځایه کیدنې څخه د نورو متاثره شویو ټولنو د مشخصو اړتیاوو ځای کول.

د مشخصو وزارتونو او ارګانونو نقشونه په مفصل ډول په دویمه ضمیمه کې تشریح شوي.

### ۴,۴,۲ ولایتي او نورو سیمه ییز چارواکي

۴,۴,۲,۱ دغه پالیسي د داخلي بېځایه شویو کسانو په وړاندې د والیانو او ولسوالانو مسوولیت د هغوي په اړوندو ولایتونو کې تر ملي او اساسي قانون لاندې ، تصدیق کوي. په ځانګړي لاندې ډول ،

الف. والیان په خپلو اړوندو ولایتونو او ولسوالیو کې بیړني حالت ته د غبرګون او چمتوالي مسوول دي.

ب. د پېښو پر وړاندې د ولايتي كميټې رياست (PDMC) مشري كوي ، چې خپل كړون كوونكي له اړونده حكومتي رياستونو ، د ملكرو ملتونو او نورو نادولتي سازمانونو او د بشرپالنې د سيمه ييزو او ولايتي ټيمونو څخه راجذبوي ، كوم چې د پېښو پر وړاندې د ولايتي كميټيو سره همغږي ترسره كوي.

ج . د دغې پالېسي له ۸ او ۹ برخو سره سم د تمويل د ستراتيژۍ په كړون د پايښت لرونكو حل لارو لپاره د ولايتي عمل پلانونو د جوړولو مسوول دي ، څو وكولای شي دغه پالېسي په خپلو اړوندو ولايتونو كې پلې كړي ؛ او

د . د كورني بې ځايه شويو كسان لپاره د ځمكې د تخصيص په پلانونو كې عمده رول لري ، څو دا يقيني كړي چې دغه پلانونه پايښت لرونكي دي ، ځمكه په عادلانه او شفافه طريقه تخصيص شوې او دغه چارې د مخكې څخه له ټاكونكي معيار سره سم ترسره شوې دي.

دا پالېسي دا په ډاګه كوی چې ولسوالان ښاروالان او د ښاروالیو نور چارواكي د اساسي قانون پر بنسټ او دنورو ملي قوانينو په درشل كې د داخلي بېځايه شويو پر وړاندې په خپل خپل ولايت كې ځانګړي مسووليتونه لري په خاصه توګه ولسوالان ، ښاروالان او ښاروالیانې ، بايد:

الف. په خپلو پرمختيايي پروګرامونو ، پلانونو او فعاليتونو كې داخلي بېځايه شوي كسان په پام كې ونيسي.

ب. يقيني كړي ، چې د دوي په اړوندو سيمو كې داخلي بېځايه شوي كسان ، د اوسيدو خدمتونو لكه روغتيا ، ښوونه ، په ګاونډ كې خونديتوب او همدارنګه د ژوندانه امكاناتو ته له نورو سره په برابر ډول لاس رسي لري.

ج. د ولسواليو او ښاروالیو كاري پلانونه طرح كړي ، چې د دغې پالېسي له ۸،۲ برخې سره سمون ولري.

د. په غير رسمي ميشت ځايونو او تر غير معياري شرايطو لاندې چيرې چې ګڼ شمېر بې ځايه شوي كډوال اوسيږی دوی لپاره داسې ستراتيژۍ په پام كې ونيسي ، چې غير رسمي ميشت ځايونو ته رسميت وركړي ، او د ژوندانه شرايط يې بهتر شي او په ښارونو كې د بې وزلو وګړو لپاره د داخلي بېځايه شويو كسانو په كړون ، د ټيټې بيې توليز كورونه برابر كړي.

هـ. يقيني كړي ، چې د دوي په ولسواليو او ښاروالیو كې چې كوم بې ځايه شوي وګړي مجبور يا تر دې خطر لاندې نه دي ، چې په جبري ډول و ايستل شي.

و. د كلنۍ بودجې په طرح كې هغه ځانګړې اړتياوې په پام كې ونيسي چې د داخلي بېځايه شويو په ذريعه رامنځ ته شوي دي.

**همغږي**

خپل فعاليتونه د محلي حكومتداري د خپلواك رياست له لارې په ملي كچه همغږي كوي چې د ګډوالو او بېرته راستنېدونكو له وزارت سره به هم همغږه شي. چيرې چې ممكن وي ولايتي مقامات خپل فعاليتونه د ګډوالو او بېرته راستنېدونكو د رياستونو او واليانو سره همغږه كړي.

### ۴،۴،۳د افغانستان د بشري حقونو خپلواک كميسيون (AIHRC)

دغه پالېسي د افغانستان د اساسي قانون د ۵۸ مادې له مخې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک كميسيون نقش د بشري حقونو د ملي موسسې په ډول پيژني ، چې په افغانستان كې د بشري حقونو وضعيت تر څارنې لاندې نيسي ، هغه غښتلې كوي او ساتي ، له بشري حقونو څخه د سرغړونو مسالې تر څيړنې لاندې نيسي او په هيواد كې د بشري حقونو د پرمختګ او ښه والي لپاره ګامونه ترسره كوي.

څرنګه چې د دغې پالېسي په ۱۰ څپرکي کې ویل شوي ، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون به  په کمیټه  کې د دغې پالېسي د تطبیق په څارنه کې ګډون وکړي او په  مشخصه  توګه د داخلي بېځایه شویو کسانو د حقوقو په اړه راپورونه ورکوي چې د هغوي د حقوقو د ساتنې او درناوی شوی دی.

### ۴٫۵ د نړیوالې ټولنې ونډه

دغه پالېسي:

الف . د نړیوالې ټولنې نقش په ټولیز ډول د بشرپالنې ، پرمختیا ، بشري حقونو او د سولې د جوړونې د فعالینو په ګډون په لاندې مواردو کې تاییدوي:

۱. د حکومت د بشرپالنې له هڅو څخه ملاتړ کول ، څو داخلي بېځایه شویو کسانو او له بې ځایه کیدنې څخه د اغیزمنو شویو ټولنو لپاره په بیړنیو حالاتو کې او همدارنګه د لنډ مهاله او د اوږدې مودې په بې ځایه کېدنه کې مرسته او ساتنه برابره کړي ؛

۲. په افغانستان کې د داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د پایښت لرونکو حل لارو په پیدا کولو ، ساتلو او غښتلي کولو کې مرسته کول ؛

۳. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو له وزارت سره د معلوماتو په راغونډولو او تحلیل کې مرسته کول ؛

۴. له حکومت سره د بیړنیو پلانونو په برابرولو کې مرسته کول ، څو په راتلونکي کې د احتمالي بې ځایه کیدنو لپاره تیاري ونیسي ؛

۵. د اړونده همغږیو د میکانیزمونو ، د مشورتي کمیټو د کاري ځواکونو د غړو په توګه کار کول ، څو د دغې پالېسي تطبیق یقیني شي.

ب. په خاص ډول د بشریت د بشرپالنې اصول ، بې طرفي ، خپلواکي او بې پلوي او د نړیوالې ټولنې له خوا د دغو اصولو د تطبیق درناوی کوي.

ج. د بشرپالنې او پرمختیا د فعالینو ترمنځ د زیاتې همغږي اړتیا بیانوي او په ځانګړي ډول په پرمختیایي او د ښار جوړونې په پلانونو کې په بې ځایه کیدنې پورې د اړوندو ځانګړو عنصرونو شاملول ، غواړي.

د. د ملګرو ملتونو د بشرپالنې د همغږي کوونکی مسوولیتونه یادوي ، چې د بشرپالنې او پرمختیا د فعالینو ترمنځ پلانونه او پروګرامونه سره یو ځای او همغږي کوي او په دغې پالېسي کې د ځای شویو اصولو له مخې رهبری کیږي او د دغو فعالیتونو لپاره د تمویل سرچینې پیدا کوي.

هـ. د نړیوالو غیر حکومتي سازمانونو ، همدارنګه د ملګرو ملتونو د ادارو او نورو بشردوستانه فعالینو د رول اهمیت تصدیق کوي.

و. په افغانستان کې د بې ځایه شویو کسانو د تقویې او ساتنې لپاره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو مرستندویانو/ ډونرانو د نقش اهمیت پیژني ، چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د وزارت او د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون سره د دوي د ماموریتونو په سرته رسولو کې ، چې د دغې پالیسې له مخې یې ترسره کوي ، مرسته کوي.

ز. له ډونرانو څخه غوښتنه کوي ، چې د دغې پالېسي سره سم د پایښت لرونکو حل لارو په موخه د عمل د پلانونو له تطبیق سره مالي مرستې ترسره او نور پروګرامونه او پروژې غښتلې کړي ، چې د دغو اصولو له مخې باید پلې شي ، او د دغې پالېسي د تطبیق لپاره انعطاف منونکي مالي مرستې ومني چې د بشرپالنې او پرمختیا د هڅو یو ځای کول د یوې اړتیا په څېر پیژني.

### ۴,۶ د افغانستان مدني ټولنه

دغه پالېسي تصديق کوي ، چې مدني ټولنه لکه غير حکومتي سازمانونه ، د ټولنې پر بنسټ سازمانونه او مذهبي شوراګانې ، لاندې دندې پرمخ وړي:

الف. د حکومت د هڅو په غښتلي کولو کې ، چې بې ځايه شويو ټولنو ته ورسيږي ، د دوي اړتياوې و ارزوي ، او هغوي ته بيرنۍ مرستې برابرې کړي ، مهم نقش لوبوي ؛

ب. له بې ځايه شويو ټولنو سره مرسته کوي ، څو په هغو پريکړو کې برخه واخلي ، چې د دوي پر ژوند اغيزه کوي ، په دې موخه مناسبې اتحادې او شبکې رامنځ ته کړي او که اړتيا وي له دوي څخه استازيتوب وکړي ؛

ج. د پروګرامونو او فعاليتونو په طرح کولو کې مهم نقش لوبوي ، چې له کورني بې ځايه شويو ټولنو سره مرسته ترسره او د هغوي پايښت لرونکې حل لارې پيدا کړي ، لکه د ژوندانه د نويو امکاناتو رامنځ ته کول او د نويو مهارتونو زده کول ؛

د. د دغې پالېسي د تطبيق په څارنه کې مهم رول لري ؛

هـ. د بشريت ، بې طرفي ، خپلواکي او بې پلوي د بشردوستانه اصولو درناوي کوي ؛

و. د مناسبو شبکو او ميکانيزمونو له لارې له بې ځايه شويو ټولنو سره د مرستې په موخه خپل فعاليتونه همغږي کوي.

### ۷,۴داخلي بېځايه شوي او له دوي څخه نورې اغيزمنې شوې ټولنې

دغه پالېسي تصديق کوي ، چې

الف. کورني بې ځايه شوې وګړي او له بې ځايه کيدنې څخه اغيزمنې شوې ټولنې ، په خپلو اړتياوو تر ټولو ښه پوهيږي.

ب. د شوراګانو ، خپلو مشرانو او نورو اتحاديو له لارې چې دوي يې جوړوي ، څو خپلې نظريې او انديښنې څرګندې کړي او دوي به په ټولو سترو پريکړو کې د برخه والو په څېر ګڼون کوي ، چې له دوي سره د بيرنيو مرستو او د بې ځايه کيدنې لپاره د پايښت لرونکو حل لارو په موخه پروګرامونه ، فعاليتونه او ستراتيژي ګانې تصويب کوي.

ج. بې ځايه شوې ټولنې بايد هڅه وکړي چې د ښځو ، نارينه وو ، د زيات عمر درلودونکو وګړو ، تنکي ځوانانو ، ماشومانو او معيوبينو نظريې راغونډې کړي.

### ۸,۴ د پالېسي ملاتړ

له دغې پالېسي څخه بايد لاندې برخه وال بې له کوم توپيره پيروي وکړي:

الف. د ټولو چارواکو او برخه والو له خوا چې په ۴,۱ او ۴,۷ برخو کې يې يادونه شوې.

ب. د خصوصي سکتور

ج. د غير دولتي فعالينو ، د غير دولتي وسلوالو وګړو ،د حکومت ضد عناصرو او په افغانستان کې دې ته ورته ډلو له خوا. د دغې پالېسي پيروي دا مانا نه لري چې د دوي قانوني موقف په رسميت وپيژندل شي.

### ۵ ، د ناقانوني بې ځايه کيدنې د مخنيوي لپاره اړين ګامونه

دغه پالېسي تاييدوي ، چې د خلکو له بې ځايه کيدنې څخه د مخنيوي په موخه د شرايطو برابرول د افغان حکومت يو مسووليت دی ، چې په دې هيواد کې ټول اوسيدونکي وګړي وژغوري. لکه څنګه چې د داخلي بېځايه کيدنې په اړه په لارښودو اصولو کې تشريح شوي دي ، ملي ادارې (د ولايتي او ښاروالي د ادارو په ګډون) بايد د داسې شرايطو مخنيوی وکړي ، چې په بې ځايه کيدنې

تماميږي ، او حتمي بې ځایه کیدنې کچه را ټیټه ، ناوړه اغیزې یې راکمې او دا یقیني کړي ، چې هیڅ یوه بې ځایه کېدنه تر ډېر هغه وخته دوام نه کوي ، چې حالات یې غوښتنه کوي.

**۱،۵شخړې ، نظامي عملیات ، عمومي تاوتریخوالي او له بشري حقونو څخه سرغړونې**

**۵،۱،۱ جرمي کړنې او له بشري حقونو څخه سرغړونې**

څرنګه چې افغانستان د شخړې په حال کې دی ، او په هیواد کې ډېری داسې برخې شته چیرې چې افغان ملي امنیتي ځواکونه اغیزمن کنترول نه لري ، افغان حکومت به څرګنده کړي ، چې د حکومت ضد عناصر او نورې وسله والې ډلې ، نړیوال ځواکونه او همدارنګه خپل ځواکونه به له بشري حقونو څخه د سرغړونو له امله مسوول وګڼي ، چې د جبري بې ځایه کیدنې سبب ګرځي ، لکه د لاندې کړونو په څېر:

الف. له حقونو او ازادیو څخه د ګټې پرمهال د وګړو په وړاندې تبعیض/توپیر ؛

ب. د ځمکو غصبول ، چې خلک د خپلو ځمکو او ملکیتونو پرېښودلو ته اړ باسي ؛

ج. نسل وژنه ، د بشریت په ضد جنایتونه ، جنګي جرمونه ، او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه نورې سر غړونې ؛

د. بیرونې ، تهدیدونه او ډارونې ، نا قانونه وژنې ، په خپل سر اعدامول ، د سرونو غوڅول ، ناقانونه توقیف کول ، تښتونې ، جبري تري تم کول یا شکنجه او د غیر انساني ظالمانه او توهین کوونکي چلند یا جزاګانو شکلونه ، لکه د بدن څخه د غړو غوڅول ؛

هـ. د جنسیت پر بنسټ جنسي تاوتریخوالی له ټولو شکلونو سره ، په ځانګړې ډول جنسي تیري ، په جبري ډول فاحشګري ، وختي ودونه او په جبر سره واده ، جنسي استثمار او زیان رسونکي دودیزې کړنې ، مربتوب د وسله والو ډلو یا ځواکونو له خوا د کوچنیانو ګمارنه او یو ځای کېدنه ، جبري کار او د انسانانو قاچاق ؛ او

و. د خوړو په حق کې مداخله کول ، لکه داسې کړنې چې د خوړو خوندیتوب ته زیان ورسوي.

د افغانستان اسلامي حکومت به د جینوا د ۱۹۴۹ د تړون او د ۱۹۷۷ کال د پروتوکول سره سم لاندې کارونه ترسره کړي:

ز. د ملکي وګړو په میشت ځایونو کې له نظامي عملیاتو څخه مخنیوی ، که چیرې د دې ګواښ وي چې ملکي وګړي بې ځایه کیږی یا دوي ته تاوان رسیږي.

ح. د هغو ټولنو او وګړو لپاره د خوندي لارو برابرول چې د شخړو ، نا امنیو ، یا د طبیعي پېښو له امله خپل ځایونه پریږدي.

ط. د هغو خلکو لپاره د بشري مرستو د رسولو په موخه د خوندي لارو برابرول ، چې مرستو ته اړتیا لري.

ی. د ټولو هغو بریدونو او تاوانونو په بسیا او خپلواک ډول څیړل ، چې د بې ځایه کیدنې ، د ملکي خلکو د وژنې او د دوي د معیشت د وسایلو او کورونو له لاسه ورکولو لامل ګرځیدلې دي.

ک. د دې یقیني کول ، چې د نظامي عملیاتو په پایله کې بې ځایه شویو او اغیزمنو شویو ټولنو ته ، د تاوانونو جبران.

**۵،۱،۲ د قوانینو بیا کتنه**

د عدلیې وزارت باید اوسني قوانین تر بیا کتنې لاندې ونیسي ، څو احتساب او همدارنګه د بې ځایه شویو کسان لپاره عدالت ته لاس رسی او د تبعیض/توپیر ضد ضمانتونه یقیني شي ، او که چیرې اړتیا وي اوسني قوانین باید تعدیل یا د نوموړي وزارت له خوا د نوي قانون مسوده جوړه او ولسي جرګې ته وړاندې شي.

### ۳.۱.۵ قومي او قبيلوي شخړې

که چيرې قومي او قبيلوي شخړي او اختلافونه خلک بې ځايه کيدنې ته اړ باسي ، نو دا لاندې کارونه بايد ترسره شي:

الف. افغان حکومت بايد د منځګړيتوب د ټيمونو ليږد جاري وساتي ، څو داسې حل لارې پيدا کړي ، چې د بې ځايه کيدنې مخنيوي کوي.

ب. د دې مقصد لپاره د منځګړيتوب يوه کميټه جوړوي ، چې د منځګړيتوب پروسه وڅاري او د منځګړو بې طرفي او همدارنګه د احتساب او شفافيت اصول يقيني کړي ، او ټولې هڅې ترسره کړي ، چې ژر تر ژره غبرګون وښايي.

ج. د دې کميټې ترکيب بايد پراخ بنسټ ولري او د پارلمان ښځينه او نارينه غړي د سرحدونو او قبايلو د چارو د وزارت استازي او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او د نورو تر څنګ د مدني ټولنې استازي په کې ګډون ولري.

### ۴.۱.۵ چاوديدونکي توکي او د جګړې پاتې شونې

دغه پالېسي تصديق کوي ، چې:

الف. په افغانستان کې يو له سترو اوسنيو ګواښونو څخه له جګړې څخه د پاتې شويو چاوديدونکو توکو شتون دی ، د ماينونو او ناچاودو توکو په ګډون ؛7

ب. خپل ژوند او د معيشت امکاناتو ته د وګړو د خوندي راستنېدنې او ټولنېزې ،اقتصادي پرمختيا دترسره کولو لپاره د ماينونو ايستل يو مهم شرط دي ؛

ج. د ژوندانه د امکاناتو او مېشتېدنې لپاره په زياته کچه حاصل ورکوونکو ځمکو ته د لاس رسي نه شتون ، يوازې بې وزلي غښتلې ، ټولنې بې ثباته او د ټولنېز-اقتصادي پرمختګ لپاره امکانات کمزوري کوي.

دا پالېسي د افغانستان د ماين پاکۍ د پروګرام د کار اهميت تصديق کوي ، کوم چې د افغانستان د ماين پاکي د همغږي د مرکز له خوا همغږي شوي ، او د افغان حکومت د ماين پاکۍ له رياست سره کار کوي چې له هغې له جملې څخه يو هم دعامه پوهاوي په برخه ده.

پالېسي سپارښتنه کوي چې MAPA د افغانستان د ماين پاکۍ د پروګرام کار دې د يوه لومړيتوب په څېر هر چيرې چې شونی وي وغځول شي ، او دغه کار دې د پرسونل ضد ماينونو د استعمال ، زيرمه کولو ، توليد او ليږد د مخنيوي او د هغوي د له منځه وړلو تړون له مخې لارښونه کوی ، کوم چې هغه پلان په ډاګه کوي چې د ۲۰۲۳ کال پورې افغانستان له ماينونو څخه پاک هيواد اعلانوي.

---

[7] د ۲۰۱۳ کال تر جنوري پورې ، له ۱۷۰۰ څخه د زياتو ټولنو د خلکو ژوند او د معيشت امکانات د پاتې شويو ځمکنيو ماينونو ، له جګړې څخه د پاتې شويو چاوديدونکو توکو ، او تعبيه شويو چاوديدونکو توکو په وسيله اغيزمن شوي ، چې له ۵۷۰ متر مکعب څخه په زيات ځمکه کې خپاره شوي

[۸] د ۱۰۸۹ رسمی جريدی د۲۰۱۲ کال د اکتوبر لومړی نېټه

### ۲,۵ طبیعي پېښې

دغه پالېسي تصدیق کوي ، چې:

الف. د طبیعي پېښو زیات شمیر ګواښونو لکه زلزلې ، سیلابونه ، سخت ژمي ته د مخکې نه د خبرداری ورکولو او د بېړنیو حالاتو د چمتوالي د کړنو له لارې اغیزمن تامیدای شي ؛ نور ګواښونه لکه وچکالي ، اوږد مهاله سیلابونه او واورې ښویدنه د زیربناوو او بندونو د جوړولو په ګډون د پېښې د خطر د راکمولو او په پراخه کچه د پرمختیایي منځګړیتوبونو له لارې په اغیزمنه توګه تنظیم کیدای شي[۷]

ب. لکه څرنګه چې "دپېښو پر وړاندې دې مبارزې په قانون۸" کې تنظیم شوي ، د NDMC او ANDMA اداري د سکرتریت په څېر به د طبیعي پیښو د مخنیوي ، کموني ، او هغوي ته د چمتوالي او ځواب ورکولو هڅو ته دوام ورکړي ، څو د دغه ډول پیښیدونکو ګواښونو ، مرګ ژوبلو ، زیانونو او بې ځایه کیدنې ګواښ راکم کړي.

ج. د چمتوالي په دغه ډول ګامونو کې ، بیړني پلانونه ، د وګړو د هغو ساحو معلومول دی چې له ګواښ سره مخ دي ، د بالقوه پېښو ځارنه ، له مخکې نه د خبر ورکولو د معلوماتو خپرول ، او د ښووني او د پوهاوي د زیاتولو فعالیتونه شامل دي. دا همدارنګه د دې غوښتنه کوي ، چې دغه ډول پېښو ته د چټک غبرګون لپاره اقدامات ترسره شوي ، ځایي چاراکي روزل شوي ، بیړنۍ زیرمې مخکې له مخکې ځای پر ځای شوي او د بې ځای کیدنې د رامنځ ته کیدو لپاره ساحې ټاکل شوي.

د. په هیواد کې یو شمیر سیمې شته چې د خطرونو د بیا رامنځ ته کیدو سره مخ دي ، لکه موسمي سیلابونه یا دواورو ښوییدنه ، کوم چې ټولنې په مکرر ډول د خپلو ځمکو پریښودو ته اړباسي. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو وزارت به د ANDMA ، IDLG او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په همغږۍ ، او د اغیزمنو شویو ټولنو په ښکیلتیا او خوښې سره ، ټولې هڅې ترسره کړي ، څو وګړي خوندي سیمو ته انتقال او هلته په دایمي ډول ځای پر ځای کړي او بیا به په داسې ساحو باندې د ودانۍ مخه نیسي چې له سیلاب او نورو پېښو سره مخ کیدونکې وي.

هـ. د بې ځایه کیدنې په تعقیب طبیعي پېښې له مخکې څخه د اغیزناکو رغنیزو هڅو نشتون ته منسوب کیدای شي ، څو له وګړو سره مرسته وکړي ، چې خپل کورونه ، کروندې او د خړوبونې سیستمونه جوړ ، خپلې دانې او ژوي بیا زیرمه ، او بنسټیزو خدمتونو (اوبه ، روغتیا ، ښوونه) ته بیا لاس رسي پیدا کړي. د ژوندانه امکاناتو یا خدمتونو ته په لاس رسي نه توانیدل ، د هغوي خوځښت زیاتوي ، په ځانګړي توګه د ښاري پلازمینو په لور. نو په دې اساس ، مخکینۍ رغونه د بې ځایه کیدنې د مخنیوي بنسټیز عنصر دي او ټول اړوند وزارتونه ، د کرنې ، خړوبونې او مالداري ، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ، د عامه روغتیا ، د ښوونې ، د کار ، ټولنېزو چار ، شهیدانو او معلولینو د وزارتونو او د محلي حکومتداري د خپلواک ریاست په ګډون به دغې موضوع ته په خپلو ستراتیژي ګانو او پروګرامونو کې لومړیتوب ورکړي.

### ۳,۵ پرمختیایي پروژې

دغه پالېسي تصدیق کوي ، چې:

الف. د عامه موخو لپاره د ځمکې تر لاسه کول الزامي دي ، زیربنایي پروژې وګړي بې ځایه کوي ، د خپلو ځمکو ، کورونو ، شتمنیو ، د ژوندانه وسایلو پریښودو ته اړباسي ، او کیدای شي ناوړه رواني او ټولنېزې-اقتصادي پایلې ولري.

ب. حکومت باید د لاندو لارو په وسیله د هغې بې ځاي کیدنې مخنیوي یا کمه کړي ، کومه چې د عامه یا خصوصي فعالینونو له خوا د پرمختیایي موخو لپاره د پروژې د ترسره کیدو له لارې رامنځ ته کیږي ،

۱. له اړوندو شریکبانو څخه غوښتنه کیږي چې هغو وګړونو ته چې کیدای شي د دغو پروژو د عملي کولو په پایله کې بې ځایه شي د بشپړو معلوماتو په وړاندې کولو او له هغوي سره د ریښتینو مشورو په ترسره کولو سره ، ممکن بدیلونه ولټوي ؛

۲. اړونده حکومتي ادارې د وړانديز شوې پرمختيايي پروژې د ټولنېزې-اقتصادي او محيطي اغيزې ارزونه او همدارنګه د پروژې له پلې کيدو څخه مخکې ممکنه څيړنه ترسره کړي.

۳. دغه ډول ارزونې بايد د بې ځايه کيدنې مختلفې اغيزې په منزوي شويو ډلو ، لکه ښځو ، ماشومانو ، د زيات عمر درلودونکو او معيوبينو وګړو باندې په پام کې ونيسي.

ج. که چيرې اټکل کيږي چې تطبيق کيدونکې پروژه په سخت ډول د عامه ګټو ، کورنيو ، او ټولنو په ګټه ده ، او د بې ځايه کيدنې بديل نه وي موجود ، د بې ځايه کيدونکو کسانو او ټولنو سره بايد په دې اړه په بشپړ ډول مشوره ترسره شي ، چې هغوي به چيرې او څرنګه انتقال او ځای پر ځای شي ، د مناسب کور د درلودلو په اړه د بشري حقونو له نړيوالو معيارونو سره سم به د منلو وړ ميشت ځايونه ورکړل شي ، په بل ځای کې به د بيا ځای په ځای کيدو په چارو کې مرسته وشي ، او هغوي ته به د کورونو او ملکيتونو د استملاک لپاره د جبران مناسبه تاديه ترسره شي ، نه يوازې د شخصي کروندو لپاره ، بلکې د ټولنې د غير کروندو ځمکو لپاره هم لکه څرځايونه او داسې نور.

د. په زيات شمير پيښو کې ، د نغد جبران سيستم نه دي توانيدلي څو اغيزمنې شوې کورنۍ د دې جوګه کړي ، چې د کر وړ ځمکه ، د خپلو څارويو لپاره څرځای ، د کور جوړولو لپاره ځمکه او نورې منابع تر لاسه کړي ، چې دوي يې دولت ته د سپارلو اړتيا لري مرسته وکړي.

هـ. ځينې وګړي کيدای شي د ملکيت د نشتون له امله د جبران د تر لاسه کولو وړ نه وي ، لکه بې ځمکې ګروندګر ، اجاره دار او کارګران چې په بې وزلۍ کې ژوند کوي ، او په وخيم ډول د ژوندانه لپاره په ګټل شو پيسو تکيه کوي. دغه ډول وګړو ته به د عايد د لاسه ورکړل شوي فرصت جبران ورکړل شي د کليو د بيا رغونې او پراختيا ، د کرنې ، اوبو لګونې او مالداري او د ښاري چارو د پراختيا ، د کار ، ټولنېزو چارو ، شهيدانو او معلولينو او نورو اړونده وزارتونو له خوا به ځانګړي پروګرامونه طرح شي ، څو له دغه ډول کورنيو سره مرسته وشي ، نه يوازې دا چې هغوي به په بل ځای کې ځای پر ځای کړای شي بلکې د هغوي لپاره به د عوايدو نوي منابع هم ايجاد کړای شي ، د ټولنېزو ميشت ځايونو او دټولنېز ملاتړ په ګډون.

و. کله چې پرمختيايي پروژه د دولت يا خصوصي فعالينو لپاره د عايد توليدولو اقتصادي تشبث وي ، اغيزمنو شويو ټولنو ته بايد د هغو نورو په پرتله چې په مستقيم ډول نه وي اغيزمنې شوي ، د ګمارنې په امکاناتو کې مناسبه ونډه ورکړل شي ؛ سربيره پر دې يا په متناوب ډول ، اغيزمنې شوې ټولنې ته بايد په تشبث کې ونډه ورکړل شي ، له هغو ونډو سره چې د ټولنې په مناسبې پانګې کې ځای پر ځای شوي وي او د ټولنې په پروژو دې ولګول شي.

ز. متاثره شوې ټولنه د قانوني اعتراض او استيناف حق لري او د دوي د دغه حق د اوريدو په موخه به مناسب ميکانيزمونه رامنځ ته کړای شي.

### ۴,۵ د جبري اخراجونو/ ويستلو مخنيوی

د کډوالو او بېرته راستنيدونکوچارو وزارت او د بشرپالنې ټولنې انديښمن دی ، چې د کورنې بې ځايه شويو او نورو هغو وګړو وضعيت چې د جبري ويستلو په غير رسمي ميشت ځايونو کې له خطر سره ژوند کوي ، يوه بيړنۍ بشري موضوع ده او د حل کولو اړتيا لري.

دغه پالېسي:

الف. جبري وبستل له کورونو او/يا ځمکو څخه د وګړو ، کورنيو ، او/يا ټولنو د هغوي د خوښې خلاف د دايمي يا موقتي ايستلو په څېر معرفي کوي ،د حقوقي يا د ساتنې نورو مناسبو بڼو ته د لاس رسي درلودلو يا برابرونې پرته.

ب. تصديق کوي ، چې جبري وبستنې "د مناسب کور درلودلو ، خوړو ، اوبو ، روغتيا ، ښوونې ، کار ، د وګړی او کور امنيت ، له ظلم ، غير انساني او توهين کوونکې چلند څخه ازادي ، او د خوځښت د ازادي د بشري حقونو په ګډون ، په نړيواله کچه له منل شويو بشري حقونو څخه په پراخه کچه سرغړونې رامنځ ته کوي[۹]"

ج. همدارنګه تاییدوي ، چې د ځمکې خاوندان په قانوني ډول دځپل ملکیت غوښتنی کولای شي د دې غوښتنه وکړي ، چې غیر رسمي میشت شوي وګړی د هغوي ځمکه پرېږدي ، په ځانګړي ډول کله چې هغوي د ځمکې د کارونې پلانونه لري یا د عامه خوندیتوب او امنیت له امله.

د. دا مېسر کوي ، چې قانوني ویستل ، یوازې هغه مهال ترسره کیدای شي ، کله چې د افغانستان ملي قوانینو او د بشري حقونو له نړیوالو تړونونو له مقرراتو سره سم وي.

هـ. د دې یادونه کوي ، چې د افغانستان مختلف قوانین په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د دې څرګندونه کوي ، چې ویستنه باید یوازې د قانون په اجازه او په حقوقي ډول له تعریف شویو طرز العملونه سره سمه ترسره شي.

و. د قانون په بیا کتنه کې د عدلیې وزارت د اهمیت یادونه کوي ، چې که اړتیا یې وي یو قانون تعدیل یا یو نوي قانون تسوید کړي ، څو د وګړو ، ډلو او ټولنو له ویستنې څخه مخکې ، د ویستنې پر مهال او له هغې څخه وروسته اغیزمن ملاتړ یقیني کړي.

ز. دغه تدابیر بایدلاندني ټکي په ځانګړي ډول تضمین کړي ، چې

۱. د ویستنې په پایله کې وګړي بې کوره او بې ځمکې نه دي پاتې شوي او ځپلو کروندو او نورو ځمکو ته لاس رسی لري ؛ او د اړتیا په صورت کې د نوې سرپناه په جوړونه کې ورسره مرسته وشي ؛

۲. ایستل شوي وګړي له وېستنې وروسته له ناوړه حالت سره نه دي مخ او د هغوي د معیشت امکانات ساتل شوي ، د دې په تایید سره که چیرې ګروندګرو ته د کښت لپاره بدیله ځمکه ورکړل شي ، مرستې ته به اړتیا وي ، ترڅو په نوی موقعیت کې یو فصل کښت او حاصل یې تر لاسه کړي ؛

۳. زیانمنیدونکو ډلو لکه ماشومانو ، د زیات عمر درلودونکو ، معیوبینو یا ناروغو وګړو ته ځانګړې پاملرنه شوې.او دښځو حقونه رعایت شوي.

د وګړو وېستنې څخه مخکې ، د وېستنې پر مهال او هغې څخه په وروسته حالاتو کې د زیان د کمولو او د ساتنې لاربښونې د دغې پالېسي په ۴ ضمیمه کې شامل شوې دي.

## ۶. په بیړنی پړاو کې بې ځایه کېدنه ، مرسته او لاس رسی

### ۶،۱ بیړنی مرسته او ساتنه/ملاتړ

#### ۶،۱،۱ اصول

دغه پالېسي د دې تصدیق کوي ، چې:

الف. د بې ځایه کیدنې بیړني حالت د ژوند د ساتلو په تدابیرو باندې تمرکز کوي.

ب. پر هغو شرایطو تمرکز کوي ، چې د بې ځایه کیدنې لامل ګرځي ، داخلي بېځایه شوي کسان کیدای شي بیړني پناه ځای ، روغتیا پالنې ، د څښاک اوبه ، خوړو ، غیر خوراکي توکو او له خطر څخه ساتنې ته اړتیا ولري.

ج. د معیوبینو ، مزمنو ناروغیو او د زیات عمر وګړو او په ځانګړي توګه زیانمنیدونکي وګړو لپاره باید تدابیر ترسره شي ،تر څو ډاډ حاصل شي چې هغوي په فزیکي ډول دغو مرستو ته لاس رسي لري.

### ۲.۱.۶ بیړني غبرگون

د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو وزارت به د همغږي د اړونده میکانیزمونو سکتورى ، وزارتونو ، ایجنسیانو او د بشرپالنې ټولنو په مرسته لاندې کړنې سرته رسوي:

الف. د بې ځایه شویو کسانو د اړتیاوو ارزونه ترسره کوي او د چاپیریال له معیارونو سره سم به مناسب غبرگونونه برابره وی ، کوم چې د بشري مرستو د ژوند ساتلو څلور لومړنی اړتیاوې تر پوښښ لاندې راولي: د اوبو رسونه ، روغتیا پالنه او حفظ الصحی ، د خوړو او تغذیې خوندیتوب ، پناه ځای ، میشت ځای او غیر خوراکي توکی ؛ او د روغتیا اړوند کړنی به د پوښښ لاندې نیسي او مناسب لاس رسی تنظیموي ؛

ب. د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د بې ځایه شویو کسانو او وگړو ثبتونه ترسره کوي ؛

ج. د دې ډاډ حاصلوي ، چې له گواښونو څخه د کوچنیانو د ساتنې او دمخنیوي اړوند گامونه او غبرگونونه ترسره شوي ، چې په دې کې له کورنیو څخه د هغوي جدا والی ، جنسي او د جنسیتې پر بنسټ تاوتریخوالی ، او دزیانمنې د سمون او تنظیم ستراتیژیگانې ، یرغمل شوی او د هغوي څخه ناوړه گټه اخیستنه شامل دي. د مخنیوي او غبرگون په دغو منځگړیتوبونو کې لاندني کړنی شامل دي:

۱. د اړتیاوو د ساتنې د څار میکانیزمونه.

۲. په مناسبه توگه ځانگړو اړتیاوو ته د ځواب ویلو ارجاعي لارې چارې ؛

۳. د داخلي بېځایه کیدنې په سیمو کې د ښځو ، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو لپاره خوندي ځایونه ؛

۴. د نادرکه شویو وگړو د پیدا کولو سیستم ، په ځانگړي ډول هغه کوچنیان چې له خپل مور پلار څخه جلا شوي وي ؛ او له کورنی سره بیا یو ځای کیدنه. اوس مهال دغه چاره د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو د وزارت له خوا چې د کوچنیانو د ساتنې د شبکې مشري کوي ؛ او د سره صلیب نړیوالې ټولنې د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې له خوا سرته رسیږي.

۵. له گواښ سره مخ کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د ملاتړ لپاره د ټولنې بسیج کول او د مرستو برابرول.

د. دا یقیني کوي ، چې د بیړني حالت په غبرگون کې ښکیل وگړی ، د لټون او ژغورنی په گډون د پاتې شویو مړو تر سرلاسه کولو او پیژندنې د چارو لپاره د کورنیو چارو د وزارت عملیات معیاري طرزالعملونه تعقیبوي.

هـ. دا یقیني کوي چه د داخلي بېځایه شویو کسان مړي شتون لري او له منځه نه دي تللي او ددوي د مړو سپا رل خپلوانو ته برابر شوی او که امکان ولري په درناوی سره به خاوره ته وسپارل شی او همدارنگه دا یقیني کوي چې د داخلي بېځایه شویو هدیرو ته پوره درناوی کیږی او دمړي خپلوان کولای شي چې د نوموړو له قبرونو کتنه وکړي.

و. د دې ډاډ حاصلوي ، چې د کار ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت د تر ټولو د زیاتو زیانمنیدونکو وگړو اړتیاوو ته لومړیتوب ورکوي او معیوبینو ، یتیمانو او کونډو ته مناسبې مرستې برابروي.

ز. د دې ډاډ حاصلوي ، چې د بې ځایه شویو د مېشتېدنې لپاره د پنډغالو تنظیمول لازمي دي ، دغه چارې به د چاپیریال له معیارونو سره سمې کیږي او د داخلي بېځایه شویو لپاره خوندي او امنیت لرونکي پناه ځای او اساسي خدمتونه وړاندې کوي.

ح. دا یقیني کوي ، چې که چیرې د وگړو لپاره د طبیعي یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو یا د جگړې له امله د رامنځ ته شوې بې ځایه کیدنې وروسته دا ممکن نه وي ، چې خپلو کورونو ته را ستانه شي ، له هغوي سره په مشوره او د هغوي په

خوښه باید کړنې ترسره شي ، چې هغوي په خوندي او امنیت لرونکې سیمه کې ځای په ځای کړای شي. د بیا ځای په ځای کیدنې دغه چارې به د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو له وزارت سره همغږي شي.

ط. د کورنیو چارو د وزارت له لارې او د اړتیا په وخت کې د دفاع وزارت سره په سلا مشوره کې ، د دې یقیني کول ، چې په هغو ټولنو کې چې داخلي بېځایه شوي کسان میشت شوي پولیس د نظم او قانون ساتلو مسوول دي ؛ او چیرته چې د پلی کیدو وړ وي ، هغوي د بشرپالنې او پرمختیایي شریکبانو لپاره ملاتړ برابروي.

ی. د کورنیو چارو او دفاع له وزارتونو سره همغږي کوي ، څو دا یقیني کړي چې بې ځایه شوي وګړي له هغو نورو سره چې نه دي بې ځایه شوي په برابر ډول د خوځښت ازادي او ټولو هغو ساحو ته لاس رسي لري ، چیرې چې مختلف اقتصادي او ټولنیز فعالیتونه ترسره کیږي ، خو که چیرې د بې ځایه شویو کسانو امنیت او خوندیتوب ته ځانګړي ګواښونه شتون ولري ، کوم چې د هغوي د خوځښت د ازادي محدودیت توجیه کوي.

ک. د پېښې پر وړاندې د مبارزې ملي اداره ، د ماین پاکونی ریاست او د افغانستان د ماین پاکونی د فعالیتونو د همغږی ریاست یو له بل سره همغږي ترسره او دا ډاډ تر لاسه کړي چې سیمې د ماینونو او له چکړو څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو څخه پاکې شوي ، ترڅو خلک په خوندي توګه په کې ژوند وکړي او یا هغو ته راستانه شي او د هغوي لپاره دژوند کولو ،میشتیدنی او د ټولنې ټولنېزه- اقتصادي پرمختیا لپاره زمینه برابره کړای شي.

### ۲.۶ بشر دوستانه مرستو ته د لاس رسي ستونزې

دا پالېسي تاییدوي ، چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره سم ، بشري لاس رسي اړو وګړو ته د بشرپالنې د فعالینو وړتیا او مرستو او خدمتونو ته د اغیزمنو شویو وګړو د لاس رسي وړتیا ته راجع کیږي. څو دا یقیني کړي چې د بې ځایه کیدنې اغیزې بشري مرستو او ساتنې ته د بې ځایه شویو کسانو د لاس رسي له حقونو څخه د سرغړونې لامل نه ګرځي یا بنسټیزو خدمتونو ته د هغوي د لاس رسي یا د خوځښت د ازادي حق نه محدود وي دافغانستان اسلامي حکومت به دا یقینی کوي ، چې:

الف. دافغانستان ملي امنیتي ځواکونه (دافغانستان ملي اردو او افغان ملي پولیس) او نور د ملي امنیت ځانګړې ارګانونه د داخلي بېځایه شویو کسانو ، او د بشرپالنې کار کوونکي او پرمختیایي ادارو لپاره د امنیت برابرولو اساسي مسوولیت او اړین ظرفیت ولري.

ب. اړوندې ادارې باید داخلي بېځایه شویو کسانو ته د بشرپالنې د مرستو د رسولو او تګ راتګ کولو او د ورته مرستو په برابرولو کې د ښکیلو وګړو لپاره ازاد او چټک لاس رسي برابر کړي.

ج. که چیرې بې ځایه شویو کسانو ته د لاس رسي مخه نیول شوې وي ، دافغانستان اسلامي حکومت باید د بشرپالنې له لارښوونو او پالیسیو سره سم د امنیتي خدمتونو د برابرولو په ګډون ټول مناسب وسایل وکاروي ، او خبرې اترې تسهیل او اجازه ورکړي ، څو د بشرپالنې او پراختیا فعالین وکړای شي بې ځایه شویو کسانو ته ورسیږي او د هغوي لپاره اړینه مرسته برابره کړي.

د. د شخړو په هغو پیښو کې چې د افغانستان اسلامي حکومت په کې ښکیل وي ، د بشرپالنې فعالین اړو وګړو ته له لاس رسي څخه نه منع کیږي ، د بې پلوی توب له اصل سره سم او پرته له دې چې د هغوي د شخړې اړخ په پام کې ونیول شي.

### ۳.۶ اسناد او مدارک

### ۳.۱.۶ عمومي معلومات

دغه پالېسي دا تصدیق کوي ، چې:

الف. هغه وګړی چې د خپلو کورونو او د اصلي مېشتېدنې سیمو پرېښودلو ته اړ کیږي ، معمولا د هغوي شخصي اسناد ورک یا له منځه ځي او داخلي بېځایه شوي کسان زیاتره د بې ځایه کیدنې پر مهال په دې نه توانیږي چې دغه اسناد تر لاسه یا پر

ځای بې نور واخلي. په دې کې د ملي هویت پېژند پاڼې (تذکرې)، د پیدایښت تصدیق پاڼې، پاسپورټونه او د واده نکاح پاڼې شامل دي. په نورو مهمو اسنادو کې کیدای شي دځمکو او کورونو قبالې، د اجارې ترونونه، د ټاکنو کارتونه، د ښوونځیو سوانح یا ډیپلومې، د تقاعد ریکارډونه/کارتونه یا د معلولیت کارتونه شامل وي.

ب. پیژندپاڼه د ټولو افغانانو لپاره ډیر مهم سند دی، لکه څرنګه چې دغه سند د پولیسو د تلاشیو په پوستو کې د پیژندنې، د ملکیت د تر لاسه کولو، ځینې وختونه په ښوونځیو کې د کوچنیانو د شاملولو، د حکومتي دندې د اخیستلو، د پاسپورټ د تر لاسه کولو، د وادونو د ثبتولو، محکمو ته د لاس رسي او ځینې وختونه د بشرپالنې د مرستې د تر لاسه کولو لپاره اړین دی؛ د پیژندپاڼی نشتون د تبعیض، منزیتوب او آن د تابعیت او مېشتېدنې د ردونې لامل کیدای شي.

ج. د کورنیو چارو وزارت په د ننه کې د وګړو د ثبتونې ریاست چې د ملکي ثبتونې له شته قوانینو سره سم د پېژندپاڼو د صادرولو مسوول دی، د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژي د وزارت سره په همغږي اوس بریښنایي پیژندپاڼې ورپیژنی چې بایومتریک معلومات لري، او د اوسنیو شپږو مخو لرونکو کاغذی پیژندپاڼو په ځای به کارول کیږي.

د. داخلي بېځایه شویو کسانو ته د ورکو شویو یا له منځه تللو سندونو په نه صادرولو کې ناکامي، په هیڅ صورت نه باید د هغوي له بشري حقونو څخه د برخمن کیدو د کمزوري لامل شي.

**۲.۳.۶ د پیژندپاڼي په اړه**

له دغې پالېسي سره سم:

الف. د کورنیو چارو وزارت به د هغو داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره چې پیژندپاڼه نه لري د بریښنایي پیژندپاڼې د تر لاسه کولو لومړیتوب ورکړي او د وګړو د ثبتونې ټولو پلازمینې او ولایتي ریاستونو ته به صلاحیت ورکړي چې د هغوي لپاره د بریښنایي پیژندپاڼو د صادرولو لومړیتوب ورکړي.

ب. د کورنیو چارو وزارت به دا یقیني کړي، چې د بریښنایي پیژندپاڼو د تر لاسه کولو په اړه معلومات په پراخه کچه د داخلي بېځایه کیدنې په ټولنو کې په ټولو اړونده ژبو خپاره کړي، د هغوي د اهمیت له تشریحاتو سره سم.

ج. د کورنیو چارو وزارت به دا یقیني کړي، چې دغه ډول معلومات به د افغان بې ځایه شویو ښځویوازې د یوې کوچنۍ سلنې په څېر چې پیژندپاڼی لري، تر موخې لاندې نیسي.

د. د ښځو د چارو وزارت به د ښځو او کوچنیانو لپاره د پیژندپاڼو د اهمیت او د دغه سند د ترلاسه کولو د طرز العمل په اړه د پوهاوي د لوړولو فعالیتونه ترسره کړي.

هـ. که چیرې د ځینو کلتوري لاملونو له امله ښځې نه غواړي چې په پیژندپاڼو کې دې د هغوي انځور ښکاره شي، هغوي ته به د پیژندنې د بلې فورمې د کارونې لکه د ګوتو نښانې اختیار ورکړل شي؛ یا که چیرې هغوي موافقه وکړي چې د هغوي پیژندپاڼی دې له انځور سره صادرې شي، د دوي دغه حق چې د هغوي انځور دې یوازې یوې بلې ښځې ته وښودل شي، په پام کې ونیول شي.

و. د کورنیو چارو وزارت به د ښځو د چارو، د کار، ټولنېزو چارو، شهیدانو او معلولینو او د سرحداتو او قبایلو د چارو له وزارتونو سره همکاري وکړي، څو وګوري چې د جدا شویو، یوازې یا یتیمانو بې ځایه شویو ماشومانو او یو شمیر مشخصو ډلو په تیره بیا کوچیانو، جوګیانو او بنګړی خرڅوونکو ته د پیژندپاڼی په ترلاسه کولو کې مرسته برابره شوې، څوک چې پیژندپاڼی نه لري او د هغې په ترلاسه کولو کې له ځانګړو ستونزو سره مخ کیږي.

ز. د کورنیو چارو وزارت به د وګړو د ثبتونې د ریاست لپاره د سوانحو د ساتلو سیسټم مدرنیزه او په کابل کې به یې مرکزي کوي چې د اوس لپاره یوازې د ولایتونو په مرکزونو کې ترسره کیږي، چې په دغې توګه بې ځایه شوي وګړي نور اړ نه وي

چې خپلو اصلي ولايتونو ته د خپل هويت د تصديق لپاره سفر وکړي ، لکه څرنګه چې دغه چاره هم قيمتي او هم خطرناکه ده. دا همدارنګه دا يقيني کوي چې نوي سيستم د هر ولايت په مرکز کې د پېژندپاڼو د صادرولو چارې رامنځ ته کوي.

ح. د کورنيو چارو وزارت به همدارنګه د عريضه کوونکي د هويت په اړه د ثبوت نورې بديلې فورمې (لکه د يوه سپين ږيرې ، مذهبي مشر ، ډاکټر له خوا تصديق شوې وثيقه) په پام کې نيسي.

ط. که چيرې پيژندپاڼه د روپيو په بدل کې يوه وګړي ته ورکړل شي دا روپۍ به ډيرې کمې وی. او له اغيزمنو بې ځايه شويو کسانو څخه به دا روپۍ نه اخيستل کيږي.

### ۳.۳.۶ د نورو لا درکه شويو اسنادو په اړه

د هغو اسنادو په ګډون کوم چې د (الف) پراګراف په ۶,۳,۱ څانګه کې ياد شوي ، د نورو ورکو شويو سندونو په اړه د کډوالو او بېرته راستنيدونکوچارو وزارت به له عدليې وزارت سره يو ځای لاندې کړنې سرته رسوي.

الف. قوانين ، او مقررات څيړي ، تر څو وګوري چې د هغوي په بدلون کې کوم خنډونه شتون لري ؛

ب. په قوانينو او قواعدو کې د تعديل په ګډون ، د اړينو اقداماتو سپارښتنه کوي ، څو يقيني کړي چې داخلي بېځايه شويو کسانو ته له خپلو حقونو څخه د برخمن کيدو لپاره لازمي اسناد صادر کړای شوي.

ج. د دې سپارښتنه کوي ، چې اړونده ملي ، ولايتي او د ولسوالي په کچه ادارو ته د دغې چارې د مسوول وزارت له خوا د دې لارښونه شوې چې د بې ځايه کيدنې پر مهال د نادرکه يا له منځه تللو اسنادو صادرول ، د نامعقولو شرايطو د وضع کولو او زيات لګښت پرته ، لکه خپلو اصلي ميشت ځايونو ته د دغو يا نورو لازمي سندونو د تر لاسه کولو په موخه ستانه نه شي ، برابر وي.

### ۷. بېځايه شويو ته د مرستی برابرول او ساتنه

### ۱.۷ د بېځايه شويو بشري حقونه او امتيازات

دغه پالېسي يو ځل بيا دا تاييدوي ، سره له دې چې داخلي بېځايه شوي کسان په بې ځايه کيدنې کې ژوند کوي ، هغوي له هغو حقونو او امتيازاتو څخه نه بې برخه کوي ، له کومو څخه چې نور افغانان برخمن دي. پالېسي دا تصديق کوي ، چې داخلي بېځايه شوي کسان کيدای شي ، د هغوي د بې ځايه کيدنې له امله له دغو حقونو څخه په ګټه اخيستلو کې له يو شمير خنډونو سره مخ شي.

### ۱.۱.۷ د ژوند ، وقار ، ازادي او امنيت ساتنه

دغه پالېسي تاييدوي ، چې داخلي بېځايه شوي کسان په مکرر ډول د بې ځايه کيدنې پرمهال د ژوند ، وقار ، ازادي او امنيت له ګواښونو سره مخ کيږي. دا تر ټولو هغه بنسټيز بشري حقونه دي ، چې د افغانستان د اساسي قانون تر ۲۳ او ۲۴ مادو لاندې او همدارنګه د بشري حقونو له نړيوالې لايحې ، د بې ځايه کيدنې په اړه د ملګرو ملتونو د لارښودو اصولو او يو شمير نورو نړيوالو تړونونو له خوا تضمين شوي ، کوم چې د افغانستان حکومت تصديق او منلي دی. له دغې پالېسي سره سم:

الف. د کورنيو چارو وزارت چې د افغان ملي پوليسو ځواک لري ، د بې ځايه کيدنې پرمهال د بېځايه شويو د امنيت او خونديتوب د يقيني کولو ځانګړی مسووليت لري ، که څه هم هغوي په غير رسمي ميشت ځايونو ، پنډغالو کې يا د خپلوانو په کورونو کې اوسيږي.

ب. پوليس هم بايد د داخلي بېځايه شويو د حقونو درناوي وکړي ، له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخيستنې په پيښو کې دې چټکې څيړنې ترسره او هغوي دې مجازات کړي.

ج. د کورنیو چارو وزارت به د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په مرسته افغان ملي پولیسو ته د هغوي د روزنې د تعلیمي نصاب د تعدیل له لارې ، د داخلي بېځایه شویو کسانو د ځانګړو اړتیاوو د ساتنې په اړه روزنه برابروي.

د. د کورنیو چارو وزارت به د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو له وزارت سره په همږی سره دا یقیني کوي ، چې لاندې کړنې به تضمینوی:

۱. د داخلي بېځایه شویو لپاره ساده او شفافې لارې چارې شته ، څو هغوي له سیمه ییزو چارواکو څخه د ساتنې غوښتنه وکړي ؛

۲. مسوول سیمه ییز چارواکي به په څرګند ډول پیژندل شوي وي ؛

۳. ځانګړې پاملرنه باید وشي ، څو یقیني کړي چې د هغو کورنیو چه ښځې یې مشري کوي ، ځوانو ښځو او نجونو ، د زیات عمر ، مزمنو ناروغیو او معلولیت درلودونکو وګړو له زیانمنتوب څخه ناوړه ګټه نه ده اخیستل شوې ؛

۴. ځانګړي اقدامات (لکه ۲۴ ساعته ټیلفون فعال ساتل ، د پولیسو ځانګړی ګزمې) ترسره شوي ، کله چې حالات د دغه ډول اقداماتو غوښتنه کوي ؛

۵. د پولیسو په مرکزونو او د داخلي بېځایه شویو د تمرکز په سیمو کې د کورنیو د قضیا واحدونه باید شتون ولري (د دې صلاحیت لري چې د کورنۍ د سرغړونې قضیې ثبت او وڅیړي ، لکه جنسي تیری ، جبري یا د ماشومانو ودونه)، او ګامونه پورته شوي چې د بې ځایه شویو ترمنځ د دغو واحدونو د شتون په اړه عامه پوهاوی لوړ کړي.

هـ. د ښځو د چارو وزارت به د روغتیا او عدلیې وزارتونو سره په همغږۍ کې د دې ډاډ حاصلوي ، چې هغه ښځې یا کوچنیان چې په فزیکي یا جنسي ډول له ناوړه ګټې اخیستنې سره مخ شوي ، پناه ځای ، طبي او رواني- ټولنېزې پاملرنې او وړیا حقوقي مرستې ته لاس رسي لري ؛

و. د دفاع وزارت او سرحدي پولیس چې د شخړې یا د پولې له هغې خوا څخه د جګړې یا مرمیو د ویشتلو په سیمو کې مسوولیت لري ، چې د ملکیانو ساتنه وکړي او ټول اړین اقدامات ترسره کوي ، تر څو هغوي له زیان څخه وژغوري ؛

ز. د عدلیې وزارت چې د داخلي بېځایه شویو له ساتنې او د هغوي د ازادي له درناوي سره په مستقیم ډول تړاو لري ، د دې ډاډ حاصلوي ، چې بې ځایه شوي وګړي په ناقانونه توګه نه دي توقیف شوي او هغه نور یې چې په جرمونو تورن دي او د توقیف یا د بند له ګواښ سره مخ دي ، حقوقي مرستې ته لاس رسي لري ؛

ح. دDMC اوMACCA اداری د ماین پاکۍ د همغږۍ نور اړوند تطبیق کوونکي شریکباني هڅوي ، چې د APMBT دکاري پلان تړون تعقیب کړي. نوموړی کاري پلان ۳۰۸ پروژې وړاندې کوي ، چې پر ټولنې د اغیزې پر بنسټ ترتیب شوي او باید بشپړ کړای شي ، ترڅو افغانستان د ۲۰۲۳ کال تر پایه له ماینونو څخه یو پاک هیواد اعلان شي.

### ۲.۱.۷ د میشت کیدلو حق ، دځای د بدلون او د نا پیلی سفر حق

د افغانستان د اساسي قانون ۳۹ ماده تصریح کوي ، چې: "هر افغان حق لري د هیواد هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خو له هغو سیمو پرته چې قانون منع کړې وي. هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بېرته راستون شي." داخلي بېځایه شوي کسان د ټولو نورو افغانانو په څېر په افغانستان کې د خوځښت او مېشتېدنې ازادي لري ، چې په دې کې خپل اصلي میشت ځای ته د ستنیدنې ، سیمه ییزې یو ځای کیدنې یا د هیواد په نورو سیمو کې د استوګنې حق شامل دی.

د دغې پالېسي سره سم به د کډوالو او بېرته راستیدونکوچارو وزارت دا یقینی کړي چې:

الف. هیڅ وګړی نه شي کیدای په ناقانوني یا جبري توګه یوې ځانګړی سیمې ، ساحې ته ستون یا هلته پاتې کیدو ته اړ کړای شي.

ب. ملي یا سیمه ییز چارواکي نه شي کولای په جبري ډول داخلي بېځایه شوي کسان بلې سیمې ته ولیږدوي ، له استثنایي حالاتو پرته چې د قانون له خوا اجازه ورکړل شوې وي یا په قطعي ډول د یوې مشروع او متوازنې موخې د ترلاسه کولو لپاره ضروري وي.

ج. والیان ، ښاروالان او نور سمه ییز چارواکي نه باید داخلي بېځایه شوي په خپلو سیمو کې له مېشتېدنې څخه منع کړي ، او نه باید د هغوي د دې هڅې په وړاندې خنډونه پیدا کړي.

د. د وګړی د خوځښت پر ازادي او د استوګنې د ځای پر انتخاب هیڅ ډول محدودیتونه نه شي وضع کیدلای ، پرته له هغو څخه چې اړتکل کیږي قانون د ملي امنیت ، عامه نظم ، روغتیا ، او د نورو وګړو د حقونو او ازادیو د خوندیتوب په موخه وضع کړې وي.

**۳.۱.۷ دمناسبې سرپناه حق او ځمکې ته لاس رسي**

**۱.۳.۱.۷ د مناسب کور حق**

دغه پالېسي تصدیق کوي ، چې:

الف. د بې ځایه شویو کسانو یوه له سترو اړتیاوو څخه د مناسب کور درلودل دي او یو له هغو ستر خنډونو څخه چې په افغانستان کې داخلي بېځایه شوي وګړي ور سره د مناسب کور په پیدا کولو کې مخ دي ، ځمکې ته د لاس رسي نشتوالی دی.

ب. داخلي بېځایه شوي وګړي په کلیوالي یا ښاري سیمو کې د مناسب کور د درلودلو حق لري.

ج. زیات شمیر بې ځایه شوې ټولنې له دې پرته بل بدیل نه لري ، چې پر دولتي یا شخصي ځمکو په غیر رسمي میشت ځایونو کې استوګن شي ، ځینې وختونه د مالکینو او ځینې وختونه د هغوي له اجازې پرته ، چیرې چې د اجارې د امنیت د نشتون امل هغوي په مکرر ډول د جبري ویستلو یا نورو ځورونو له ګواښ سره مخ وي.

د. زیاتره داخلي بېځایه شوې ټولنې په ډیر ساده او ابتدایي پناه ځایونو کې ژوند کوي ،او د هغې رغولو یا بهتره کولو اجازه نه لري (د مثال په ډول د اوبو مناسبې منبع ، ،روغتیا پالنې او بریښنا تسهیلات ، بامونو).

د دغې پالېسي سره سم به د کډوالو او بېرته راستنېدونکو وزارت د نورو ادارو په همغږی چې په ۴,۱ برخه کې تشریح شوې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

ه. ځمکه تشخیص او د ځمکې له اړونده خاوندانو او کوربه ټولنو سره څرګند پلانونه جوړوي ، او د بې کوره داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره بیړني او مؤقت پناه ځایونه برابروي ، که چیرې یې اړتیا وي د بشري ټولنې په مرسته به دغه چارې ترسره کوي.

و. اقدامات ترسره کوي ، څو یقیني کړي چې په غیر رسمي میشت ځایونو کې داخلي بېځایه شویو کسانو ته اجازه ورکړل شوې څو خپل استوګنځایونه د بیړني پناه ځای د چاپیریال له حد اقل معیارونو سره سم جوړ کړي ؛ او تدابیر ترسره کړي چې په دغه چاره کې په زیاته کچه له زیانمنیدونکو وګړو سره مرسته ترسره کړي ، په ځانګړي توګه د هغو ښځو چه د

کورنیو مشري کوي ، د زيات عمر لرونکې ، مزمنو ناروغیو او معیوبیت درلودونکی وګړو په ګډون ، په داسې حال کې چې په ارتقایي ډول مناسب کور ته د هغوي د حق د درک په پام کې نیولو سره.

ز. ملاتړ کوي ، څو یقیني کړي چې د ځمکې د تخصیص پلانونه لکه څرنګه چې د ولسمشر په ۱۰۴ شمیره فرمان کې تصریح شوي ، د ۸،۳،۲ په (د) برخه کې تشریح شوي نیمګړتیاوو د مخنیوي له لارې پایښت لرونکي دي.

ح. په هغو سیموکې چیرې چې داخلي بېځایه شوي کسان میشت شوي د ټولنې په کچه د ځمکې د پور ، کرایې یا پلور د نوښتونو لټه کوي.

ط. د هغو لارو لټون کوي کومې چې د ځمکو د اجارې د سند د ورکولو د دایمی سیستمونو پر اساس برابر شوی. د نورو ملکیتونو څخه دګټې اخیستنې حق د برنامې پر بنسټ.

ی. د هغو لارو لټه کوي کومې چې داخلي بېځایه شویو ته ټولنیز کورونه د هغوي د اقتصاد سره سم برابروي ،

ک. هغه لارې پیدا کوي چې د هغو داخلي بېځایه شویو لپاره چې کولای شي کور او/یا ځمکه وپیري ، د کمې ګټې اوږد مهاله ګروي برابروي.

ل. له اغیزمن شویو ټولنو سره په سلا مشوره کې ، د ښاروالۍ چاروګې دې ته هڅوي چې غیر رسمي میشت ځایونه رسمي او د ګڼو غریبانو ورته استوګنځایونو ته د سیمې پر بنسټ د تګلارو په وسیله ترفیع او غښتلې کړي ، څو په ارتقایي ډول مناسب کور ته د هغوي حق درک کړای شي.

م. د ۵. ۴ برخې د شرایطو سره سم ، د دې یقیني کول ، چې داخلي بېځایه شوي کسان له جبري وېستنې سره مخ نه دي ، ویستنه په حقوقي ډول ترسره ، او دملګرو ملتونو اصول چې په څلورمه اړونده برخه کې شتون لري تعقیب شوي.

**۲.۱,۳.۷ داخلي بېځایه شویو ته د ځمکې د ویش معیارونه**

ټولې هغه ځمکې چې د ملي یا ولایتي چارواکو له خوا داخلي بېځایه شویو ته تخصیص شوي باید په لاندېنیو معیارونو برابرې وي:

الف. ځمکه باید له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو (ځمکنیو ماینونو او ناچاودو مهماتو) څخه پاکه وي.

ب. ځمکه باید منفجره پاتی شونی (UXOs) نه پاک اوسی.

ج. ځمکه د طبیعي پېښو لکه دځمکې ښوییدنې ، سیلابونو یا د واورو د ښوییدنې له ګواښ سره مخ نه ده.

د. ساحه بسیا د څښاک اوبه لري څو د ټولنې د څښاک د اوبو اړتیا پوره کړای شي او همدارنګه د نورو روغتیایي موخو لپاره کافي اوبه برابروي.

ه. د سړک او ترانسپورت له پلوه ساحه د لاس رسي وړ ده.

و. تخصیص شوي ځمکه کاري مارکیت ته په کافي نږدې واټن کې پرته ده ، چې د استخدام او د ژوند امکانات برابروي.

ز . ښوونځی او روغتیایي کلنیک تخصیص شوې ځمکې ته څېرمه د لاس رسي وړ واټن کې پراته دي.

ح. ساحې کې دپولیسو او نورو د قانون د انفاذ ادارو له خوا خدمات موجود دي.

### ۴.۱.۷ د ژوندانه حق

دغه پالېسي تصديق کوي ، چې:

الف. بې ځايه کېدنه زياتره په اقتصادي ، ټولنېزو او ژوندانه په شرايطو کې د زيات کمښت په پايله کې د ژوندانه د امکاناتو د لاسه ورکولو په مانا ده.

ب. د بې ځايه شويو کسانو مهارتونه زياتره له هغه نوی چاپيريال سره په کوم کې چې هغوي ژوند کوي موافقت نه لري (د بيلګې په توګه ، په يوه ښاري چاپيريال کې کرنيز او شپني مهارتونه) او داخلي بېځايه شوی په مکرر ډول د هغو کارونو ترسره کولو ته چې ډېر کم بې ثباته مزد لري او د کورنۍ د اغيزمنتوب او نيستۍ کچه لوړه وي ، اړ دي.

ج. ښځې ځوک چې کولای شي په خپلو پخوانيو مينو کې د خپل معيشت/عايد سره مرسته وکړي اوس نه شي کولای په هغو ځايونو کې چيرې چې دوی ځای پرځای شوی کار وکړي ، دا د کورنۍ په هغو ځو بل القوه معاش خورو غړو باندې د متکي کيدو لوړ ضريب رامنځ ته کوي ، د ماشومانو سختو کارونو ته اړ باسل ، جبري او د وخت نه مخکې وادونه او د نورو ستونزمنو کارونو په ګډون.

د دې پالېسي سره سم د ملي لومړيتوب پروګرامونه:

د. د کار ، ټولنېزو چارو ، شهيدانو او معلولينو وزارت به د ټولو داخلي بېځايه شويو ، د ښځو په ګډون ، تدبيرونه تر سره کړي څو له دې پرته چې له هغوي سره د بې ځايه کيدنې يا د هغوي د نژاد (قومي تړاو) ، د اصلي ځای ، مذهب يا هر ډول بل وضعيت پر بنسټ توپير وشي ، ډاډ حاصل شي چې دوی د کار د امکاناتو حق ته لاس رسی ولري .

ه. هغه داخلي بېځايه شوی کسان چې په حکومت کې يې دنده درلوده ، د امکان په صورت کې انتقال او يا د بې ځايه کيدنې/استوګنې په بل ځای کې ځای پرځای شي او د هغوي لپاره د بديل دولتي کار موندلو په موخه لازمي هڅې ترسره شي. په ټولو مواردو کې ، د داخلي بېځايه شويو کسانو د تقاعد او همدارنګه نور امتيازات به له کوم ځنډ پرته د هغوي نويو سيمو ته انتقال شي.

و. د کار ، ټولنېزو چارو ، شهيدانو او معلولينو وزارت به د ښاري مرکزونو په شمول د معيشت پروګرامونه رامنځ ته کړي څو داخلي بېځايه شوی کسان او ځايي وګړي ترې ګټه پورته کړي او همدارنګه د کاري فرصتونو د رامنځ ته کولو په موخه عامه ، خصوصي شرکتونه وهڅوي.

ز. دکار ، ټولنېزو چارو ، شهيدانو او معلولينو وزارت به د کار موندلو په برخه کې له داخلي بېځايه شويو سره مرسته وکړي ، لکه د کارموندنې د خدمتونو مرکزونه او د دې لپاره چې د کار په مارکيټ کې هغوي د سيالۍ وړ شي داخلي بېځايه شويو ته به لومړيتوب ورکړل شي څو په حرفوي روزنو کې برخه واخلي. د حرفوي روزنو او د معيشت د انکشاف د پروګرامونو د معرفي کولو څخه وړاندې به مناسبې ارزونې او د مارکيټ تحليل ترسره شي څو ډاډ حاصل شي چې د هغو وګړو لپاره چې د دا ډول پروګرامونو څخه فارغيږی ،کارونه موجود وي.

ح. د کار ، ټولنېزو چارو ، شهيدانو او معلولينو وزارت به د معيوبو داخلي بېځايه شويو ، د هغو کورنيو چې ښځې يې مشري کوي ، د زيات عمر درلودونکی يوازې وګړي او نورو اغيرمن شويو بې ځايه شويو سره مرسته وکړي څو د دې پروګرامونو په واسطه چې د افغانانو په تر ټولو اغيزمن شويو وګړو باندې څرګند تمرکز کوي ، کار پيدا کړي.

ط.	د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت په ګډون ، د ښوونې او روزنې وزارت به د حرفوي روزنو په پروګرامونو کې داخلي بېځایه شوي ځوان وګړي شامل کړي ، لکه څنګه چې په ۷,۱,۸ (د) برخه کې تشریح شوي.

ی.	د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت او د کرنې ، اوبو لګونې او مالداري وزارت به هغه داخلي بېځایه شوي کسان چې په ښاري سیمو کې اوسیږي د معیشت او د مهارتونو د پراختیا په پروګرامونو کې شامل کړي او دهغو کوچیانو لپاره چې څاروی یې له لاسه ورکړي او یا د هغوي د کډوالی د لارو د قطع کېدو له امله بې ځایه شوي ، ځانګړې ستراتیژي ګانې او پروګرامونه جوړ کړي.

### ۵.۱.۷ خوړو او کالیو ته د لاس رسي حق

دغه پالېسي تصدیق کوي چې د داخلي بېځایه شویو کسانو ژوند کېدای شي د مستقیمو فزیکي بریدونو ترڅنګ ، د خوراک ، اوبو او مناسبو کالیو د نه شتون له امله د ګواښ سره مخ شي او بې ځایه شوی کسان او همدارنګه هغه ټولنې چې د بې ځایه شویو کوربتوب کوي د دې دول مرستو د غوښتلو او تر لاسه کولو حق لري.

دکډوالو اوراستنیدونکو چارو وزارت به داډ حاصل کړي چې:

الف.	د هر ډول توپیر نه پرته د هغوي د اساسي حقونو د درناوي او ترسره کولو پر مهال ، هغه ټولې مرستې چې د اخلي بېځایه شویو کسانو او د کوربه ټولنو سره ترسره شوی د بشر پالنې د اصولو پر بنسټ وړاندې شي.

ب.	داسې مرستې به د یوی جذب کونکی فاکتور په توګه کار ورکړی ، د دې دلیل پر بنسټ باید د بې ځایه شویو کسانو لپاره د ژوند ژغورنې د بشري مرستو څخه انکار و نه شي.

ج.	په بې ځایه کېدنه کې له زیاتې سرې هوا څخه د ژغورنې په موخه د وګړو سره د مرستې په خاطر ، د ژمننیو مرستو برابرول.

د.	د وګړو او کورنیو لپاره ، د کافي ، دوامداره او خوندي اوبو شتون.

هـ.	ځانګړی تدبیرونه نیول شوي څو دا یقیني کړي چې د حفظ الصحی امکانات خوندي شوي او د ټولو ، په خاص ډول د هغو معیوبو وګړو ، ماشومانو او د زیات عمر درلودونکو وګړو لپاره د لاس رسي وړ دي ، او دا چې د حفظ الصحي امکانات د ښځو او نجونو لپاره مناسب او خوندي دي.

و.	د دې امکان په پام کې نیول شوی چې په ځینو وختونو کې (د بیلګی په توګه په ځینو ځایونو کې چیرې چې ځایي مارکیټونه فعال وي) د نقدو پیسو د مرستې پروګرامونه ، کوم چې بې ځایه شویو کسانو ته د هغوي د اړتیا وړ شیانو د رانیولو توان ولري ښایي دا په ښاري او کلیوالي ، لرې پرتو یا د نه لاس رسي وړ سیمو کې یوه ګټوره ستراتیژي وي.

ز.	د زیاتو زیانمنیدونکو وګړو او کورنیو سره مرسته شوې ، کله چې نیستمنو وګړو ته بیړنۍ امدادي مرستې ویشلې کیږي په هغو کې داخلي بېځایه شویو کسانو ته ځای ورکړل شوی ، او ځایي چارواکي د بشر پالنې د هغو داخلي او نړیوالو نمایندګیو سره همکاري کوي کومې چې د داسې امدادي مرستو د وړاندې کولو توان او غوښتنه لري ، په هغه صورت کې که چیرې دوی د دا ډول مرستو د وړاندې کولو توان و نه لري.

### ۶.۱.۷ روغتیايي خدمتونو ته د لاس رسي حق

د افغانستان د اساسي قانون د ۵۲ مادې سره سم ، دولت اړ دی چې د افغانستان د ټولو وګړو لپاره د مخه نیونکې روغتیا پالنې ، طبي درملنی او روغتیا پالنې وړیا او مناسب امکانات برابر کړي. ۵۳ ماده بیانوي چې: "دولت د متقاعدو ، معیوبینو او معلولینو وګړو امتیازونه او حقونه تضمینوي ، او همدارنګه د زیات عمر درلودونکو وګړو او د بې سرپرستو ښځو او د اړو یتیمانو لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازمې مرستې وړاندې کوي." دا پالېسي تصدیق کوي چې داخلي بېځایه شوي کسان لکه د نورو وګړو په څېر اساسي روغتیايي خدمتونو ته د ورته بشپړ لاس رسي څخه د برخمن کیدوحق لري ، او تصدیق کوي چې د پیژند پاڼې د نه شتون په صورت کې به داخلي بېځایه شوی کسان وکولای شي طبي امکاناتو یا خدمتونوته لاس رسي پیدا کړي.

د دې پالېسي سره سم به د عامې روغتیا وزارت:

الف. د ځینو داخلي بېځایه شویو کسانو د روغتیايي اندیښنو په اړه اړین څرنګوالي ته په کتو سره ، په خاص ډول د بې ځایه کیدنې پرمهال او له هغه په وروسته موده کې ، د عامې روغتیا وزارت به په خپل وړتیا سره د روغتیا پالنې د حق درناوی ، ساتنه او ډاډ حاصل کړي.

ب. د ټولو داخلي بېځایه شویو ، په خاص ډول د نیستمنو وګړو لپاره د روغتیا او تغذیوي خدمتونو څخه د ډاډ حاصلولو په موخه خاص ټینګار.

ج. د ماشومانو لپاره د واکسیناسیون ، د ښځو لپاره له لنګون څخه وړاندې او وروسته پاملرنې ، د مزمنې ناروغې او خوار ځواکي لپاره د درملنې ، د معلولینو ، زیات عمر درلودونکو وګړو او څوک چې د بې ځایه کیدنې له امله د تاوتریخوالي قربانیان او یا د ذهني ټکان سره مخ شوي ، په خپل پروګرامونو کې شامل وي.

د. د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو د وزارت په مرسته ، د جنسي تاوتریخوالي او نورو تاوتریخوالی د قربانیانو او د هغو وګړو لپاره د رواني — ټولنېزو مرستو برابرول چې د بې ځایه کیدنې له امله له ذهني ناروغی سره مخ شوي.

ه. دمعیوبو وګړو دحقونو د ټرون سره سم ،د فزیکی بیارغونې او د اړتیا وړ سامان آلاتو او د خوځیدنې د آلو ، لکه ټایر لرونکې چوکۍ (ویلچیر) او د بغل لاندې د لکړو برابرول د معیوبو ماشومانو او لویانو لپاره.

و. د مخ پر زیاتیدونکو وګړو لپاره په ښاري مرکزونو کې د روغتیايي پاملرنې زیاتول ، فزیکي بیا رغونې خدمتونو په ګډون ، څو د دوي اړتیاوو ته په موثره توګه ځواب ووایی ، او هغو وګړو ته څوک چې په غیر رسمي میشت ځایونو کې ژوند کوي د لاسیرسي وړ وي ، او په دغو سیمو کې د روغتیا پالنې کیفیت ښه کړي ، په ځانګړې توګه د ښځو د امیدواري په دوارن کې ، د تنکیو ځوانانو د ودې ، او د کوچنیو ماشومانو روغتیا ته بشپړه پاملرنه.

ز. په لرې پرتو سیمو کې چیرې چې داخلي بېځایه شوی کسانو په اساني سره روغتیايي امکاناتو ته لاس رسي نه لري د ګرځنده کلینیکونو ملاتړ او د داخلي بېځایه شویو کسانو څخه په منظمه توګه لیدنه.

ح. چیرې چې د نا امنیو له کبله لاری تړلې وي او اړ وګړي نه شي کولای د بشر پالنې مرستو ته لاس رسي پیدا کړي ، هلته به د لارو د پرانستلو په موخه د بشر پالنې او نورو فعالینو سره کار وکړو څو د بې ځایه شویو کسانو واکسین لګولو په شمول لازم طبي خدمتونه برابر شي.

ط. د داخلي بېځایه شویو او کوربه ټولنو د روغتیایي اړتیاوو تر منځ اندول به په پام کې ونیسي تر څو دناندرو مخه و نیول شي.

د. له دې پالېسي سره سم ، د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه ژمن دي څو ډاډ حاصل کړي چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د روغتیا کارکونکو ، دروغتیا ټرانسپورټ او روغتیا ځایونو ته درناوی او د هغوي ساتنه کوي او د بې ځایه کیدنې په وضعیت کې د روغتیایي خدمتونو پ د رسولو په موخه د بشر پالنې د لارو د پرانیستلو اهمیت پیژني.

**۷. ۱. ۷ د کورنۍ ملاتړ**

د افغانستان اساسي قانون ۵۴ ماده بیانوي چې: کورنۍ د ټولنې اساسي رکن او د دولت تر پاملرنې لاندې ده. دولت د کورنۍ ، په خاص ډول ، د ماشوم او مور د فزیکي او رواني سلامتي څخه د ډاډ حاصلولو په موخه لازم تدبیرونه نیسي.

د دغو مقرراتو سره په سمون کې ،دا پالېسي تصدیق کوي:

الف. د نورو صلاحیت لرونکو چارواکو په همغږي ، د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت اړ دی څو د بې ځایه شویو کورنیو او ټولنو یوالي ملاتړ وکړي.

ب. لکه څنګه چې په ۶,۱,۲ (ج) ۴ برخه کې ذکر شوی ، د مور او پلار څخه جلا شویو ماشومانو او سرپرست نلرونکی کوچنیان په نښه کړي او له خپلو کورنیو سره د هغوي د یو ځای کولو په موخه د ځانګړو هڅو ترسره کول.

ج. په هغو مواردو کې چیرې چې د ماشومان یو ځای کیدل د هغوي له کورنیو سره نا شونې وي ، داسې ماشومانو ته باید چیرې چې شونې وي د هغو د ګټو په پام کې نیولو سره د دوي ساتنه وشي.

د. بې ځایه شوی کسان حق لري څو د خپلو ورکو شویو خپلوانو د سرنوشت په هکله معلومات ترلاسه کړي ، د ۶,۱,۲ (د) برخې پر اساس ، د کورنیو چارو وزارت د هغو وګړو په اړه چا چې په طبیعي او انساني پېښو یا د شخړې په پایله کې خپل ژوند له لاسه ورکړی ، ډاډ حاصل کړي چې د هغوي د مړو د پاتې شونو د موندلو لپاره طرزالعملونه ځای پر ځای کړي.

**۸.۱.۷ د ښوونې او روزنې حق**

دا پالېسي یادونه کوي چې:

الف. د افغانستان د اساسي قانون په ۴۳ ماده کې تصریح شوې ، چې زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت لخوا تامینېږی. د اساسي قانون همدا ماده بیانوي چې: دولت مکلف دی په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغیزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي. او دولت همدارنګه مکلف دی چې د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پری خبری کیږي لار هواره کړي. د اساسي قانون ۴۴ ماده بیانوي چې: دولت مکلف دی چې د ښځو د زده کړو د پراختیا او د توازن د ایجاد په منظور ، د کوچیانو د زده کړې د ښه والی او په هیواد کې د بې سوادي د له منځه وړلو لپاره اغیزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي.

ب. پر دې سربیره ، دافغانستان حکومت د ښوونه او روزنه د ټولو لپاره Education For All (EFA) د پروګرام ملاتړ کوي څو په هره ټولنه کې هر وګړي ته د معارف ګټې ورسوي ، او په ۲۰۰۰ کال یې بیا تصدیق کړي چې د زده کړي ۶خاصو تعلیمی موخو ته ژمن دی: لومړی: د ماشومتوب په لومړیو کې د پاملرنې او ښوونې او روزنې ښه والی او توسعه ، په خاص ډول ، د زیاتو زیانمنیدونکو او محرومو ماشومانو لپاره دویم: ډاډ حاصل کړي چې ټول ماشومان ، په خاص ډول نجونې ،

ځوک چې په ستونزمنو شرایطو کې ژوند کوي او هغه چې په لرکیو پورې تړاو لري ، بشپړ ، وړیا او د ښه کیفیت لومړنۍ اجباري ښوونې ته لاس رسي دریم: د مناسبې زده کړې او د ژوندانه د مهارتونو پروګرامونو ته د لاس رسي له لارې ډاډ حاصل شي چې د ټولو ځوانانو او لویانو د زده کړو اړتیاوې پوره شي څلورم د لویانو د سواد په برخه کې د ۵۰ سلنې ښه والي تر لاسه کول ، په خاص ډول د ښځو لپاره او د ټولو لویانو لپاره د اساسي او دوامداره معارف مساوي لاس رسي پنځم: په لومړنۍ او منځنۍ ښوونې کې د جنسیت د توپیر له منځه وړل او په معارف کې د جنډر د تساوي تر لاسه کول ، او د ښه کیفیت په اساسي معارف کې لاسته راوړنې او د نجونو د بشپړ او مساوي لاس رسي څخه د ډاډ په موخه تمرکز ، او شپږم: د معارف د ټولو اړخونو د کیفیت ښه والي او د ټولو له غوروالی څخه ډاډ څو د ټولو لخوا ځرګندې او د اندازې وړ پایلې تر لاسه شي ، په خاص ډول د سواد ، د شمیر د درک او د ژوندانه د اساسي مهارتونو په برخه کې.

د دې پالېسي سره سم ، د معارف وزارت ، د داخلي بېځایه شویو په اړه:

ج. د دې مسوولیت منل څو ډاډ حاصل شي چې د ټولو داخلي بېځایه شویو د ماشومانو او نجونو او همدارنکه هلکانو لپاره وړیا او جبري ، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې برابرول.

د. تصدیق کوي او د دې لپاره به تدبیرونه تر سره کړي څو ډاډ حاصل شي چې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې به:

۱. هیڅ به د اسنادو او پیژند پاڼې د نه شتون په صورت کې له ښوونځي څخه منع نه کړای شي ، (له ماشومانو څخه ازموینه واخیستل شي تر څو د هغوي تعلیمي سویه معلومه شي) :

۲. هیڅ بې ځایه شوی کوچنی د یونیفورم ، کتابونو د نورو ورته لګښتونو د نه شتون په صورت کې به د ښوونځي څخه منع نه کړای شی.

۳. ښوونځي به معیوبو ماشومانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پوره هڅه وکړي.

۴. په ښاري مرکزونو کې ، د داخلي بېځایه شویو ماشومان حق لري څو د ځایي ماشومانو سره یو ځای په هماغو ښوونځیو کې ګډون وکړي.

۵. د والدینو د هڅونې په موخه تعلیمي پروګرامونه او د پوهاوي فعالیتونه په پام کې ونیول شي څو هغوي وهڅوي ، چې په ښوونځیو کې خپل ماشومان ، نجونې او همدارنګه هلکان شامل کړي او د زیانمنونکو دودیزو کړنو لکه د ماشومانو له وخت څخه مخکې ودونو او کار ، کوم چې ماشومان د تعلیم د زده کولو څخه راګرځوي ، مخه ونیسي.

۶. د روغتیا پالنې د مناسبو امکاناتو په درلودلو سره داسې ښوونځی یقیني شي چې د داخلي بېځایه شویو د ټولنو په سیمه کې او یا هم هغو ته په نږدې واټن کې شتون ولري څو نجونې وکولای شي په ښوونځیو کې ګډون وکړي او معیوب وګړي ور ته لاس رسي ولري.

۷. د ښوونکو لپاره تشویقي پروګرامونه او مناسبې مرستې یقیني شي ، او د بې ځایه شویو ښوونکو لپاره هم لومړیتوب په پام کې ونیول شي څو وهڅول شي چې په لري پرتو سیمو او یا غیر رسمي میشت ځایونو کې چیرې چې داخلي بېځایه شوی کسان ژوند کوي ، د تدریس په موخه چمتو شي.

۸.	د اړتیا په صورت کې به د ټولګیو زیاتول ، د ښوونکو (ښځینه او نارینه) ، او د تدریسي توکو ، او د اړتیا په وخت کې په نصاب کې بدلون راوړل ، او د پلټنې غښتلی سیستم وړاندې کول ، څو دا یقیني کړي چې د کورني بې ځایه شوي ماشومان تعلیمي سویه په هیواد کې د نورو ماشومانو سره یوشانته شي ،او د ژوندانه د مناسبو مهارتونو د زده کولو ، او له کوره بې ځایه شویو د ماشومانو د کلتور درناوی وشي.

۹.	د هغو سیمو لپاره کومې چې زیات شمیر د داخلي بېځایه شویو کوربه توب کوي لازم تدبیرونه تر سره شي څو د ټولګیو ، ښوونکو او تدریسي موادو شمیر زیات شي او د بې ځایه شویو او کوربه ټولنو د ماشومانو تعلیمي اړتیاوو ته ځای ورکړي.

۱۰.	د هغو طرزالعملونو د پلي کولو او ښه والی لپاره لازم تدبیرونه تر سره شي چې موخه يې د هغو زده کونکو د شهادتنامو پیژندل دي چا چې له هیواد څخه د باندې ترلاسه کړي ، له هغه ځایه چې ځینی داخلي بېځایه شوي ماشومان پخوا کډوال / راستنیدونکی وه او په اوس وخت کې په دوهمه درجه بې ځایه کېدنه کې دي ، د داخلي بېځایه شویو پروفیسورانو او ښوونکو د اعتبار نامو د پیژندلو لپاره چا چې له هیواد څخه د باندې ترلاسه کړي ورته عمل ترسره شي.

۱۱.	دکار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو د وزارت په همکاري ، به د ځوانانو لپاره حرفوي روزنې رامنځ ته کړي (په مختلفو برخو کې لکه د کمپیوټر زده کړه) دسواد زده کړې پروګرامونه د هغو ماشومانو لپاره کوم چې له ښوونځي څخه پاتې شوي او د هغو ښځو لپاره چې هیڅ زده کړې يې نه وي ترسره کړي ، او د د زده کړي پروګرامونه او د مهارتونو او روزنې هغو لویانو لپاره څوک چې په دندو نه دي ګمارل شوي. داخلي بېځایه شوي کسان هم کولای شي له داسې تعلیمی پروګرامونو څخه ګټه پورته کړي.

### ۹.۱.۷ له ملکیت څخه دساتنې حق ، او د اووښتي زیان دجبران حق

دا پالېسي تاییدوي ، چې:

الف.	دولت د بې ځایه شویو کسانو د انتقال او نه انتقال وړ ملکیت د حق او د بې ځایه کیدنې ، ویجاړیدو یا ورانې په حالت کې ملکیت ته د اوښتي زیان جبران ، او تضمین کوي.

ب.	ټول بې ځایه شوي کسان د هر ډول کور او یا ځمکې او ملکیتونو چې ښايي له دوي څخه په جبري او یا غیر قانوني توګه اخیستل شوي وي ، د بېرته نیولو حق لري او که چیرې تر لاسه کول يې ممکن نه وي د اوښتي زیان د تاوان حق لري.

ج.	د داخلي بېځایه شویو د خپلې خوښې ستنیدنې د اسانتیاوو د برابرولو له لارې د زیان د جبران مرستې د پایښت لرونکو حل لارو یو مهم عنصر جوړوی ، دا یقیني کوي چې عدالت تامین شوی او د مادي اوښتي زیان جبران تر سره شوی ، چې دا د داخلي بېځایه شویو د میشتیدو په هغو سېمو کې چې اوسیږي ، مرسته کوي.

د.	دکونډو په شمول ، له ښځو سره دې د میراث د ترلاسه کولو یا مهر ته د لاس رسي په برخه کې مرسته وشي ، چیرې چې لازم وي ، باید وړیا حقوقي مرستې ترلاسه کړي څو خپل کور ، ځمکه او ملکیت بیا تر لاسه او یا د کور ، ځمکې او ملکیت چې زیانمن شوي او یا له منځه تللی تاوان ترلاسه کړي.

### ۱۰.۱.۷ د بیان ازادي او اطلاعاتو ته د لاس رسي حق

د افغانستان د اساسي قانون له ۳۴ مادې سره سم ، د بیان ازادي له تبري څخه خوندي ده. ټول افغانان ، د داخلي بېځایه شویو وګړو په ګډون ، د نظر او بیان د ازادی حق لري. د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې ۱۹ ماده تصریح کوي چې ، دغه حق پرته له کومې مداخلې د نظریو د درلودلو د ازادي او د هر ډول رسنیو او د پولو په پام کې د نه نیولو له لارې د اطلاعاتو او نظریو د بیان ، پلټل او تر لاسه کول تضمینوي.

د دې پالېسي سره سم ،د کډوالو او بېرته راستنیدونکوچارو وزارت به:

الف. ټول لازم تدبیرونه ترسره کړي څو د داخلي بېځایه شویو لپاره په داسې بڼه او لار کوم چې د ټولو لپاره د لاس رسي وړ وي معلومات برابر کړي او داخلي بېځایه شوي به د بشري او ټولنېزو مرستو د لاس رسي او همدارنګه د هر ډول تاوان په هکله چې دوی يې مستحق دی ، او څنګه کولای شي حقوقي مرستو ته چې دوي ورته اړتیا لري لاس رسي پیدا کړي.

ب. ډاد حاصل کړي چې داخلي بېځایه شویو ته د ضروري اسنادو د ترلاسه کولو په هکله چې ممکن دوي ورک کړي وي او یا هم د دوي د بې ځایه کیدنې په پایله کې له منځه تللي وي ، معلومات ورکړي.

ج. د پایښت لرونکو حل لارو په هکله داخلي بېځایه شویو ته معلومات ورکړل شی ، دغه معلومات به هر اړخیز ، په وخت او د هغوي په ژبه ، د هغوي په اصلي سیمه کې د حالاتو ، د هغوي د امتیازاتو او د بدیلو حل لارو په هکله وي.

د. د محلي حکومتداري له خپلواک ریاست سره په همغږی ډاډ حاصل کړي څو هغه مهم معلومات چې د داخلي بېځایه شویو په اړه دي د سیمه ییزو او مرکزي دولتي چارواکو او همدارنګه د ځایي او کورنیو رسنیو لخوا په ټولو اړوندو ژبو باندې خپاره شي.

ه. ډاډ حاصل کړي چې دغه اطلاعات د ټولنېزو او نادولتي بنسټونو ، جوماتونو او د معلوماتي مرکزونو له لارې دغو معلوماتو ته لاس رسي لري.

و. د قومي او نورو شخړو په تړاو د بیا پخلاینې او ډیالوګ د مفکورې د خپرولو او تسهیل کولو په موخه دغه وسیلې وکاروي.

ز. تدبیرونه ترسره کړي څو ډاډ حاصل شي چې رسنۍ د پروپاګندی په حیث او یا د تاوتریخوالي د تحریکولو په موخه و نه کاروي: تاوبریخوالي ته هڅونه هیڅکله د نظر او بیان ازادي نه ده..

### ۱۱.۱.۷ د برخې اخېستنې حقونه ، د رایې اچونې د حق په ګډون

(الف) د برخې اخېستنې حق

له دغې پالېسي سره سم:

۱ . په ټولو هغو پړیکړو کې چې د داخلي بېځایه شویو وضعیت اغیزمن کوي او په خاص ډول د بې ځایه کیدنې په اړه د پایښت لرونکو حل لارو د موندلو په حواله ، داخلي بېځایه شوی کسان او کوربه ټولنې به دواړه د هغوي د ستنېدنې ،بیا یو ځای کیدنې یا بیا مېشتېدنې په اړه د اړوندو ستراتیژي ګانو ، پروګرامونو او فعالیتونو د پلانولو ، طرح کولو او پلي کولو په چارو کې ښکیل وي.

۲. په ټولو مواردو کې ، داخلي بېځایه شوی کسان کولای شي په ازاده توګه پخپله پریکړې ترسره کړي ، ځکه چې هغوي په ښه موقعیت کې دي څو خپلې رښتینې اړتیاوې مشخصې کړي.

۳. ښځې ، د زیات عمر درلودونکی وګړي ، ځوانان او ماشومان او معیوب وګړي به وهڅول شي څو د پورته یادو شویو ستراتیژي ګانو ، پروګرامونو او د فعالیتونو په جوړولو کې ګډون وکړي او په هغو ټولو پریکړو کې چې د دوي ژوند په مستقیم ډول تر اغیزې لاندې راولي برخه واخلي.

۴. د کډوالو او بېرته راستنیدونکو د چارو وزارت ، د عدلیې وزارت او د محلي حکومتداري د خپلواک ریاست په همغږی ، به داخلي بېځایه شوی کسان وهڅوي چې خپلې ټولنې جوړې کړي څو په ښه توګه وکولای شي خپلې ګټې په څرګندو تورو بیان کړي او له خپلو اندیښنو څخه ساتنه وکړي.

۵. په هغه صورت کې چې داخلي بېځایه شوی کسان په پنډغالو کې اوسیږي ، د هغوي سره به د پنډغالو د تنظیم د شوراګانو ، ښځینه شوراګانو او ځوانانو د شوراګانو د جوړولو په چارو کې د کډوالو او بېرته راستنیدونکو د چارو وزارت مرسته وکړي.

**(ب) د رایې ورکولو حق**

د افغانستان د اساسي قانون ۳۳ ماده دا یقیني کوي چې د افغنستان هره وګړی حق لري چې ځان نوماند یا بل ته رایه ورکړي.

۱. داخلي بېځایه شوي کسان ، د افغانستان د وګړو په څېر ، کولای شي د ټاکنو لپاره ځان کاندید کړي او بل ته د رایې ورکولو حق لري او د بې ځایه کیدنې پر بنسټ له دغو حقونو څخه د برخمن کیدو نه شي محرومیدلای. که چیرې هغوي په خپلو اصلي ځایونو او یا د هغوي په میشت ځایونو کې (چیرې چې دوي اوس ژوند کوي) د دغو حقونو د کارولو هیله لري ، داخلي بېځایه شوی کسان په دې هکله پریکړه کولای شي.

۲ د ټاکنو کمیسیون به د داخلي بېځایه شویو کسانو ته د ثبت ، د ټاکنو د کارتونو د ویش زمینه برابره کړي کوم ځای کې چې دوي اوسیږي پرته له دې چې خپلو اصلی ځایونو ته ستانه شي. تر هغې چې داخلي بېځایه شوي کسان د هغوي اصلي ځایونو ته د رایې اچولو د ثبت پخاطر د ستنیدو هېله ولري.

۳. داخلي بېځایه شویو کسان ښځو او نارینه وو ته به د ټولټاکنو کارتونه ورکړل شي او د افغنستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا چې مرسته به یې د ښځو د چارو د وزارت له خوا ترسره کیږي د داخلي بېځایه شویو کسانو د هڅونې پخاطر پروګرامونه جوړ کړي څو د شوکۍ لپاره ځان نوماند او همدارنګه رایه ورکړي.

**۲.۷ اوږد مهاله بې ځایه کېدنه**

دا پالېسي لاندنۍ مسلې بیانوي:

الف. داسې وګړي شته چې د اوږدې مودې لپاره په داخلي بېځایه کېدنه کې ژوند کوي ځکه چې هغه شرایط چې په ۸,۳,۱ برخه کې د ستنیدنې لپاره ځای شوي نه دي تر لاسه شوي او په ۸ برخه کې تشریح شوي نورې پایښت لرونکې حل لارې نه دي موندل شوي.

ب. اوږد مهاله بې ځایه کېدنه اتکا رامنځ ته کوي او د کورني بې ځایه شويو او ټولنو تر منځ بې وزلي خپروي او زيانمنتوب يې زياتوي ، ځکه نو دا نه يوازې د دغو خلکو په ژوند منفي اغيزې لري بلکه په ټولنېز ډول په کوربه ټولنو او همدارنګه د افغانستان په ټولنيز او اقتصادي پرمختګ هم اغيزې لري.

ج. د لسيزو اوږدمهالی بې ځایه کيدنې وروسته ، اړتيا ده تر څو د سيمې پر بنسټ پر مختيايی پروګرامونه پلي او د بشر پالنې د مرستو له لارې د اوږد مهاله بې ځايه شويو د ژوند شرايط ښه کړي چې د ستنېدنې لپاره اوس هم منتظر دي او يا د کومې پايښت لرونکې حل لارې په لټون کې دي همدارنګه به د کوربه وو ټولنو سره هم مرسته وشي.

د. هغو ادارو او فعالينو ته چې په ۴،۱ او ۴،۵ برخه کې اشاره شوې په ځانګړي ډول لاندې تدبيرونه ترسره کړي څو د ژوندانه شرايط ښه او له شديدې بې وزلۍ سره مبارزه وکړي څو په دې توګه د اوږدمهالي بې ځايه کيدنې مخنيوی وشي.

١ . د اساسي خدمتونو په ځانګړی ډول د ښوونې او روزنې او روغتيا پالنې د امکاناتو غځول او لوړول.

٢. په هغو سيمو کې چيرې چې داخلي بېځايه شوی کسان ژوند کوي د پناه ځای ،کور ، اوبو ، روغتيا پالنې او نورو زيربناو لوړول څو د هغوی له خونديتوب او حيثيت ساتلو څخه ډاډ حاصل شي او د غير رسمي سيمو د زياتيدو څخه چې هغوي په کې ژوند کوي ، مخنيوی وشي.

٣. د ځمکی د سندونو برابرول د لنډې مودې او يا دايم لپاره او داسې نور د ځمکو سندونه چې له ځمکې څخه دنه ويستلو ډاډ حاصل کړي. لکه د مناسبو پيسو په بدل کې له ځمکې څخه په موقته توګه ګټه اخېستنه ، کرايه او يا اجاره. د دې کار د ترسره کولو لپاره د ځمکو ويش او يا د هغو ځمکو په رسميت پيژندل چې په ټولنو او يا قومونو پورې تړاو لري په اجاره ، کرايه او يا يې خرڅې کړي ، په کوم ځای کې چې بې ځايه شوي ژوند کوي اړينه به وي.

۴ . د معيشت د پروګرامونو او حرفوي مهارتونو د روزنو او همدارنګه د اقتصادی فعاليتونو او پانګونو لپاره د پور برابرول.

## ٨ . پايښت لرونکې حل لارې

### ١.٨ عمومي اصول

له دې پالېسي سره سم ، هغو ادارو او نورو فعالينو ته چې په ۴،۱ او ۴،۵ برخو کې ذکر شوی دی ، د چوکاټ په دننه صلاحيتونو کې کار کوي:

الف. د هغو لارو لټون کوم چې د ريښتنو پايښت لرونکو حل لارو لامل ګرځي ، څو دا يقيني شي چې بې ځايه کېدنه تر هغه وخت پورې دوام مومي چې تر کوم وخت پورې يې غوښتنه او اړتيا وي.

ب. تاييدوي چې د داخلي بېځايه شويو کسانو اړتياوې ، حقونه او مشروع ګټې به د پايښت لرونکو حل لارو د ټولو پريکړو په لومړيتوبونو کې ځای ولري. او دا چې دوي به د حل لارو د پلانولو او د تنظيمولو د شريکبانو په څېر ونډه واخلي.

ج. د داخلي بېځايه شويو کسانو حق ته درناوی ، د هغوي د حقونو سره سم لکه څنګه چې د افغانستان د اساسي قانون په ٣٩ ماده اوپه نړيوال بشري قانون کې راغلي ، هغوي کولای شي پريکړه وکړي چې د هيواد په هره برخه کې ميشت شي ، ترڅو د راتلونکي په اړه پريکړه وکړي چې خپلو کورونو ته ستانه شي او که څنګه.

د.	دا  مني چې تر هیڅ ډول شرایطو لاندې به داخلي بېځایه شوي  د ستنېدنې په موخه و نه هڅول شي او یا به دغه کار ته اړ نه کړای شي چې هغو سیمو ته ستانه شي چیرې چې د دوي د ژوند خوندیتوب ، ازادي یا د هغوي روغتیا له ګواښ سره مخ وي.

ه.	د افغانستان اسلامي حکومت هڅول او ملاتړ څو د ځمکې د داخلي قوانینو په دننه کې د داخلي بېځایه شویو اړتیاوو ته په مستقیم ډول ځواب ووایي.

و.	د دې تصدیق چې د یوه داخلي بېځایه شوی د سیمه ییزې یو ځای کېدنې او د هیواد په نورو سیمو کې د مېشتېدنې غوراوی ، د بیا ستنېدنې د غوراوي په نه شتون کې ، له ستنیدنې څخه د نومورې له حق څخه د لاس نه اخیستلو په مانا نه دی ، که چیرې دا غوراوی وروسته هم عملي یا ممکن شي.

**۲.۸ ستراتیژي او کاري پلانونه**

**۱.۲.۸ ولایتي کاري پلانونه**

دا پالیسي تصدیق کوي چې:

الف.	لکه څنګه چې په ټول هیواد کې د داخلي بېځایه کیدنې لپاره د پایښت لرونکو حل لارو د موندلو په موخه یو شمیر زیاتې عمومي ننګونې موجودې دي ، هر ولایت د یوه بې ساري حالت سره مخ دی: په هر ولایت کې د داخلي بېځایه شویو شمیر توپیر لري ،  دهغوي اصلي ځایونه او د بې ځایه کیدنې لاملونه مختلف وي ، د داخلي بېځایه شویو مهارتونه ، د هغوي د زده کړې کچې او د معیشت فرصتونه  بیلا بیل وي ، په هغو سیمو کې چیرې چې کورني بې ځایه شوی کسان په بې ځایه کېدنه کې ژوند کوي کیدای شي ښاري او کلیوالي و اوسي ، او هر چیرې د ځمکې ، خدمتونو ، او نورو سرچینو شتون توپیر لري.

ب.	هر ولایت چې د بېځایه شویو د پام وړ شمیر کوربه دی ، باید د خپلې بې ځایه کیدنې د ځانګړي حالت د ځوابولو په موخه ځانګړې ستراتیژي جوړه کړي ، او د کاري د یوه پلان په کارولو سره د خپلو بې ځایه شویو  لپاره د پایښت لرونکو حل لارو په موندلو تمرکز وکړي.

ج.	د ولایتي شوراګانو ، ولسوالانو ، ښاروالانو ، د کډوالو او راستنېدونکو چارو د ریاست ، اړوندو وزارتونو او نورو سیمه ییزو چارواکو د فعالې ښکیلتیا تر څنګ ، د ولایتي ستراتیژي او د کاري پلان جوړول د والی تر مشرتابه لاندې د ولایتي چارواکو دنده ده.( د داسې ستراتیژي او د عمل پلان د جوړولو لپاره لارښودونه په ۳ ضمیمه کې ځای شوی دی)

د.	چیرې چې ښاروالی ګانې او ولسوالی د داخلي بېځایه شویو د پام وړ شمیر کوربه توب کوي ، دا ډول ښاروالی ګانې کولای شی د ولایتي ستراتیژي او د عمل د پلان تر چتر  لاندې خپلې ستراتیژي ګانې او کاري پلانونه شرح کړي.

ه.	په ځینو مواردو کې ، ښایي دا د ولایتي چارواکو لپاره مناسب وي چې د هیواد له یوې ټاکلې سیمې یا د ګاونډیو ولایتونو څخه په سیمه ییزه کچه پلان جوړ کړي ، په ځانګړې توګه که چیرې دا کار د هغوي د منابعو د زیاتیدو سبب شي.

و.	د داسې ستراتیژي ګانو او کاري پلان په جوړولو کې ، د داخلي بېځایه شویو او نورو متاثره شویو ټولنو سره باید سلا مشورې ترسره شي او د پلانولو په پلی کولو کې شامل  شي ،او ټول شریکبانې باید دا تصدیق کړي چې په هغه صورت کې

چې داخلي ببڅایه شوي د سیمه ییزې بیا یوځای کیدنې یا میشتځایونو ته د ستنېدنې پریکړه وکړي ، دا به د هغوي خپله پریکړه وي.

ز. داسې تولې ستراتیژي ګانې او کاري پلانونه باید د کډوالو او راستنېدونکو د چارو له وزارت سره ، چې له ولایتي چارواکو سره د مرستې مسوولیت لري اخیستی څو د پایښت لرونکو حل لارو د پلي کولو لپاره لازمې د مرستو مالي سرچینې برابرې کړي ، شریک شي ، تر څو د هغوي په استازیتوب د حکومت او پارلمان او همدارنګه د نړیوالو نمایندګیو او تمویل کونکو په وړاندې د دوي د حق غوښتنه وکړي.

ح. د داسې ستراتیژي ګانو او کاري پلان بیا کتنه باید په کال کې یو وار ترسره شي ، هر ولایت باید د خپلو لاسته راوړنو او د هغو خنډونو په اړه له کومو سره چې مخ شوی د ښار کمیټې ته ، چې په ۱۰ برخه کې تشریح شوي ، راپور وړاندې او کمیټې ته د راتلونکې کال لپاره ستراتیژي او پلان وړاندې کړي.

### ۲.۲.۸ تطبیقي ملي پلان

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د چارو وزارت به یو کلن تطبیقي ملي پلان برابر کړي. د پلی کیدنې (تطبیقی) ملي پلان به په لومړنیو شپږو میاشتو کې د دغې پالیسي له تصویب وروسته بشپړ او دا په ډاګه کړي چې دا وزارت:

الف. نوموړې پالیسي به داخلي بېځایه شویو او همدارنګه حکومتي ادارو ته وویشي ، تر څو ددی پالیسي په احکامو ښه پوه او د دې د پلی کیدلو لپاره خلک و هڅوي.

ب. داخلي بېځایه شوي له ولایتي کاري ځواک سره په همغږی د ولایتي پلانونو ، انسجام او د هغو غوښتنو ته لومړیتوب ورکړي چې مرستې ته اړتیا لري.

ج. د حساب ورکونې د یوه داسې میکانیزم رامنځ ته کول چې په هغه کې د پلی شوی ولایتي پلان تعقیب ، څار او و ارزوي.

د. د داخلي بېځایه شوی ولایتي کاري ځواکونو د لوړتیا لوړول څو وکولای شي خپلې دندې له پالیسي سره سمې ترسره کړي.

هـ. د اړوندو ادارو څیړنه ، تجزیه او تحلیل په ملي کچه پر غاړه لري او د داخلي بېځایه شویو ولایتي کاري ځواکونه په خپلو اړوندو ولایتونو کې هم دې کار ته هڅوي.

و. د دې پالیسي د پلي کیدو اړوند لنډ معلومات ، هغه خنډونه او فرصتونه په منظمه توګه له اړوندو وزارتونو او بشر پالنې مرستندویه او پرمختیایي ټولنو ته وړاندې شي څو دا یقیني شي چې دوي ددغې پالیسي په پلي کولو کې پوره ونډه اخلي.

ز. د سرچینو د موندلو او راټولولو له ملي بودجې څخه لګه د مالي مرستو او د نړیوال مالی میکانیزمونو راټولول ، چې دکاري ملي او ولایتي پلانونو په پلي کولو کې ونډه واخلي.

ح. د داخلي بېځایه شویو لپاره د کډوالو چارو او بېرته راستنېدونکو وزارت د معلوماتو د اداري سیستم ، دمعلوماتو د راټولولو د ظرفیت لوړول د نړیوالو موسسو په مټ چې له مخکې څخه یې د داخلي بېځایه شویو کسانو معلومات راټول کړي دي او هم دهغوي د خوځښت د تعقیبولو دسیستم وده.

ط. د داخلي بېځایه شویو کسانو د وضیعت په هکله د هیواد په کچه د ملي معلوماتو را ټولول ، او د دې پالیسي د پلی کیدو په اړه یو راپور برابر او د جمهوري ریاست دفتر ته واستول شي.

ی. ددی پالېسي د ارزښت او د هغې د سمون او تعدیل په اړه ځیرنې وشي.

### ۳.۸ را ستنېدنه

#### ۱.۳.۸ د راستنېدنې شرایط

دا پالېسي یقیني کوي چې لاندني شرایط باید ترلاسه شي څو د پایښت لرونکې حل لارې لپاره ستنېدنې ته د یوه انتخاب په سترګه وکتل شي.

الف. د راستنېدنې په سیمو کې خوندیتوب ، امنیت او ټیکاو.

ب. د ستنیدنې سیمو ته د سفر پر مهال ، خوندیتوب او امنیت.

ج. د کور ، ځمکې او ملکیت د ټولنو لخوا د راستنېدونکو وګړو د ځمکې نیول یا د کور ، ځمکې او ملکیت د منل شویو کورونو په ګډون مناسب تاوان ، د راستنیدنی په سیمو کې د کورونو د بیارغونی ، د اوبو د برابرولو او د اساسي خدمتونو په برخه کې د مرستو برابرول ، څو د ژوندانه د مناسب معیار او د راستنېدونکو لپاره اساسي خدمتونو ته لاسرسي ډاډمن شي.

د. د راستنېدنې په سیمو کې د معیشت بیا رامنځ ته کول یا د بدیل معیشت دانتخابونو معرفي کول.

#### ۲.۳.۸ د راستنېدنې لپاره د شرایطو برابرول

د کډوالو او راستنیدنکو د چارو وزارت به د نورو اړوندو ادارو او فعالینو په همغږی چې په ۴٫۱ — ۴٫۵ برخو کې په ډاګه شوي ، او د داخلي بېځایه شویو کسانو سره په سلا مشورو کې او د لاندنیو فعالیتونو د ترسره کولو ډاډ حاصل کړي:

الف. د هغوي د اوسیدو په سیمه کې د وضعیت په هکله داخلي بېځایه شویو کسانو ته د اړوندو او کره معلوماتو برابرول ، د لاس رسي په موخه د اسانتیاوو برابرول تر څو وتوانیږي چې له خپلو اصلي سیمو څخه لیدنه وکړي ، څو د راستنېدنې په هکله رضاکارانه پریکړه وکړي.

ب. دهغو پروګرامونو له لارې چې موخه یې په ۸٫۳٫۱ برخه کې د خاصو وضعیتونو رامنځ ته کول دي له هغو داخلي بېځایه شویو سره چې غواړي خپلو اصلي ځایونو ته ستانه شي ، مرسته کوي.

ج. د زیاتې ستنیدنې په سیمو کې د ساحې پر بنسټ ولاړو پروګرامونو کې چې د افغانانو د ستنېدنې د ملاتړ په موخه دي او څوک چې کډوال وه جوړ شوي ، د کورني بې ځایه شویو له شامیلیدو څخه د ډاډ تر لاسه کول.

د. د هغو مقرراتو سره په سمون کې چې د ځمکې د تخصیص د پلان په هکله د ولسمشر په ۱۰۴ شمیره فرمان کې ځای شوي ، د هغو وګړو سره څوک چې ځمکه نه لري د ځمکې د ترلاسه کولو په چارو کې مرسته ، باید په پام کې وساتل شي چې داسې پلانونه د پایدارې ستنېدنې په راتېنګونه کې پاتې راغلي او لامل یې هم په تخصیص شویو ځمکو کې د څښاک د اوبو او نورو زیربنایي اړتیاوو نه برابرول دی ، دا ځمکې د کار د مارکیټ او د معیشت د فرصتونو څخه په لرې واټن کې پرتې دي ، او اساسي خدمتونه (په خاص ډول روغتیا پالنه او ښوونه او روزنه) یا نشته او یا مناسب نه دي.

ه. په هغو سیمو کې چیرې چې کورني بې ځایه شوي کسان او د هغوي د ګاونډیانو تر منځ پخوا شخړې موجودې وي د خبرو اترو او د پخلاینې او وړیا حقوقي مرستو د پروګرامونو ملاتړ.

و. د ستراتيژي ګانو د جوړولو او د پرمختيايي فعالينو لخوا د ښکيلتيا ملاتړ څو د هغې ټولنې د جذب له ظرفيت څخه ډاډ حاصل کړي ، چيرې چې داخلي بېځايه شوي کسان ستنيږي.

**۴.۸ نورې پايښت لرونکې حل لارې: سيمه ييزه يو ځای کېدنه او د هيواد په بله برخه کې مېشتېدنه**

دا پالېسي د ستراتيژي ګانو او پرګرامونو لپاره د اړتيا تصديق کوي څو سيمه ييزه يو ځای کېدنه او د هيواد په بله برخه کې مېشتېدنه برابره کړي ، او لاندني موارد تاييد وي:

الف. د کډوالو او راستنېدونکو د چارو وزارت او ټولو چارواکو او فعالينو ته چې په ۴,۱ – ۴,۵ برخه کې اشاره شوې د داخلي بېځايه شويو د خوځښت د ازادي او مېشتېدنې لکه څنګه چې په ۷,۱,۲ برخه کې ورته اشاره شوې ، درناوی کوي. په خاص ډول محلي ، ولايتي او د ښاروالی چارواکي په هيواد کې په نورو سيمو کې په محلي کچه سيمه ييزه يو ځای کېدنه او د هيواد په بله برخه کې د ميشتيدنې په برخه کې د داخلي بېځايه شويو حق مني.

ب. د اړوندو حکومتي او نړيوالو چارواکو ، د داخلي بېځايه شويو د سلا مشورو او هغه ټولنې چې له بې ځای کيدنې څخه زيانمنې شوي په ملاتړ ، واليان ، ولسوالان او ښاروالان به په ولايتي او دښاروالیو په کچه د کاري پلانونو د جوړولو لکه څنګه چې په ۸,۲ برخه کې تشريح شوي ، مسوليت ولري.

ج. په کاري او دې ته ورته نورو پلانونو کې د داسې ستراتيژي ګانې او پروګرامونه شاملول چې موخه يې د داخلي بېځايه شويو د کور او ځمکې د حق په هکله لکه څنګه چې په ۷,۱,۳ برخه کې راغلي او د هغوي د معيشت د حق چې په ۷,۱,۴ برخه کې راغلي ، د ډاډ حاصلول دی.

د کاري پلانونه بايد دا يقيني کړي چې له بې ځايه کيدنې څخه زيانمنې شوې ټولنې او داخلي بېځايه شوی کسان نيستمن او محروم دی ، او داخلي بېځايه شوي کسان د هغوي د خدمتونو پ‍ء بنسټونو باندې يو اضافي بار دی ، او د مخالفت او حسادت د مخنيوی په موخه په سيمه کې پرمختيايي پلانونه د کوربه ټولنو او داخلي بېځايه شويو لپاره يو شان په پلان کې ونيول شي.

هـ. ـ دا چې د بې ځايه شويو لپاره د پايښت لرونکو حل لارو د لټون په برخه کې ، د افغانستان اسلامي حکومت دا يقني کړې چې ښاري مرکزونو ته په زياته کچه خلک راځي ، د ښاري پراختيا د چارو وزارت د هغو داخلي بېځايه شويو چې په ښاري سيمو کې په غير رسيمي ميشت ځايونو کې ژوند کوي مسوليت لري څو د ملي لومړيتوب له پروګرام څخه ګټه واخلي او د هغوي لپاره د مسکن او زيربنا ښه والی (اوبه ، روغتيا پالنه ، بريښنا او سړکونه ) رامنځ ته کړي ، او دا چې داخلي بېځايه شوي کسان له ماسټر پلان څخه کټه پورته کړي څو د ځمکې قبالی تر لاسه او د جبری وېستلو مخنيوی يې وشي.

و. په کومو ځايونو کې چې داخلي بېځايه شويو ځمکې رانيولي د ژوندانه د ښه کيدو او د بنسټونو د بهبود د پروژو له لارې به له سيمه ييزې يو ځای کيدنې سره مرسته وشي.

ز. لکه څنګه چې په ۷,۱,۴ برخه کې يادونه شوې ، د کليو د بيا رغونې او پراختيا او د کرنې ، اوبو لګونې او مالداري وزارتونه دې د شپنو د اړتياوو د ځوابولو په موخه چې په اوس حال کې د داخلي بېځايه شويو موقف لري ، ستراتيژي ګانې جوړې کړي.

ح. کورني او نړیوال فعالین دې د داخلي بېځایه شویو لپاره په خپلو عمومي او سکتوري پرمختیایی پلانونو او پرګرامونو کې ملي ، ولایتي ،ښاري او کاري پلانونه ځای کړي ځو د هغوي په پر مختیایي فعالیتونو کې د داخلي بېځایه کیدنې مسلې ته په مناسب ډول ځواب ووایي.

**۹ . تمویل**

د دې پالېسي د پلی کولو لپاره د تمویل سرچینې په لاندې ډول برابریږي:

الف. د دې پالېسي د پلي کولو لپاره د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ته د بودجي مستقیم تخصیص.

ب. د بودجې مستقیم تخصیص د ولایتونو او دښاروالیو ادارو ته ځو پخپلو ولایتونو کې کاري پلانونو پلي کړي.

ج. د دې پالېسي لاندې د بودجې په تخصیص کې د اړوندو وزارتونو او نورو دولتي ادارو لپاره د فعالیتونو شاملول.

د. د دې پالېسي د پلي کولو په موخه د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزارت لخوا د نورو مالي سرچینو ترلاسه کول.

ه. ترلاسه شوې نړیوالې مالي سرچینې د ولایتونو او ښاروالیو لخوا د ستراتیژګانو پر بنسټ دغه سرچینې په خپلو ولایتي کاري پلانونو کې د ضمیمې په شکل شاملې کړي.

**د دې پالېسي د پلي کولو په موخه د مالیې وزارت لاندې فعالیتونه تر سره کوي:**

الف. د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزارت لپاره د داخلي بېځایه شویو کسانو د اړتیاوو د ځوابولو په موخه کافي بودجه تخصیص کړي.

ب. د مالیې وزارت لپاره د رښتینې بودجې او مالي وړاندیزونو/پرپوزلونو په طرح کولو کې د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزارت د ظرفیت لوړول.

ج. د داخلي بېځایه شویو د یوه وجهي صندوق یا ملي بودجې د رقم طرح او تخصیص ، اړونده حکومتي نمایندګي کولای شي له هغو ځخه په کارولو د داخلي بېځایه شویو لپاره خاص خدمتونه او پرګرامونه برابر کړي.

د. د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزارت لپاره د بیړنیو مالي مرستو تخصیص او د داخلي بېځایه شویو لپاره د بودجې په کارولو کې نرمښت ځو په دې توګه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت وکولای شي ځرګندو او اضطراری حالتونو ته په مناسبه توګه ځواب ووایي.

هـ. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون لپاره د بسيا مالي سرچينو اختصاص ، د څارنې د کميټې د مشر په توګه ، دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون کولای شي داډ حاصل کړي چې د دې پالېسي د ۱۰ برخې لاندې د څارنې کميټې ته ورکړل شوې دندې په موثره توګه ترسره کيدلای شي.

**۱۰ . څارنه او را پور ورکونه**

څارنه د پالېسي د پلي کولو لپاره د يو څارنيز ميکانيزم له خوا چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو د وزارت د څارنې او څېړنې کميسيون په همغږي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او همدارنګه د جمهوري رياست د چارو اداره د څار او څېړنې يو ګډ کميسيون جوړ کړای شي او اړونده ملي او نړيوالو ادارې به را وبللې شي څو په څارنه او څېړنه کې ونډه واخلي.

**د څارنې ميکانيزم:**

الف. د څار او څېړنې له معيار سره سم يو څېړنيز جدول چې مناسب شاخصونه ولري او د پلې کيدو پړاو تر څېړنې لاندې ونيسي جوړ شي.

ب. د جمهوري رياست دفتر لپاره د ترلاسه شوی پرمختګ د تعيينولو ، د پلي کولو د چارو په وړاندې د خنډونو او د پالېسي د چوکاټ په تړاو د يوه عمومي راپور وړاندې کول.

ج. همدارنګه د يوه ځانګړي راپور برابرول چې د پالېسي د پلی کيدو په اړه ځانګړې ستونزې په ګوته کړي ، په ځانګړې توګه ددې پخاطر چې په بې ځايه کېدنه کې د بېځايه شويو د حقونو درناوی ، ساتنه او دفاع وشي او په ښه توګه د هغو خنډونو ځوابول چې د پلي کولو د پايښت لرونکو حل لارو مخنيوی کوي.

د. د دې پالېسي د پلي کولو د څارنې په موخه ، د څارنې کميټه د اړوندو وزارتونو او دولتي رياستونو ، د ولايتي ، ولسوالي او ښاروالي له چارواکو سره د هغوي د پلانونو او هڅو د پلي کولو د تعقيب صلاحيت لري.

هـ. بسيا مالي سرچينې به د څېړنيزو او راپور ورکونې دفعاليتونو په موخه ، چې پالېسي پرې ټينګار کوي ، ترلاسه کړای شي.

## په دغه پالېسي کې ضمیمه اسناد

**لومړۍ ضمیمه: د داخلي بېځایه کیدنې په اړه د ملګرو ملتونو لارښوونکي اصول**

**دویمه ضمیمه: د اړوندو وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو مسوولیتونه**

**دریمه ضمیمه: د پایښت لرونکو حل لارو لپاره د داخلي بېځایه کیدنې د ولایتي عمل پلانونو د جوړولو په اړه والیانو ته لارښوونې**

**څلورمه ضمیمه: د اجباري اخراجونې په حالت کې د ضرر او زیان د کمولو لارښوونې-دافغانستان حمایتي ګروپ**

**(۱) شمیره ضمیمه**

**د داخلي بېځایه کیدو په اړه د ملګرو ملتونو لارښوونکی اصول**

**سریزه: اړخونه او موخه**

۱. دغه لارښوونکي اصول په ټوله نړۍ کې د داخلي بېځایه شویو ځانګړو اړتیاوو ته ځواب وایي. یاد شوي اصول له اجباري بې ځایه کیدنې څخه د وګړو د ساتنې ، د بې ځایه کیدو پر مهال له هغوي سره د مرستې او ملاتړ او همداراز د هغوي د بېرته راستنیدلو ، بل ځای میشته کیدو او بیا استقرار په اړه ضمانتونه او حقونه پیژني.

۲. په دې اصولو کې له داخلي بېځایه شویو څخه منظور ، هغه وګړي یا د وګړو ډلې دي چې له خپلو دایمی استوګن ځایونو ،کورونو او سیمو څخه په جبری توګه ، په ځانګړی ډول د جګړې په پایله کې یا له جګړی څخه دراپیښیدونکو زیانونو له ویرې د تاوتریخوالي عمومي وضعې ، د بشري حقونو له ماتولو یا د طبیعي پېښو او یا د بشر په وسیله د رامنځ ته شویو پېښو له امله تښتې ته اړ شوي ، خو د یوه هیواد له نړیوالې پیژندل شوې پولې څخه نه وي اوښتي.

۳. دا اصول د بشر د نړیوالو حقونو د قانون یا د نړیوالو بشري قوانینو انعکاس کونکي دي او ور سره سمون لري. دا اصول لاندنیو مراجعو ته لارښوونه کوي:

الف: دخپل ماموریت د تر سره کولو په لار کې د بې ځایه شویو په چارو کې د سر منشي استازی ؛

ب: دولتونه ، هغه مهال چې د کورنیو مهاجرتونو له پدیدې سره مخ کیږي.

ج: له داخلي بېځایه شویو سره په اړیکو کې ټولې نورې ادارې ، ډلې او وګړي ؛او

د: بین الحکومتي او غیر حکومتیې موسسې ،کله چې د داخلي بېځایه شویو چاروته پاملرنه کوي.

۴. دا اصول باید په پراخه توګه خپاره او پلي شي.

**لومړی فصل عمومي اصول**

**لومړی اصل**

۱. داخلي بېځایه شوي کسان دي له یو شان حقونو او آزدیو څخه په پوره برابره توګه چې د یوه هیواد نور افراد د ملي او نړیوالو قوانینو سره سم برخمن شي. له هغوي سره دې داخلي بېځایه کیدنې له امله د هغوي په حقونو او ازادیو کې له توپیر څخه کار نه اخیستل کیږي.

۲. دا اصول د نړیوالو حقونو پر بنسټ د افرادو جرمي مسوولیت ، په ځانګړې توګه د نسل وژنې په اړه د بشر ضد جرمونه او جنګي جرمونه نه ساقطوي.

**دویم اصل**

۱. دا اصول دبد ټولو ادارو ، ډلو او وګړو له خوا د هغوي د حقوقي موقف ته له کتنې پرته رعایت او پرته له هر ډول امتیاز څخه دې تطبیق شي.

د دې اصولو رعایتول باید د کومو ادرارو ، ډلو او وګړو پر حقوقي حالت اغیزه و نه کړي.

۲. دا اصول نه باید په داسې ډول تفسیر شي ، چې بشري حقونه یا ور کړل شوي کورني حقونه محدود ، تعدیل یا کمزوري کړي.

په ځانګړې توګه ، دا اصول په نورو هیوادونو کې د پناه غوښتنې او له هغې څخه د برخمن کیدو حق نه ساقطوي.

**دریم اصل**

۱. ملي ادارې داخلي بېځایه شویو ته د مرستو په برابرولو کې لومړۍ درجه دنده او مسولیت لري او پخپله خاوره کې د هغوي ساتنه کوي.

۲. داخلي بېځایه شوي له دې ادارو څخه د ملاتړ او بشري مرستو د تر لاسه کولو د غوښتنې حق لري. هغوي باید د دغه ډول غوښتنې له امله تر ځور او سزا لاندې ونه نیول شي.

**څلورم اصل**

۱. دا اصول باید پرته له هر ډول توپیر څخه چې ، د نژاد ، رنګ ، جنسیت ، ژبې ، مذهبت یا عقیدې ، سیاسي نظر یا نورو نظرونو ، ملي ، قومي او ټولنېزه منشأ ، حقوقي او ټولنېز موقف ، عمر ، معیوبیت ، ملکیت ، پیدایښت او دا ډول نورو معیارونو پربنسټ وي ، تطبیق شي.

۲. ځانګړي بې ځایه شوي کسان لکه ماشومان ، په ځانګړې توګه بې سرپرسته ماشومان ، امیندواره میندې ، د کوچنیو ماشومانو درلودونکې میندې ، د کورنیو مسوولیت لرونکې ښځې ، معیوب وګړي او ډیر عمر لرونکې دې د هغې مرستې او ساتنه چې د هغوي ځانګړو اړتیاوو ته ځواب ویونکې وي ، مستحق وپیژندل شي.

**دویم فصل**

**د بې ځایه کیدنې پر وړاندې د ملاتړ اړوند اصول**

**پنځم اصل**

ټولې ادارې او نړیوال بنسټونه دې د هغو شرایطو د مخنیوي او له هغو څخه د لیرې والي په موخه ، چې د افرادو د بې ځایه کیدنې سبب شي ، باید خپل مکلفیتونه د نړیوالو قوانینو له هغې جملې څخه د بشري حقونو او د نړیوال بشري قانون سره سم په هرډول شرایطو کې رعایت او درناوی وکړي.

**شپږم اصل**

۱. هر انسان حق لري څو د خپلې استوګنې له دایمي سیمې او کور څخه د اجباري بې ځایه کیدو په وړاندې تر ساتنې لاندې ونیول شي.

۲. په اجباري بې ځایه کیدو کې په لاندې حالاتو کې بې ځایه کیدل شاملیږي:

الف: هغه وخت چې د اپارتاید (قومي تبعیض) یا مشابه چلندونو پربنسټ وي یا داغیزمن شویو افرادو په قومي ، نژادي یا مذهبي ترکیب کې د بدلون په موخه وي او یا د دغه ډول بدلونونو سبب شي ؛

ب: دوسلوالو نښتو په شرایطو کې ، مګر دا چې د ملکي وګړو خوندیتوب یا قومي دلیلونه دا ډول ، هیله یا حکم وکړي ؛

ج. دپراخو پرمختیایي پروژو په صورت کې چې دقانع کوونکو او مهمو دلیلونو او دخلکو د ګټو پر بنسټ توجیه شوې نه وي ؛

د. د حوادثو د پیښېدو په صورت کې ، مګر دا چې داغیرمن شویو افرادو د روغتیایي حالت د خوندیتوب لپاره اړین وي ؛ او

هـ.	کله چې له هغې څخه د ډله ییزې سزا د ورکولو په توګه کټه واخستل شي.

۳.	بې ځایه کیدل باید له هغه وخت څخه چې شرایط یې ایجابوی ،ډیر دوام ونه کړي.

**اووم اصل**

۱.	له هر ډول پریکړې نیولو څخه مخکې چې د افرادو بې ځایه کیدل لازمي کوي ، اړوندې ادارې باید ډاډ تر لاسه کړي چې ټول ممکن بدیلونه له ټولیزې بې ځایه کیدنې څخه د مخنوی په موخه لټول شوي ، د بدیلونو د نشتون په صورت کې دې ټول تدبیرونه دبې ځایه کیدو او د هغې د ناوړه اغیزو د کمولو لپاره ونیول شي.

۲.	هغه ادارې چې دا ډول بې ځایه کېدنه په عهده اخلي ، باید تر هغه ځایه پورې چې عملي وي ، ډاډ ترلاسه کړي چې بې ځایه شویو ته په پراخه کچه داستوګنې مناسب ځای برابر شي ، دا ډول بې ځایه کیدل د خوندیتوب ، تغذیې ، درملنې او روغتیا له پلوه په قناعت وړ شرایطو کې ترسره او د یوې کورنۍ غړي یو له بل څخه جلا نه شي.

۳.	هر کله چې بې ځایه کېدنه ، پرته له بیړنیو حالاتو ، وسلوالو نښتو یا حوادثو څخه تر سره کیږی ، باید له لاندی ضمانتونو سره مله وي:

الف:	دهغې ادارې په وسیله چې د قانون د حکم له مخې د دغه ډول تدبیرونو د نیولو واک لري د لازمو اقداماتو اړوند دې ځانګړی تصمیم ونیول شي ؛

ب:	کافی تدبیرنه دې ونیول شي هغو خلکو ته چې بې ځایه کیږی دبی ځایه کیدو د دلیلونو او طرز العملونو په اړه او که چیرې د تطبیق وړ وي ، د بې ځایه کیدنې د زیان جبران او لیږدولو په اړه د پوره معلوماتو ورکول تضمین شی ؛

ج:	د هغو خلکو چې بې ځایه کیږی آزاد او آګاهانه هوکړه دې ولټوله شي ؛

د:	اړوندې ادارې دې هڅه وکړي ، چې زیانمن شوی افراد په ځانګړې توګه ښځې له یوې سیمې څخه بلې ته د هغو د لیږدولو په پلان جوړولو او سازمان ورکولو کې شریک کړي ؛

هـ:	په هغو ځایونو کې چې اړتیا یې لیدل کیږی دواکمنو حقوقي ادارو پوسیله دې قانون د تطبیقولولپاره اقدامات ترسره شي ؛

و:	په اغیزمن ډول د زیانونو د جبران کولو حق ، له هغې جملې څخه د قضایي مناسبو ادارو په وسیله د دې ډول پریکړو بیا کتنې ته دې درناوی وشي.

**اتم اصل**

بې ځایه کیدل نه باید په داسې بڼه ترسره شي چې دبی ځایه شویو افرادو د ژوند ،عزت ،آزادي او امنیت حق نقض کړي.

**نهم اصل**

دولتونه د بومي خلکو ، لږکیو ، بزګرانو ، کلیوالو خلکو او نورو ګروپونو چې له خپلو ځمکو سره تړلي ، له بې ځایه کیدو څخه د مخنیوي ځانګړي مکلفیتونه لري.

**دریم فصل**

**دبې ځایه کیدو په جریان کې په ملاتړ پورې اړوند اصول**

**لسم اصل**

۱. هر انسان په ذاتي توګه د ژوند حق لري چې باید د قانون په وسیله ور څخه ملاتړ وشي. هیڅوک **نه** باید په خپل سرې توګه له ژوند څخه بې برخې نه کړای شي. داخلي بېځایه شوي باید په ځانګړې توګه له لاندنیو پېښو څخه خوندي پاتې شي:

الف: نسل وژنه ؛

ب: قتل ؛

ج: له محاکمې پرته پخپل سر اعدامول ؛ او

د: جبري ورک کول ، له هغې جملې څخه سرې تښتونه یا غیر رسمي بندي کول ، تهدیدول یا هغه تهدیدول چې د وژنې سبب کیږي. د پورته ذکر شویو کړنو د تر سره کولو لپاره تهدیدول او تحریکول دې منع شي.

۲. د داخلي بېځایه شویو پرضد بریدونه یا تاوتریخوالی ، چې په دښمنیو کې ښکیل نه دي او یا نور پکی ښکیل نه دي ، په هر ډول شرایطو کې منع دي. له کورنیو بې ځایه شویو څخه په ځانګړې توګه د لاندنیو کړنو پر وړاندې ملا تړ کیږي:

الف: مستقیم بریدونه یا بې توپیره بریدونه یا له تاو تریخوالي ډکې کړنې ، له هغې جملې څخه د داسې سیمو ایجادول چې له هغو څخه پر ملکي افرادو د بریدونو زمینه مساعدوی .

ب: دیوه جګړه ییز چلند په توګه د هغوي وږي ساتل.

ج: دبریدونو په وړاندې د پوځي موخو د سپر په توګه ، د دفاع په موخه یا د ګټې اخبستنې او یا د پوځي عملیاتو د مخنیوی په خاطر له هغوي څخه ګټه اخیستل.

د: د دوي پر کمپونو او یا د میشت ځایونو بریدونه ، او

ه: د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو کارول.

**یوولسم اصل**

۱. هر انسان د انساني کرامت او د جسمي ، روحي او اخلاقي خوندیتوب حق لري.

۲. داخلي بېځایه شوي پرته له دې چې په پام کې ونیول شي ، چې آیا د هغوي آزادي محدوده شوې او که نه ، په ځانګړې توګه د لاندې کړنو په وړاندې ساتل کیږي:

الف: جنسی تیری ، د بدن د غړو پرې کول ، ځورول ، غیر انساني یا تحقیرونکی بد چلند یا سزا ، او د فردي عزت سره نا سمې نورې کړنې لکه جنسي تاوتریخوالی ، جبري فحشا او هر ډول نور ناوړه بریدونه ؛

ب: مریتوب یا یې اوسنی بڼې ، لکه دودولو لپاره پلورل ؛

ج: د کورنیو بې ځایه شویو تر منځ د ډار خپرولو په موخه له تاوتریخوالي ډکو کړنو د ترسره کولو لپاره تهدیدول او هڅول منع دی.

**دولسم اصل:**

۱. هر انسان د ازادي او شخصي امنيت حق لري ، هيڅوک نه بايد پخپل سرې توگه ونيول يا بندي شي.

۲. له دغه ډول حق څخه د بې ځايه شويو د برخمن کيدو په موخه دې هغوي په کمپونو کې کلا بند يا توقيف نه کړای شي که په استثنايي شرايطو کې دغه ډول وضعه په مطلقه توگه اړينه وي ، له هغې مودې چې شرايط يې غوښتنه کوي نه بايد ډير دوام وکړي.

۳. بې ځايه شوي دی د بې ځايه کيدنې په پايله کې له توپير لرونکې نيونې او توقيفولو څخه خوندي پاتې شي.

۴. داخلي بېځايه شوي دې په هيڅ حالت کې يرغمل ونه نيول شي.

**ديارلسم اصل**

۱. بې ځايه شوي ماشومان دې په هيڅ ډول شرايطو کې په وسلوالو ځواکونو کې نه استخداميږي او په جگړه کې د گډون اجازه نه ورکول کيږي او نه بايد له هغوي وغوښتل ش چې په جگرو کې گډون وکړي.

۲. داخلي بېځايه شوي دې د بې ځايه کيدو له امله په وسلوالو ځواکونو يا ډلو کې د استخدام د توپير لرونکو کړنو پر وړاندې تر ملاتړ لاندې ونيول شي. په ځانگړې توگه هر ډول بې رحمانه ، غير انساني او تحقيرونکې کړنې چې د دې استخدام اطاعت جبري کوي او يا يې نه اطاعت ته سزا ورکوي ، په هر ډول شرايطو کې منع دي.

**څوارلسم اصل**

۱. هر داخلي بېځايه شوي د خپلې استوگنې د ځای ټاکلو او د گرځيدو را گرځيدو د آزادی حق لري.

۲. په ځانگړې توگه ، داخلي بېځايه شوي حق لري چې په آزاده توگه په کمپ او نورو ميشت ځايونو دننه او بهر کې وگرځي.

**پنځلسم اصل**

داخلي بېځايه شوي لاندې حقونه لري :

الف: د هيواد په نورو برخو کې د خونديتوب د لټون حق ؛

ب: د خپل د هيواد د پرېښودلو حق ؛

ج: په نورو هيوادونو کې د پناه غوښتلو حق ؛ او

د: په هغو سيمو کې چې د هغوي ژوند ، خونديتوب ، آزادي او روغتيا له گواښ سره مخ وي ، د جبری ستنولو او بيا ځای پر ځای کولو په وړاندې د ملاتړ حق.

**شپاړسم اصل**

۱. ټول داخلي بېځايه شوي حق لري چې د خپلو ورکو شويو خپلوانو د برخليک او اوسيدو د ځای په اړه معلومات تر لاسه کړي.

۲. اړوندې اداري دې د ورکو شويو داخلي بېځايه شويو د اوسيدو د ځای او برخليک ټاکلو په موخه هڅه وکړي او له اړوندو نړيوالو موسسو سره چې دا دنده پر غاړه لري همکاري وکړي. اړوندې اداري دې دخپلو پلټنو له پرمختگ څخه د هغوي ته ابلاغ کړي.

۳.	اړوندې ادارې دې د مړو شويو افرادو د پاتې جسدونو د موندلو او تشخيصولو لپاره هڅه وکړي ، دغړو له پريکولو او جسدونو د له منځه وړلو څخه دې مخنيوی وکړي ، هغوي دې خپلو نږدې خپلوانو او يا دې په درنښت سره خاوره ته وسپاري.

۴.	د داخلي بېځايه شويو هديرو ته دی په هرډول شرايطو کې درناوی او ساتنه وشي. داخلي بېځايه شوي بايد دخپلو مړو شويو خپلوانو هديرې ته د لاس رسي حق ولري.

**اوه لسم اصل**

۱.	هر انسان حق لري څو د هغه د کورنۍ د ژوند حق ته درناوی وشي.

۲.	د دې حق د تحقق لپاره ، د داخلي بېځايه شويو د کورنی غړي به اجازه ولري چې د خپلو هيلو سره سم يو له بل سره ګډ ژوند وکړي.

۳.	هغه کورنۍ چې د بې ځايه کيدو له امله يو له بل څخه جلا شوي بايد زر تر زره يو له بل سره يو ځای کړای شي. ټول مناسب تدبيرونه به د دغه ډول کورنيو د چټکې يو ځای کيدنې لپاره په ځانګړې توګه هغه مهال چې ماشومان مطرح وي ، ونيول شي. مسوولې ادارې دې د کورنيو د غړو له خوا د ورکو شويو غړو لټون او پوښتنه تسهيل کوي او له بشري سازمانونو سره چې د کورنيو د بيرته يو ځای کولو لپاره کار کوي له همغږي له لارې هغوي د خپلو دندو ترسره کولو ته وهڅوي.

۴.	داخلي بېځايه شويو د کورنۍ غړي چې په کمپونو کې د اوسيدو لپاره کلابند او مقيد شوي ، حق لري چې يوځای په ګډه ژوند وکړي.

**اتلسم اصل**

۱.	ټول داخلي بېځايه شوي په مناسبه کچه د ژوند کولو حق لري.

۲.	واکمنې ادارې دې د شرايطو له په پام کې نيولو او هر ډول توپير څخه پرته ،حداقل لاندې مواردو ته د داخلي بېځايه شويو لاس رسی تامين کړي:

الف:	دخوړو اړين روغتيايي خدمتونه.

ب:	استوګنځای ؛

ج:	مناسب پوښاک ؛ او

د:	روغتيا ساتنه او اړين روغتيايي خدمتونه.

۳.	د بنسټيزو اړتياوو د پلان جوړولو او ويشلو په بهير کې د ښځو د بشپړ ګدون په موخه بايد لازمې هڅې ترسره شي.

**نولسم اصل**

۱.	ټول بې ځايه شويو ټپيانو ، نارغانو او معيوبينو ته دې ، تر ورستۍ ممکنې اندازې بې له کوم ځنده د اړتيا وړ روغتيايي خدمتونه او پاملرنه پرته له هر ډول توپير څخه د روغتيايي وضعيت په استثنا سره ، تامين کړای شي. د اړتيا پر مهال دې بې ځايه شوي رواني او ټولنېزو خدمتونو ته لاس رسی ولري.

۲.	د ښځو روغتايي اړتياوو ته د هغې له جملې څخه ښځينه روغتيايي کار کوونکو او روغتيايي خدمتونو ته لاس رسی لکه: د مور او ماشوم روغتيا پالنه ، د ناجايزی جنسی ګټی اخېستنې او نورو ناوړو چلندونو د قربانيانو لپاره د مناسبو مشورو ورکولو ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.

۳.	همداراز د داخلي بېځايه شويو تر منځ د ساري او نتاني ناروغيو ، له هغې جملې څخه د ايډز مخنيوي ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.

**شلم اصل**

۱.	هر څوک حق لري چې د قانون پر وړاندې په ټولو ځايونو کې د انسان په توګه وپيژندل شي.

۲.	د داخلي بېځايه شويو د دې حق د تحقق لپاره دې اړوندې ادارې اړين سندونه لکه: پاسپورټ ، د پيژندنې کارت ، د زيږيدو تصديق پاڼې او نکاح خط له قانوني حقونو څخه د هغوي د ګټی اخېستنې لپاره ورکړل شي. په ځانګړې توګه ، دغه ادارې دې د نويو سندونو يا د بې ځايه کيدو پر مهال د ورکو شويو سندنو د صادرولو زمينه د هرډول غير منطقي شرايطو له تحميلولو څخه پرته برابره کړي ، لکه: د سندونو دلاسته راوړلو لپاره د معمولي اوسيدنې ځای ته د هغوي بېرته ستنول.

۳.	ښځې او نارينه دې په برابره توګه حق ولري څو دا ډول اړين سندونه ترلاسه کړي او دا حق دې ولري څو دا سندونه د هغوي په خپل نامه صادر شي.

**يوويشتم اصل**

۱.	هيڅوک پخپل سر له ملکيت او شتمنۍ څخه نه شي بې برخې کيدای.

۲.	د داخلي بېځايه شويو له ملکيت او شتمنۍ څخه دې په ټولو شرايطو کې ملاتړ وشي ، په ځانګړې توګه د لاندې مواردو پر وړاندې:

الف:	لوټول

ب:	مستقيم يا بې توپيره بريدونه يا له تاوتريخوالې ډکې نورې کړنې ؛

ج:	د پوځی موخو يا عملياتو په وړاندې د سپرپه توګه کارونه ؛

د:	د ترسره شوی عمل د غچ اخېستنې په موخه کارونه ؛ او

هـ:	د ډله ييزې سزا په ډول له منځه وړل يا په غير قانوني توګه يې اخيستل.

**دوه ويشتم اصل**

له داخلي بېځايه شويو سره دې پرته له دې چې په کمپونو کې ژوند کوی يانه ،له لاندنيو حقونو څخه په برخمن کيدو کې توپير ونه شي:

الف:	د فکر ، ضمير ، مذهب يا عقيدې ، نظر او بيان د ازادي حق ؛

ب:	د کاري فرصتونو د ازادنه لټون او په اقتصادي فعاليتونو کې د ګډون حق ؛

ج:	په ټولنېزو چارو کې د برابرې ونډې او ازاد ګډون حق ؛

د:	په دولتي او عامه چارو کې د ګډون او رايې ورکولو حق ، له هغی جملې څخه له دغه حق څخه د استفادی په خاطر اړينو وسيلو ته د لاس رسي حق ؛ او

ه:	په کومه ژبه چې پوهیږي په هغې د پوهیدلو او پوهولو حق.

**درویشتم اصل**

۱.	هر انسان د زده کړې حق لري ؛

۲.	د داخلي بېځایه شویو ددی حق د تحقق لپاره اړوندې ادارې باید ډاډ تر لاسه کړي چې دا ډول وګړو په ځانګړې توګه بې ځایه شوي ماشومان دښووني او روزنې له حق څخه چې په لومړنۍ دوره کې اجباری او وړیا وي ، برخمن شي. زده کړې باید په داسې ډول وي چې د هغوي فرهنګي هویت ، ژبې او مذهب ته درناوی وشي.

۳.	د زده کړو په پروګرامونو کې باید د ښځو او نجونو له بشپړ او برابر ګډون څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه ، ځانګړې هڅې ترسره شي.

۴.	د داخلي بېځایه شویو ، په ځانګړی توګه د ښځو او ځوانانو ، لپاره دې ، که په کمپونو کې اوسیږي یا نه ، له شرایطو سره سم ، سمدستي تعلیمي او د زده کړو مرکزونو ته د لاس رسي زمینه برابره شي.

**څلورویشتم اصل**

۱.	ټولې بشري مرستې دې د بشر پالنی او بې طرفي د اصولو مطابق او پرته له توپیره تر سره شي ؛

۲.	د داخلي بېځایه شویو لپاره په پام کې نیول شوې بشري مرستې دې ، په ځانګړې توګه د سیاسي یا پوځي دلیلونو له مخې ، نورو اشخاصو ته نه ورکول کیږي.

**پنځه ویشتم اصل**

۱.	داخلي بېځایه شویو ته د بشري مرستو د رسولو لومړی دنده او مسؤلیت د ملی ادارو پر غاړه دی.

۲.	نړیوال بشري سازمانونه او نورې اړونده ادارې حق لري چې داخلي بېځایه شویو ته خپل خدمتونه وړاندې کړي. د دغه ډول خدمتونو وړاندې کول نه باید د غیر دوستانه عمل او یا د یوه هیواد په کورنیو چارو کې د لاسوهنې په څېر بلکې د ښه نیت څرګندوي دې وګڼل شي. نو له دې امله د دغه ډول فعالیتونو له تر سره کولو نه باید پخپل سر مخنیوی وشي ، په ځانګړې توګه هغه وخت چې اړوندې ادارې نه شي کولای او یا نه غواړي لازمې بشري مرستې تر سره کړي.

۳.	ټولې اړوندې ادارې دې د ازادانه بشري مرستو د برابرولو زمینه برابره او هغو وګړو ته چې د دغه ډول مرستو په وړاندې کولو کې ونډه لري ، داخلي بېځایه شویو ته د هغوي د لاس رسۍ زمینه له ممانعت پرته په چټک ډول برابره کړي.

**شپږ ویشتم اصل**

هغه وګړي چې په بشري مرستو کې ښکېل دي ، د هغوي ترانسپورتي وسیلو او مالونو ته دې درناوی او ملاتړ وشي. هغوي نه باید د بریدونو او له تاوتریخوالي ډکو نورو کړنو موخه وګرځول شي.

**اووه ویشتم اصل**

۱.	داخلي بېځایه شویو ته د مرستو د برابرولو پر مهال ، نړیوال بشري سازمانونه او نورې اړوندې ادارې باید د هغوي حقوقي اړتیاوو او بشري حقونو ته لازمه پاملرنه او په اړه دې مناسب اقدامات ترسره کړي. د دغو فعالیتونو د ترسره کولو پر مهال ، دا سازمانونه باید نړیوال معیارونه او اخلاقي موازین رعایت کړي.

۲.	د دې اصل لومړی فقره د نړیوالو سازمانونو د ملاتړ پر مسولیتونو چې د همدې موخې ماموریت لري او د حکومتونو له خوا یې د خدمتونو د وړاندې کولو غوښتنه کیږي ، اغیزه نه لري.

پنځم فصل

**بېرته ستنیدو ،بل ځای میسته کیدو او بیا استقرار پوری اړوند اصول**

**اته ویشتم اصل**

۱. واکمنې ادارې د داخلي بېځایه شویو لپاره د هغو شرایطو او وسیلو د برابرولو لومړی مسوولیت او دنده لري څو هغوي د دې جوګه کړي چې په داوطلبانه ،خوندي او عزتمنه توګه د خپلو اوسیدو دایمي سیموته ستانه شي او یا د هیواد په نورو سیمو کې ژوند غوره کړي. دا ادارې هڅه کوي څو د اسانتیاوو د برابرولو زمینه هغه شمیر داخلي بېځایه شویو ته چې بېرته ستانه یا په نورو سیمو کی ځای پر ځای شوی ، برابره کړي.

۲. د داخلي بېځایه شویو له بشپړ ګډون او د هغوي له ونډی اخېستنې څخه د بېرته ستنیدو ،په بل ځای کې میشته کیدو او بیا استقرار د بهیر په پلان جوړولو او تنظیمولو کې د ډاډ تر لاسه کولو لپاره دې ځانګړې هڅې ترسره شي.

**نهه ویشتم اصل**

**۱.** هغه شمیر داخلي بېځایه شوي چې خپلو کورنو او دایمي استوګن ځایونه ته ستانه شوي او یا یې د هیواد په نورو سیمو کې اوسیدل غوره کړي ، د بې ځایه کیدو له امله دې له هغوي سره تبعیض ونه شي. هغوي حق لري په عامه چارو کې په برابره توګه په ټولو کچو کې ونډه واخلي او عامه خدمتونو ته برابر لاس رسی ولري.

**۲.** واکمنې ادارې مکلفې دي څو هغه شمیر داخلي بېځایه شوي چې بېرته د خپلو اوسیدو سیمو ته ستانه او یا په نورو سیمو کې ځای پرځای شوي ، تر شونې بریده د هغو ملکیتونو د مستردولو په اړه ، چې له دوي څخه پاتې او یا یې د بې ځایه کیدو پرمهال له واکه وتلي وه ، له هغوي سره همکاري وکړي. په هغه صورت کې چې د دغه ډول ملکیتونو بېرته ورکړه شونې نه وي ، واکمنې ادارې دې د مناسبې او منصفانه خسارى د جبرانولو زمینه برابره کړي.

**دیرشم اصل**

ټولې اړوندې ادارې دې بشري نړیوالو سازمانونو او نورو بشري ارګانونو ته د هغوي د اړوند ماموریت په جریان کې د داخلي بېځایه شویو د بېرته ستنیدو ، بل ځای کې میشته کیدو او بیا استقرار په برخه کې پرته له ممانعت څخه هغوي ته د چټک لاس رسي زمینه برابره کړي.

**(۲) شمیره ضمیمه**

**د اړوندو وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو مسوولیتونه**

**۱- د کورنیو چارو وزارت**

- د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیس د پولیسو د قانون له ۵ مادې سره سم ، باید د هغو سیمو امنیت ته د پام وړ پاملرنه وکړي ، چیرې چې داخلي بېځایه شوي کسان میشت شوي. دغه وزارت باید داخلي بېځایه شویو کسانو ته د مرستې او نورو اسانتیاوو د برابرولو په موخه له داخلي او نړیوالو مرستندویه سازمانونو سره په مرسته کولو کې تولې هڅې ترسره کړي.

- د هیواد د نافذه قوانینو پر بنسټ ، د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیس باید د هغوی په سیمو کې د داخلي بېځایه شویو کسانو ورځنۍ چارې تنظیم کړي ، امنیت یې وساتي ، د هغوي مدني حقونه خوندي کړي او د هر ډول غیر اخلاقي او ناوړه چلند مخه ونیسي ، کوم چې د هغوي د بشري وقار پر ضد یا د زیانمن کیدو لامل کیږي.
- د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیس باید هڅه وکړي ، چې د داخلي بېځایه شویو ښځینه وو ته د بریښنایي تذکرو د وېش پر مهال د افغانانو کلتوري او دودیز ارزښتونه په پام کې ونیسي.
- د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیس د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزارت سره په همغږۍ کې ، د داخلي بېځایه شویو د تشخیص او ثبت د پروسې پر مهال باید مناسب ګامونه پورته کړي ، څو په خپلو سیمو کې امنیت او عامه نظم وساتي.

**۲- د عامې روغتیا وزارت**

د روغتیا پالنې لومړنیو خدمتونو ته د لاس رسي د حق تر برخې لاندې
د افغانستان د اساسي قانون له ۵۲ مادې سره سم ،
داخلي بېځایه شوي کسان ، د افغانستان د نورو اتباعو په څېر ، روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي حق لري. نوموړې ماده دا تصریح کوي ، چې نه باید هیڅ داخلي بېځایه شوي کس له دې امله چې تذکره نه لري ، روغتیایي اسانتیاوو ته له لاس رسي څخه محروم کړای شي.

له دغې پالیسي سره سم ، د عامې روغتیا وزارت:

- په داسې حال کې ، چې د ځینو داخلي بېځایه شویو کسانو د روغتیایي ستونزو اړتیا او سمدستی توب درکوي ، باید روغتیایي خدمتونو ته د داخلي بېځایه شویو کسانو د لاس رسي حقونه په پام کې ونیسي او د دغه حق له اجرا څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه هره هڅه ترسره کړي.
- باید د ټولو داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د ټولو روغتیایي او تغذیې خدمتونو پر برابرولو ټینګار وکړي ، بې وزلو هغو ته یې د ځانګړې پاملرنې په ترسره کولو سره.
- باید داخلي بېځایه شوي کسانو د واکسیناسیون په ټولو کمپاینونو ، له زیږون څخه مخکې او وروسته خدمتونو ، د مزمنو ناروغیو او ناوړه تغذیې په درملنه کې شامل کړي او همدارنګه باید هغو معلولینو او د زیات عمر درلودونکو وګړو لپاره ، چې د هغوی د بې ځایه کیدنې په پایله کې د تاوتریخوالي یا رواني ناروغیو قرباني شوي ، روغیتایي خدمتونو برابر کړي.
- د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو له وزارت سره په همغږۍ کې ، د جنسي تاوتریخوالي یا د تاوتریخوالي د نورو ډولونو قربانیانو ته باید د رواني روغتیا او ټولنېز خدمتونه برابر کړي.

- د بشري حقونو د نړیوال کنوانسیون او معلولینو د حقونو له کنوانسیون سره سم ، باید د معلولو بې ځایه شویو ماشومانو او د زیات عمر لرونکو وګړو لپاره اړینې وسیلې لکه د ګوډانو بایسکلونه ، امساګانې او داسې نورې برابرې کړي.
- باید خپلې روغتیایي اسانتیاوې د نفوس بدلون وړ ښارونو او هغو سیمو ته چې زیات شمیر داخلي بېځایه شوي لري وغځوي ، څو دغه خدمتونه د داخلي بېځایه شویو کسانو او همدارنګه د هغو وګړو اړتیاوو ته د ځواب ویلو لپاره بسیا وي ، چې په غیر رسمي میشت ځایونو کې ژوند کوي. سر بېره پردې ، نوموړی وزارت باید د زیږون ، ماشوم او ژېکیو د روغتیایي خدمتونو برابرولو ته په ځانګړې پاملرنې سره د روغتیایي خدمتونو کیفیت اصلاح کړي.
- باید په لرې پرتو هغو سیمو کې ګرځنده کلینیکونه برابر کړي ، چیرې چې داخلي بېځایه شوي کسان روغتیایي اسانتیاوو ته په اسانۍ سره لاس رسی نه لري ، څو وکولای شي روغتیایي خدمتونو ته منظم لاس رسی پیدا کړي.
- په هغو سیمو کې ، چې د نا امنیو له امله د بشر پالنې د سازمانونو پر مخ اړینو خلکو ته د مرستې رسولو لارې تړل شوي ، د عامې روغتیا وزارت د نورو مرستندویه ادارو په مرسته ، د واکسیناسیون د کمپاینونو په ګډون باید نورې لارې چارې وکاروي څو داخلي بېځایه شویو کسانو ته لومړني روغیتایي خدمتونه برابر کړي.

باید د داخلي بېځایه شویو کسانو او کوربه ټولنو د اړتیاوو ترمنځ توازن په پام کې ونیسي ، څو د هغوي ترمنځ د هر ډول تشنج مخنیوی وکړي.

**۳- د اقتصاد وزارت**

د وزارتونو او نورو ادارو د پرمختیایي پروژو او پروګرامونو د اولویت بندي کولو پر مهال ، د اقتصاد وزارت تل هڅه کړې چې داخلي بېځایه شوي کسان او بېرته راستنیدونکي ګډوال په پام کې ونیسي ، او دغه چاره به په راتلونکي کې هم پرمخ یوړل شي.

**۴- د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت**

- د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ، د کسانو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري یا نورو ښکېلو سازمانونو له خوا د لومړنیو راټولو شویو ارقامو پر بنسټ د داخلي بېځایه شویو د کورنیو ترمنځ د موجوده تجربو او وړتیاوو د ډولونو تشخیصونه او کټګوري بندي کول.
- دولتي ، نا دولتي او د شخصي سکتور کار ګمارونکو ته د داخلي بېځایه شویو کار پلټونکو ورپیژندنه.
- د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت سره په همکارۍ او د مرستندویه ایجنسیانو په مالي ملاتړ ، داخلي بېځایه شویو کسانو ته د موجوده حرفوي ښوونې د روزنې د مرکزونو یا په ځانګړي ډول طرح شویو کورسونو/اسانتیاوو له لارې له مارکیټ سره د تړلو تجربو د پراختیا فرصتونه برابرول.
- د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو د وزارت په صلاحیت کې دننه د پالیسي ګانو ، ستراتیژي ګانو او د عمل د پلانونو په جوړولو کې د داخلي بېځایه شویو کسانو د مسلو شاملول/په پام کې نیول.

**۵- د ښار د پرمختیایي چارو وزارت**

د ښاري پرمختیا وزارت چمتو دی ، چې د کسانو او بېرته راستنېدونکو له وزارت سره په مرکز او ولایتونو کې د بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د مناسبو کورونو او د ژوندانه د فرصتونو په برابرولو کې مرسته وکړي.

که چیرې د ښاري پرمختیا وزارت لپاره ځمکه او مالي سرچینه برابرې کړای شي ، نوموړی وزارت به د ټولو اړینو زیربنایي اسانتیاوو لکه ښوونځي او داسې نورې په پام کې نیولو سره د داخلي بېځایه شویو کسانو د ښارګوټو/میشت ځایونو مفصل پلانونه وړاندې کړي.

**۶- د سرحداتو او قبایلو د چارو وزارت**

په هغه صورت کې چې قبیلوي او قومي شخړې د خلکو د بې ځایه کیدنې لامل شي ، د سرحداتو او قبایلو د چارو وزارت به د شخړې د حل لپاره د منځګړو کمیټو په جوړونه کې همکاري ترسره کړي.

**۷- د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت**

- د اوبو رسونې ملي پروګرام (REWTSIP ) په هغو سیمو کې چې داخلي بېځایه شوي کسانو بېرته ورګرځېدلي د څاګانو د کندنې ، د اوبو رسونې سیستم د تاسیسونې ، د صحي کناربونو د جوړونې له لارې د ښناک د پاکو اوبو او محیطي روغتیا د ښوونې برابرول.
- د کلیوالي لاس رسي ملي پروګرام(NRAP )

په هغو سیمو کې چې داخلي بېځایه شوي کسان ژوند کوي ، د کلیوالو خاورینو سړکونو ، پلونو ، او لښتیو جوړول ، څو هغوي بازارونو ، کلینیکونو او نورو عامه اسانتیاوو ته لاس رسي پیدا کړي.

- د محلي پرمختیا ملي پروګرام(NABDP)

په هغو سیمو کې چې داخلي بېځایه شوي کسان ورستانه شوي ، د کلینیکونو ، ښوونځیو او د نورو ټولنېزو خدمتونو لپاره د مرکزونو جوړول.

- د ملي پیوستون پروګرام (NSP )په هغو سیمو کې چې داخلي بېځایه شوي کسان ورستانه شوي د ولسوالۍ د پرمختیایي شوراګانو د تاسیس له لارې د ټولنېزو خدمتونو برابرول او د زیربنایي پروژو پلي کول.
- د ټولنېز ملاتړ ریاست(SDP )

د استنادي دیوالونو جوړول ، د ملګرو ملتونو د نړیوال خوراکي پروګرام سره په همغږیتوب د کار په بدل کې د خوړو د پروژې پلي کول. د مختلفو پروژو او د هغوي د ټولنېزو ښو اړوند تخنیکي موضوعګانې لکه د داخلي بېځایه شویو کسانو په بېرته راستنېدنه او بیا یو ځای کېدنه د پورتنیو یادو شویو فعالیتونو اغیزې د ټولنېز ملاتړ د ریاست له لارې په منظم ډول ارزول شوې.

**۸- د ښځو د چارو وزارت**

د ښځو د چارو وزارت به د داخلي بېځایه شویو کسانو د پالېسي اړوند راتلونکي مسوولیتونو پر غاړه واخلي:

۱. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري یا نورو ښکیلو سازمانونو له خوا د لومړنیو راټولو شویو ارقامو پر بنسټ د داخلي بېځایه شویو کسانو د کورنیو ترمنځ د موجوده تجربو او وړتیاوو د ډولونو تشخیصونه او کټګوري بندي کول.

۲. د ښځو د چارو د وزارت د استخدام د خدمتونو د مرکزونو په ډیټابیس کې د داخلي بېځایه شویو کسانو د کار پلټونکو ثبتول ، له کوم ځای څخه چې هغوي کولای شي اتباري کار تر لاسه کړي. سره له دې چې دا کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو د وزارت مسوولیت دی.

۳. د اقتصاد ، روغتیا ، ښوونې او ټولنېزو چارو د ریاست له لارې دولتي ، نا دولتي او شخصي سکتور ته د داخلي بېځایه شویو کسانو د کار پلټونکو ورپیژندنه.

۴. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت سره په همکارۍ او د مرستندویه ایجنسیانو په مالي ملاتړ ، داخلي بېځایه شویو کسانو ته د ښځو د چارو د وزارت د روزنیزو مرکزونو له لارې د تجربو د پراختیا فرصتونه برابرول.

۵. له تاوتریخوالي سره د مخ ښځو او نجونو تشخیص او ثبتونه او د هغوي د قضیو پر مخ وړل ، څو خپل حقونه تر لاسه کړي.

۶. د داخلي بېځایه شویو هغو ښځو او نجونو لپاره د پناه ځایونو/امن خونو برابرول ، چې ژوند یې له ګواښ سره مخ وي یا امنیتي ستونزې لري او/یا د کورنۍ غړي نه لري ، چې مرسته ورسره وکړي.

۷. د ښځو د چارو د وزارت په صلاحیت کې دننه د پالېسي ګانو ، ستراتیژي ګانو او د عمل د پلانونو په جوړولو کې د داخلي بېځایه شویو کسانو د مسلو شاملول/په پام کې نیول.

**۹- د دفاع وزارت**

د دفاع وزارت به د پېښو ځپلو خلکو په وړاندې راتلونکي مسوولیتونه ولري:

۱. لکه څرنګه چې تاسو خبر یاست ، د دفاع وزارت خپلې دندنې د خپلواکۍ ، ازادي ، ملي ګټو ، ځمکنۍ بشپړتیا ، ملي حاکمیت د ساتنې او د هیواد د ملي ارزښتونو ، سولې او ټیکاو په راوستلو او د کورنیو او بهرنیو دښمنانو سره دجګړې له لارې ترسره کوي.

۲. د طبیعي او انساني پېښو په پایله کې په رامنځ ته شویو بیړنیو حالاتو (زلزلې ، سیلابونه ، وچکالي) کې د دفاع وزارت د دولتي او نادولتي سازمانونو سره په همغږۍ ، له ملکي وګړو سره د هر راز مرستې په برابرولو کې ژمن دی.

۳. د امنیت ساتل د دفاع وزارت یوه له کلیدي چارو څخه ګڼل کیږي. دغه وزارت د افغان ملي پولیسو د غوښتنې پر بنسټ ، د افغانانو لپاره د امنیت په ټینګښت کې حمایتي مرسته برابروي ، په ځانګړي ډول زیانمنیدونکو افرادو ته.

**۱۰- د افغان سرې میاشتې ټولنه**

- د ضایعاتو په ارزونه کې ګډون کول ، د زیانمنیدونکو سیمو تشخیصول ، د معلوماتو راټولول او د اړتیاوو په ډاګه کول ،
- اغیزمن شویو وګړو ته د بیړنیو مرستو (د خوراکي توکو او کالیو په ګډون) برابرول ،
- د پېښې ځپل شویو خلکو اخراجول او د شوراګانو او رضاکارانو له لارې هغوی ته د مؤقتو پناه ځایونو برابرول ،
- د مرستې او بیا رغونې د خدمتونو لپاره د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوالو اتحادیو ته د غوښتنلیکونو سپارل ،
- د رضاکارانو روزل او بسیج کول او ځپل شویو سیمو ته د هغوی لیږدول ،
- له اساسي اصولو ، پالیسي ګانو او ستراتیژي ګانو سره په تطابق کې ، د افغان سرې میاشتې ټولنه به د نورو شریکانو په همکارۍ زیانمنیدونکو داخلي بېځایه شویو کسانو او د طبیعي پېښو په پایله کې د بې ځایه شویو کسانو لپاره د خپلو اصولو ، ستراتیژي ګانو ، سرچینو او د عملیاتي طرز العملونو له معیارونو سره سم بیړنۍ مرستې برابروي.
- د پېښو د ادارې د ملي عالي کمیسیون د یوه غړي په څېر ، د افغان سرې میاشتې ټولنه به د نورو شریکانو په همکارۍ دا یقیني کړي ، چې داخلي بېځایه شوي کسان ژغورل شوي او ورسره مرسته شوې.
- د مرستې او د ساتنې د خدمتونو په بیلګو کې چې د افغان سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوالو اتحادیو په همکارۍ داخلي بېځایه شویو کسانو ته برابرولای شي ، د ورکو شویو وګړو معلومول ، د لومړنیو مرستو برابرول ، د اړتیاوو چټکه ارزونه ، د څښاک د اوبو او بیړنیو روغتیایي خدمتونو برابرول ، د روغتیا بسیج کول ، د بیړنیو پناه ځایونو او د خوراکي او غیر خوراکي توکو برابرول شاملې دي.

**۱۱- د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره**

د افغانستان د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره هغه مخکښه غوره شوې اداره ده ، چې د هغو وګړو لنډ مهالو بیړنیو اړتیاوو ته چټک ځواب وایي څوک چې د طبیعي پېښو نو څخه اغیزمن او بې ځایه شوي.

**د دغې ادارې لومړني مسوولیتونه د پېښو د ادارې په قانون کې وضع شوي ، او راتلونکي موارد په کې شامل دي:**

۱. د ضرر رسوونکي طبیعي پېښو د پیښیدو پر مهال ، خلکو ته د طبیعي پېښو د بیړنیو حالاتو په اړه معلومات ورکول ؛
۲. په بیړني حالت کې د پېښې د کچې او د ګواښونو د پایلو بیانول ؛
۳. د بیړنیو عملیاتو د مرکز فعالول ؛
۴. د چټکې ارزونې / چټک غبرګون د ټیمونو بسیج کول ؛

۵.  د موجوده منابعو د کاروني له لارې د اغیزمن شویو خلکو لومړنیو اړتیاوو ته په ځواب ورکولو کې همکاري کول ؛
۶.  د پېښو له رامنځ ته کېدو مخکې د مخکېني اخطار ورکولو د سیستم د فعالیتونو همغږي کول ؛
۷.  د خطر د کمولو اړوند د فعالیتونو او د طبیعي پېښې د مخنیوی په موخه د مناسبو اقداماتو د ترسره کولو او همدارنګه له پېښې څخه وروسته د اړونده وزارتونو د موجوده منابعو د کاروني له لارې د بیا رغونې د فعالیتونو همغږي کول ؛
۸.  د افغانستان د پېښو په وړاندې د مبارزې ملي اداره د ماین پاکۍ د ریاست له لارې د افغانستان د ماین پاکۍ د چارو د همغږي مرکز په همکارۍ ، د ماینونو د له منځ وړولو مسووله ده ؛
۹.  د افغانستان د پېښو په وړاندې د مبارزې ملي اداره به د کسانو او بېرته راستنېدونکو د وزارت او نورو اړوندو ادارو په نږدې همکارۍ ، په ملي او ولایتي کچو کې په خپلو بیړنیو فعالیتونو کې هغو وګړو ته پاملرنه وکړي ، چې د طبیعي پېښو په پایله کې بې ځایه شوي. د دغې پالېسي په پلي کولو کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت او د پېښو په وړاندې د مبارزې د ملي ادارې نقشونه په ډاګه شوي او د کسانو او بېرته راستیندونکو وزارت او نوموړې اداره به سره په ګډه کار کوي. دویمې ضمیمې ته مراجعه وکړئ.

**د داخلي بېځایه شویو کسانو اړوند د فعالیتونو په همغږي کې د افغانستان د پېښو په وړاندې د مبارزې د ملي ادارې لومړني نقش ، د دغې پالېسي د پلي کولو د کړنلارې په پام کې نیولو سره ، لاندې ذکر شوی:**

۱.  په بیړنیو حالاتو کې د بې ځایه شویو کسانو لنډ مهالو اړتیاوو ته د ځواب ویلو همغږي کول ، د کومو دوام چې ښایي د بې ځایه شویو کسانو زیانمنتوب لا پسې زیات کړي ؛
۲.  د استخدام د فرصتونو تسهیلول او د پېښو سره د مبارزې له ملي عالي کمیسیون سره د بې ځایه شویو کسانو د بیړنو فعالیتونو د تنظیم په چارو کې همغږي کول ؛
۳.  په بیړني حالت کې د طبیعي پېښو له امله د داخلي بېځایه شویو کسانو په اړه په سروې ، ثبتونه او تصدیق کې ګډون کول ؛
۴.  په لومړنیو ۷۲ ساعتونو کې د بیړنیو حالاتو په تنظیم کې ګډون او د بیړنیو حالاتو د پای ته رسولو اعلانول ؛
۵.  بیړنیو هغو پیښو ته ځواب ویل ، په کومو کې چې داخلي بېځایه شوي کسان د بیړني حالت له شونو ګواښونو سره مخ دي ؛
۶.  نور فعالیتونه ، لکه ګمارنه ، ثبتونه ، د داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د اسانتیاوو برابرونه ، د استوګنځایونو جوړونه ، د داخلي بېځایه شویو کسانو تشخیصونه او په مختلفو کټګوریو د هغه ویش ، په هیواد کې د بېرته راستنېدونکو د موضوعګانو تنظیم او نورې کلیدي مسالې به د کسانو او بېرته راستنېدونکو د وزارت لومړني مسوولیتونه وي.

**د  پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي عالي کمیسیون**

د  پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي عالي کمیسیون بیړنیو حالاتو ته د ځواب ویلو او هغوي د همغږي کولو ، او د زیانمنتوبونو د کمونې او بیړنیو حالاتو ته د رسیدګي له لارې د ګواښونو د کمولو مخکښ ارګان دی.

د نوموړي کمیسیون مشري د ولسمشر د دویم مرستیال له خوا ترسره کیږي ، په داسې حال کې چې د افغانستان د پېښو سره د مبارزې ملي اداره یې په ملي کچه د سکرتیت چارې پر مخ وړي. ۱۹ وزارتونه او کلیدي سازمانونه د دغه عالي کمیسیون غړیتوب لري. د پېښو سره د مبارزې ملي عالي کمیسیون د دغې پالېسي او د خپلو کورنی دندو د درک پر بنسټ ، راتلونکي مسوولیتونه لري:

۱.  په ملي کچه د بیړنیو حالاتو همغږي او تنظیمول ؛
۲.  د ملي پلانونو تصویبول (لړونه ، چمتوالی ، ځواب ویل او بیا رغونه) ؛
۳.  د ملي پالېسي ګانو او احتیاطي پلانونو تاییدول ؛
۴.  په بیړنیو حالاتو کې د نړیوالې مرسته بسیج کول ؛
۵.  د بیړنیو حالاتو اعلانول او همدارنګه د هغوي پای ته رسول ؛

۶. د هغو وګړو چې په داخلي يا بهرني ډول بې ځايه شوي د ستونزو د حل په موخه پريکړه کول

**۱۲-د پوهنې وزارت**

- داخلي بېځايه شويو کسانو ته د هغوي د ماشومانو د ښوونې د حقونو او په افغان ښوونځيو کې د هغوي د شاملولو د طرز العمل په اړه د معلوماتو وړاندې کول.
- په هغو سيمو کې چې داخلي بېځايه شوي کسانو اوسيږي د محلي ښوونځيو جوړول ؛
- د داخلي بېځايه شويو هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه يې د ښوونځي ماشومانو له عادي عمر څخه زيات وي ، د چټکو زده کړو برابرول ؛
- د داخلي بېځايه شويو کسانو ماشومانو ته په نږدې ښارونو کې د ليليې د اسانتياوو برابرول ، څو هغوي خپلې منځنۍ زده کړې پرمخ يوسي ؛
- د ښوونې لپاره د کتابونو ، قرطاسيې او نورو اړينو توکو برابرول.

**۱۳-د ماين پاکۍ رياست**

د افغانستان د ماين پاکۍ رياست په افغانستان کې د ماين پاکۍ مخکښ مسوول ارګان دی. افغان حکومت په ۲۰۰۲ کې د ملګرو ملتونو د ماين پاکۍ د خدمتونو له دفتر څخه وغوښتل چې په دغه هيواد کې د ماينونو په له منځه وړلو کې له نوموړي رياست سره مرسته وکړي. د ملګرو ملتونو د ماين پاکۍ د خدمتونو دفتر د افغانستان د ماين پاکي چارو له همغږي مرکز سره تخنيکي او مالي مرسته کړې ، څو د ماين پاکۍ له رياست سره په ګډه دغه غوښتنه ترسره کړي. د افغانستان د ماين پاکۍ پروګرام د ملګرو ملتونو او افغان حکومت له خوا د هغوي د اړوندو رياستونو له خوا همغږي او دواړه په ګډه کار کوی.

**۱۴-د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د اساسي قانون د ۵۸ مادې له مخې د بشري حقونو د ملي سازمان په څېر تاسيس شوي: "*څو په افغانستان کې بشري حقونو ته درناوي وڅاري ، هغه ترويج کړي او ساتنه يې وکړي.*" د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د جوړښت ، مسووليتونو او صلاحيت قانون د وزيرانو د شورا له خوا د ۲۰۰۵ کال په مۍ کې تصويب شو. تر دغه قانون لاندې ، نوموړي کميسيون ته دا صلاحيت سپارل شوی چې حقونه او ازادي ګانې وساتي او ترويج کړي ، لکه څرنګه چې د افغانستان په اساسي قانون ، نړيوالو اعلاميو ، د بشري حقونو په اړه نړيوال کنوانسيون ، د بشري حقونو په پروتوکولونو او د بشري حقونو په اړه په نورو نړيوالو سندونو کې تصريح او ملاحظه شوي.

د نوموړي قانون ۵ ماده د بشري حقونو خپلواک کميسيون لپاره پنځه موخې ايجادوي:

۱. په هيواد کې د بشري حقونو د وضعيت څارنه
۲. د بشري حقونو ترويج او ساتنه
۳. بنسټيزو بشري حقونو او ازاديو ته د خلکو د لاس رسي د وضعيت څارنه
۴. له بشري حقونو څخه د سرغړونې د قضيو پلټل او ازمايل
۵. په هيواد کې د بشري حقونو د پياوړتيا او ترويج په موخه د ګامونو ترسره کول.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د فعاليت په ساحو کې دغه برخې شامل دي: د بشري حقونو پوهنه ، د ماشومانو حقونه ، د ښځو حقونه ، انتقالي عدالت ، څارنه ، پلټنه او د معلولينو حقونه. د خپل ماموريت او دوندو په پلي کولو کې ، د بشري حقونو خپلواک کميسيون له حکومت ، مدني ټولنې ، علماؤو ، رسنيو او نړيوالو شريکبانو سره نږدې همکاري ترسره کوي

**دریمه شمیره ضمیمه (۳)**

**د پایښت لرونکو حل لارو لپاره د کورني بې ځایه کیدنې د ولایتي عمل پلانونو د جوړولو په اړه والیانو ته لارښوونې**

(۱) د دغې پالېسي له تصویب څخه یوه میاشت وروسته ، په هر ولایت کې چې د پام وړ کورني بې ځایه شوي کسان شتون لري ، والیان باید د کسانو او بېرته راستنېدونکو د وزارت د بیړني حالت له ریاست سره په سلا مشوره کې د داخلي بېځایه کیدنې ولایتي کاري ځواک تنظیم کړي. د دغه کاري ځواک مشري باید د والي او معینیت یې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د ریاست له خوا ترسره شي. د هغو ولایتونو لپاره چې د اوس لپاره د داخلي بېځایه کیدنې کومه پیښه نه لري ، حالت بدلون کوي ، ولایتي کاري ځواک باید د دغو لارښوونو سره سم رامنځ ته کړای شي.

(۲) د داخلي بېځایه کیدنې د ولایتي کاري ځواک ستر مسوولیت ، د دغې پالېسي سره سم د داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د پایښت لرونکو حل لارو د پیدا کولو د ولایتي عمل پلان جوړول دي.

(۳) والیان باید دا ډاډ حاصل کړي ، چې په کاري ځواک کې ټول مهم فعالین غړیتوب لري. په دې کې باید د نورو په ګډون د راتلونکو ادارو استازي شامل شوي: د کډوالو او بېرته راستنېدونکو د ریاست ، د افغانستان د طبیعي پېښې د تنظیم د ادارې ، د اړوندو وزارتونو (د کلیو د بیارغونې او پراختیا ، د کار ، ټولنېزو چارو ، شهیدانو او معلولینو ، د روغتیا ، عدلیې ، د کورنیو چارو او د ښځو د چارو وزارتونه)، د ولسوالۍ او ښاروالۍ ؛ د ملګرو ملتونو د ایجنسیانو ، په ولایت کې د اوسنیو نړیوالو او ملي نادولتي سازمانونو ، که هغه د بشرپالنې او که په پرمختیایي چارو کې ښکیل وي ؛ او د سرې میاشتې. د داخلي بېځایه شویو کسانو کیدای شي په دغې ډله کې استازیتوب وشي یا په جدا ډول ، لکه څرنګه چې یې تر ۵ شمیرې لاندې یادونه شوې ده.

(۴) په دې موخه چې د کاري ځواک په کار کې مناسب ګډون یقیني کړای شي ، له هر اړوند حکومتي دفتر څخه باید غوښتنه وشي ، چې د تخنیکي وړتیا او صلاحیت یو درلودونکي شخص وګماري (یا یې پر ځای یو بل څوک وټاکي)، څوک چې به په منظم او فعال ډول له کاري ځواک سره اخته وي. له نورو غړو ادارو څخه به هم وغوښتل شي ، چې عین کار ترسره کړي.

(۵) سربیره پر دې ، د داخلي بېځایه کیدنې ولایتي کاري ځواک ته دا صلاحیت هم ورکول کیدای شي ، چې په یوه ولایت کې د داخلي بېځایه شویو کسانو خوځښت وڅاري ، د بیړنیو اړتیاوو ارزونې ترسره او د هغوی د بشرپالنې او ساتنې د اړتیاوو غبرګون همغږي کړي ؛ د دې په تایید سره چې د نوموړي کاري ځواک یو تر ټولو مهم کار د دغه عمل پلان پرمختیا او تطبیق دی.

(۶) کاري ځواک باید د دې ډاډ تر لاسه کړي ، چې له داخلي بېځایه شویو کسانو وسره د سلا مشورو ځینې میکانیزمونه رامنځ ته شوي ، که چیرې دغه ډول میکانیزم نه وي موجود ، کار ځواک باید د هغه په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي. (کاري ځواک باید داسې شرایط برابر کړي ، چې د ښځو ، د زیات عمر درلودونکو کسان ، ځوانانو او د نورو ځانګړو ډلو غړ واوریدل شي.)

(۷) همدارنګه کاري ځواک باید د دې ډاډ تر لاسه کړي ، چې له کوربه ټولنو سره د سلا مشورو میکانیزم رامنځ ته شوي ، پرته له دې چې په پام کې ونیول شي کومه پایښت لرونکې حل منل او تعقیب شوې: بېرته راستنېدنه ، ځایي یو ځای کېدنه یا بیا مېشتېدنه.

(۸) کاري ځواک باید ټول موجوده او د لاس رسي وړ معلومات راټول او وڅیړي: د مثال په ډول ، په یوه ولایت کې څومره شمیر کورني بې ځایه شوي کسان موجود دي ، چیرې اوسیږي ، له کوم ځای څخه راغلي ، په کوم نژاد پورې تړلي ، ولې یې خپل اصلي ځای پرې ایښي دی ، د څومره مودې لپاره په بې ځایه کېدنه کې ژوند کوي ، د بېرته ستنیدنې په اړه څه ارادې لري ، کوم مهارتونه او پوهه لري ، د ژوندانه د تر لاسه کولو لپاره په کومو فعالیتونو کې ښکیل دي. که چیرې دغه معلومات تیار له مخکې څخه د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري ، د کډوالۍ د نړیوال سازمان یا د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو د ریاستونو له خوا راټول

شوي وي ، د دويم ځل لپاره د لومړنيو معلوماتو راټولولو ته اړتيا نشته ؛ كه چيرې كوم معلومات ورک يا کم وي ، د دوسيه جوړولو له لارې كيداى شي دغه چاره بشپړه کړای شي.
(۹) د لا زياتو ارزونو يا دوسيه جوړولو اړتيا خامخا شته ، د داخلي بېځايه كيدنې ملي کاري ځواک کولای شي د دغه ډول معلوماتو د راټولولو لپاره معياري فورمې برابرې كړي. د داخلي بېځايه كيدنې ملي کاري ځواک همدارنګه کولای شي د کورني بې ځايه کيدنې له ولايتي کاري ځواک سره د نورو تخنيكي مرستو په برابرولو كې مرسته وكړي.

(۱۰) کاري ځواک بيا دغه معلومات/ارقام تحليل او تجزيه کوي او له اړونده داخلي بېځايه شويو كسانو سره د غوره پايښت لرونكو حل لارو په پيدا كولو كې سلا مشوره كوي. تحليل بايد دا په ډاګه کړي ، چې كومې مسلې د ځانګړو ډلو لپاره غوره پايښت لرونكو حل لارو ته په رسيدو كې خنډونه رامنځ ته كوي ، او كوم شرايط هغوي ته د نوموړو حل لارو د تر لاسه كولو امكانات برابروي.

(۱۱) د څيړنې او تحليل پر بنسټ ، کاري ځواک بايد په يوه ولايت كې د راتلونكو شرايطو له مخې د داخلي بېځايه شويو كسانو ډلو/ټولنو ته لومړيتوب ورکړي:

الف. زيانمنتوب (كومې ډلې پايښت لرونكي حل لارو ته تر ټولو نورو زياته اړتيا لري). په زيانمنتوب كې دغه كټګورياني شامليداى شي: هغه وګړی چې په خورا زياته بې وزلې كې ژوند كوي ؛ بې كوره يا هغه وګړی چې ډير كمزوري پناه ځای لري ؛ هغه وګړی چې د اخراجونې له ګواښ سره مخ دي ؛ هغه وګړی چې د ښځينه سرپرستانو لرونكي كورنۍ ، روغتيا پالنې ، ښوونې يا روغتيايي پاملرنې ته لاس رسی نه لري ؛ هغه وګړی چې د ملكي اسنادو له نشتوالي سره مخ دي ، هغه وګړي چې له ټولو څخه د زيات وخت لپاره په بې ځايه كېدنه كې ژوند کوي ؛ او داسې نور.
ب. د ځانګړو ډلو لپاره د پايښت لرونكو حل لارو په پيدا كولو كې د تر ټول زيات فرصت امكان (زياتره د لګښت اغيزمن منځګړيتوبونه) ؛
ج. د پايښت لرونكو حل لارو د تطبيق لپاره د لازمي بودجې او مهارتونو د راجذبولو د تر ټولو زيات فرصت شتون.

(۱۲) کاري ځواک بايد د ضروري فعاليتونو په اړه پريکړه وكړي ، هغه نور يې مشخص كړي چې په راتلونكي كال كې به ترسره شي ، او دا په ډاګه کړي چې دغه فعاليتونه به څوک او كله ترسره کوي ؟

الف. دا په ځانګړي ډول ډير مهم دی ، څو په دې اړه وضاحت موجود وي ، چې څوک د څه مسووليت لري ، د دغو فعاليتونو د تطبيق لپاره څومره زماني موده شته ، د برياوو د ارزونې لپاره به كوم شاخصونه وكارول شي.
ب. همدارنګه په دې پوهيدل هم ډير مهم دي ، چې پلان شوي فعاليتونه (پروګرامونه) څرنګه د ولايت/ولسواليو/ښارواليو په سترو پرمختيايي پلانونو كې ځای پر ځای شوي — هغوي څرنګه د لومړيتوب په ملي پروګرامونو يا د ملي پيوستون په پروګرام ، په پلان شوې ښاري پراختيا پورې تړل شوي — او د همغږي كوم ميكانيزمونه موجود دي (يا اړتيا ده چې جوړ شي) ترڅو د همكاري په اړه ډاډ تر لاسه شي.

ج. د دې اټكل كول چې دغه فعاليتونه به څومره لګښت ولري او بودجه به يې له كوم ځای څخه تر لاسه شي.

(۱۳) دغه هر څه د عمل په يوه پلان كې راټول او د كډوالو او بېرته راستنيدونكوچارو له وزارت سره يې شريک كړئ ، كوم چې بايد د عمل پلان تصويب او د تطبيق لپاره يې د مالي منابعو په برابرولو کې مرسته ترسره كړي.

(۱۴) دغه عمل پلان بايد د دريو مياشتو په موده كې بشپړ كړای شي.

**ځلورمه شمیره ضمیمه (۴)**

**د اجباري اخراجونې په حالت کې د ضرر او زیان د کمولو لارښوونې - دافغانستان حمایتی ګروپ**

**د افغانستان د ساتنې د ډلې**

**مخ تاړی**

۱. *د دې په تاییدولو سره* ، چې د کور ، ځمکې او ملکیت کاري څواک د افغانستان د ساتنې تر ډلې لاندې اړوند کاري ګروپ دي ، چې د کاري څواک د غړو د هدفي ګروپونو اړتیاوو ته د بشرپالنې او بیړني حالت ته د ځواب ویلو په زمینه کې خپل فعالیتونه ترسره کوي ؛

۲. *د دې تکې په تاییدولو سره* ، چې هره ښځه ، سړی او ماشوم په سوله او وقار کې په خوندي ځای کې د ژوند کولو حق لري ، په کوم کې چې دا حق شامل دی ، چې هغوي نه باید په غیر قانوني ، اجباري او تبعیض آمیز ډول له خپلو کورونو ، ځمکو یا ټولنو څخه اخراج شي.

۳. *د دې په درک کولو سره* ، چې اجباري اخراجونه د کډوالو ، کورنیو او ډلو له خپلو کورونو ، ځمکو او ټولنو څخه په اجباري ډول اخراجونه رانغاړي ، که څه هم د جاري قانوني سیستمونو له مخې قانوني کړنه وي یا نه ، خو چې پایله یې په بې کوره کولو او د ژوندانه په نا بسیا شرایطو رامنځ ته کولو تمامه شي.[8]

۴. *د دې په بیا تاییدولو سره* ، چې د هر شخص د ځان او خپلې کورنې لپاره د کافي خوړو ، کالیو او کور په ګډون د ژوندانه د مناسب معیار درلودلو او د ژوندانه د شرایطو د دوامداره بهتره کولو حق لري ، کوم چې د اقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقونو د نړیوال کنوانسیون په ۱۱ ماده کې وضع شوي او افغانستان یې غړیتوب لري.

۵. *د دې حقیقت په یادولو سره* ، چې د اقتصادي ، ټولنېزو او کلتوري حقونو کمیټې په خپله عمومي ۴ (۱۹۹۱) شمیره تبصره کې د کور د حق په اړه څرګنده کړې چې "اجباري اخراجونه په ښکاره ډول د اقتصادي ، ټولنېزو او کلتوري حقونو د نړیوال تړون له موادو سره توافق نه لري ، او یوازې په ډیرو خاصو حالاتو کې تبرئه کیدای شي چې د نړیوال قانون له اړوندو اصولو سره مطابقت ولري."[9]

۶. *د دې په پام کې نیولو سره* ، چې "اجباري اخراجونه" د افرادو د ارادې په خلاف د هغوي کورنیو او/یا ټولنو څخه ، له کورنو او یا ځمکو څخه په جبري ډول ایستل تعریف شوي ، چې دوي نیولی وي ، پرته له دې چې په مناسب ډول د

[8] د بشري حقونو د کمیسیون پریکړه لیک: ۲۸/۲۰۰۴
[9] E/1993/23 دریمه ضمیمه

قانوني يا بلې ساتنې څخه برخمن وي يا هغې ته لاس رسي ولري. خو د اجباري اخراجونې د منع شرايط په هغې اخراجونې د تطبيق وړ نه دی چې له قانون سره سم اجرا کيږي او د بشري حقونو د نړيوالو تړونونو سره سمون ولري[10]

۷. *په دې تکی باندې په ټينګار سره ،* چې د اجباري اخراجونې وروستي سياسي او قانوني مسووليت د حکومت پر غاړه دی.[11]

۸. *د دې په تاييدولو سره ،* چې د اخراجونې د توجيه او تبرئه کولو لپاره بايد د نړيوالو بشري قوانينو حکمونه په دقيق ډول مراعات شوی دي او د معقوليت او تناسب[12] له عمومي اصولو سره سمون ولري او بايد د ساتنې او قانوني مراحل مراعات شي څو اخراجونه په وياړ او انساني ډول ترسره شي.

افغان حکومت د دې ژمنه کړې چې مناسبې ستراتيژي ګانې ، پالسي ګانو او پروګرامونه تصويب کړي ، څو د افرادو ، ډلو او ټولنو له اجباري اخراجونې څخه مخکې ، پرمهال او له هغې وروسته اغيزمنه ساتنه تضمين کړي. د لاندنيو عناصرو په ګډون:

له اخراجونې څخه مخکې:

الف. له داخلي بېځايه شوي کسانو ، بېرته راستنيدونکي کډوالو او له شخړو او/يا طبيعي پېښو څخه اغيزمن شويو او د اجباري اخراجونې له ګواښ سره مخ ملکي وګړو سره په ټولو پروسو کې سلا مشورې ترسره شوي ؛

ب. له دې ملاحظې سره چې د زور د کارونې مخنيوي يا لږ تر لږه هغه کمه کړای شي ، له اغيزمن شويو وګړو سره په سلا مشوره کې ممکنه بديلونه لټول شوي. د اخراجونې د پيل له هرې پريکړې مخکې ، چارواکي بايد دا په ډاګه کړي ، چې له اخراجونې پرته بله چاره نشته او د بشري حقونو له نړيوالو معيارونو سره په توافق کې ده ؛[13]

ج. ټولو اغيزمن شويو وګړو ته د اخراجونې مناسبه او معقوله خبرتيا ورکړل شوې.[14] د راتلونکو مواردو په ګډون د اخراجونې اړوند هر ډول پريکړه بايد په ليکلي ډول اعلان او د دغې پريکړې مفصله توجيه ولري: (الف) د مناسبو بديلونو نشتون ؛ (ب) د وړانديز شويو بديلونو بشپړ تفصيل ؛ او (ج) چيرې چې بديلونه نه وي موجود ، ټول ترسره شوي او پېش بيني شوي اقدامات چې د اخراجونو ناوړه اغيزې راکمې کړي.

د. د اخراجونې ټولې پريکړې بايد تر اداري او قضايي مطالعې تيرې شي. د هغو وګړو لپاره چې د اخراجونې له حکمونو څخه اغيزمن شوي قانوني جبران برابر شوی يا موجود دی ، همدارنګه د هغو وګړو لپاره چې ورته اړتيا لري او له محکمو څخه د جبران په لټه کې دي ، حقوقي مرسه برابره شوې ؛

---

[10] د بشري حقونو د عالي کميشنر دفتر ، د مناسب استوګنځی حق (۱۱. ۱ ماده): اجباري اخراجونې. د اقتصادي ، ټولنيزو او کلتوري حقونو د کميټې ۷ شميره عمومي تبصره ، ۱۹۹۷/۰۵/۲۰ ، دريم پراګراف

[11] د بشري حقونو د عالي کميشنر دفتر ، د اجباري اخراجونو منع کول ، د بشري حقونو د کميسيون پريکړه ليک: ۲۸/۲۰۰۴

[12] A/HRC/13/20 د ژوندانه د مناسب معيار د حق د عنصر په څير د مناسب استوګنځی درلودلو او په دغه ډګر کې د تبعيض نه کولو د حق په اړه د ځانګړی راپور ورکوونکی راپور. راقول رولنيک ، ۱۲ پراګرف

[13] د پرمختيا په اساس اخراجونې او بې ځايه کيدنې په اړه اساسي اصول او لارښونې ، A/HRC/4/18

[14] د ځمکې د تر لاسه کولو د قانون ۲۰ ماده ، ۸۴۹ شميره رسمي جريده ، ۲۰۰۵ کال ، افغانستان

د اخراجونې پر مهال:

الف. د اخراجونې پر مهال حکومتي چارواکي یا د هغوي استازي موجود دي او د هغې له ترسره کولو مخکې ټول هغه وګړی چې اخراجونه ترسره کوي ، په سم ډول تشخیص شوي ؛

ب. اخراجونې نه باید په داسې ډول ترسره شي چې د اغیزمن شویو وګړو وقار او بشري حقونه نقض کړي او د هغوي پر ژوند او امنیت تیری وکړي. دولتونه باید د اخراجونو پر مهال د دې د یقیني کولو لپاره اقدامات ترسره کړي ، چې ښځې د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي او تبعیض سره نه دي مخ او د ماشومانو بشري حقونه هم ساتل شوي.

ج. د زور هره قانوني کارونه باید د اړتیا او تناسب د اصولو درناوی وکړي.

د. اخراجونې نه باید د هوا په ناوړه حالاتو لکه د شپې یا د مذهبي رخصتیو پر مهال او نه هم د ژمي پرمهال ترسره شي.

له اخراجونې وروسته:

الف. اخراجونې د افرادو د بې کوره کیدو یا د بشري حقونو له سرغړونو سره د مخ کیدو لامل نه دي شوي. که چیرې اغیزمن شوي وګړی په دې و نه توانیږي ، حکومت باید د خپلو موجوده منابعو پر بنسټ ټول مناسب اقدامات ترسره کړي ، څو د هغوي لپاره مناسب بدیل استوګنځایونه ، بیا ځای پر ځای کېدنه یا حاصلخیزو ځمکو ته لاس یقیني کړي.[15]

ب. د بیا ځای پر ځای کیدنې ټاکل شوې ساحې باید د بشري حقونو له نړیوال قانون سره سم د مناسب استوګنځي معیار پر ځای کړي. دغه ساحې باید په ککړو یا ککړتیا ته په نږدې ځایونو کې موقعیت و نه لري.

ج. اغیزمن شویو وګړو ، ډلو او ټولنو ته به د اړونده میشتیدونو په تړاو د دولت د ټولو پروژو ، پلانونو او د تطبیق د جریاناتو په اړه د پام وړ معلومات وړاندې شي. باید ځانګړې پاملرنه ترسره شي ، څو دا یقیني کړي چې کوربه/اصلي وګړي ، لږکي ، بې ځمکې افراد ، ښځې او ماشومان په دغې پروسه کې حاضر او شامل شوي ؛[16]

د. حکومت باید د اغیزمن شویو وګړو ، ډلو او ټولنو له خوا وړاندیز شوي ټول بدیل پلانونه په پام کې ونیسي ؛

هـ. ټول هغه وګړو چې د اجباري اخراجونو له ګواښ سره مخ دي په وخت سره جبران ته د لاس رسي حق لري ، لکه عادلانه محاکمه ، حقوقي سلا مشورو ته لاس رسی ، حقوقي مرسته ، بېرته ستنېدنه ، بیا میشتېدنه ، بیا رغونه او جبران ؛

و. له اخراجونې څخه اغیزمن شوي افراد له دغه حق څخه برخمن دي ، چې د هر اغیزمن شوي ملکیت د جبران دعوا وکړي.

عکس چی ددی ټوک په لومړی مخ کی ځای لری د داخلی بیځایه شوی دی چی د آغلی لوری وایزبرګ پواسطه اخیستل شوی دی.

---

[15] د مناسب استوګنځی د درلودلو حق (۱۱. ۱ ماده): اجباري اخراجونې. ۱۹۹۷/۰۵/۲۰. د اقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقونو د کمیټې ۷ شمیره عمومي تبصره. (عمومي تبصرې). د کنوانسیون سرټکي: سی ای ایس سی ار ۷ شمیره عمومي تبصره ، د مناسب استوګنځی د درلودلو حق (د کنوانسیون ۱۱. ۱ ماده): اجباري اخراجونې

[16] د پرمختیا په اساس اخراجونې او بې ځایه کیدنې په اړه اساسي اصول او لارښوونې ، A/HRC/4/18